د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره
د موضوعي څېړونو لړۍ

# پرېکړې، غوښتنې او تنوع:
# په افغانستان کې د ودونو دود



دیبرا. ج . سمیټ

AREU

د ۱۳۸۷ ل کال د سلواغې میاشت

تصحیح:                ماری شیرزاد

د پاڼې طرح:        عبدالوکیل وسیم

د پوښ عکس:       کاي ویګیرچ

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (©۱۳۸۸): ټول حقوق خوندي دي.

د دغه کتاب د کومې برخې تکثیر، د بیا موندلو وړ سیستم کې زېرمه کول یا د هرې الکترونیکي وسیلې یا لارې څخه د هغه خپرول د خپروونکي (د افغانستان د څېړنې او ارزونې ډلې) د لیکل شوې اجازې پرته غیر قانوني دي . د اجازې د ترلاسه کولو لپاره کولای شي په areu@areu.org.af پته یا هم د ۸۵۴ ۶۰۸ ۷۹۹ ۹۳+ ظظ په شمېره اړیکه ونیسئ.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د موضوعي څېړونو لړۍ

# پرېکړې، غوښتنې او تنوع:
# په افغانستان کې د ودونو دود

دیبرا. ج . سمیت

دغه څېړنه د اروپايي کمیسیون په
مالي لګښت تر سره شوې ده.

د ۱۳۸۷ ل کال د سلواغې میاشت

## مننه

د دې راپور ليکل او د هغه لپاره د څېړنو سرته رسول د ګڼ شمېر کسانو د همکارۍ، ژمنتوب او ملاتړ پرته ناشوني وو. د هغو کليو او ښاري سيمو د اوسېدونکو څخه چې پکې څېړنه تر سره شوې ده، د هغې مېلمه پالنې له امله يې چې د څيړنې ډلې ته يې کړې وه ، د کورنيو کيسو او دخپل د ژوندانه د جزياتود څرګندولو په اړه دهغوی د زغم او رښتينولۍ، د نوموړې څېړنې د موخو درک او د هغه څخه د ملاتړ لپاره ددوی د وړتيا او لېوالتيا، او د څېړنيزې ډلې سره د خبرو اترو او د هغوی سره د مرستې لپاره د دوی د ارزښتاک وخت د لګولو له کبله د زړه له کومې مننه کوم. هيله منه يم د هغو کيسو او معلوماتو په بيانولو او شننه کې چې دوی زمونږ د ډلې په واک کې ورکړې دي، ما له عدالت څخه کار اخيستی وي.

دغه څېړنه د څېړنيزې ډلې د غړو چې په ساحه کې يې معلومات راغونډ کړي د هڅو او هاند، سربښندنې او کار ته د لېوالتيا پرته ناشونې وه. د باميانو په ولايت کې علي حسن فهيمې، سکينه سخي،محمدحسن وفايي او زهرا نظامي؛ په هرات کې اصيله شريف صديقي، هما صالحيار ، فقيرالله نيکزاد او عزيزالله رويش؛ په کابل کې سخي فروزش، لينا وحيدي، يما قاسميار او ساغر وفا، او په ننګرهار کې حنيفه ګلميران، عبدالجليل نورستاني، عبدالمنان صديقي او پروانه وفا. د ډلې له غړو څخه چې په ساحه کې د کار له بشپړېدو وروسته يې خپل تحيلي نظرونه وړاندې کړل او تل يې جزياتو ته پاملرنه درلوده، هم مننه کوم.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې او د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کميسيون تر مينځ همکاري د دغې څېړنې د بشپړېدو يو بنسټيز عنصر وو. زه غواړم په ځانګړې توګه په باميانو، هرات او ننګرهار کې د هغه د ساحوي دفترونو د ټولو کارکوونکو څخه زما او زما د همکارانو سره د همکارۍ او ميلمه پالنې له کبله مننه وکړم.

د اورځلا اشرف او ياسمين دامجي مرستې د معلوماتو د راغونډولو په وروستي پړاو کې د معلوماتود بشپړتيا او تفصيل په اړه د ډاډ ورکولو له کبله د ستاينې وړ دي. له ياسمين څخه د کورنيو د نخشو د طرح کولو او کښلو له کبله په ځانګړې ډول مننه کوم. همداراز له ايلين سامرز د هغو ارزښتناکو مرستوڅخه چې د څېړنې د ناخوالو په زغملو کې يې د څېړنيزې ډلې ته يې نه وې سپمولې ستاينه کوم. همدارنګه د هغه بې نومه بياکتونکې څخه چې خپل نظرونه يې پر راپور ور زيات کړي دي، مننه کوم.

او په پای کې غواړم له پاولاکانتور څخه د څېړنې په بهير کې د هغوي د پراخې همکارۍ له کبله مننه او ستاينه وکړم.

ديبرا. ج. سمېټ
د ۱۳۸۷ کال د مرغومې مياشت

## د ليکوال په هکله

د ييرا. ج .سمپټ د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د جنسيت او روغتيا څانګې د څېړنو لوړ پوړې مديره ده. هغې د ۱۳۸۴ کال د سلواغې له مياشتې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې سره دخپل کار د پيل راهيسې د څېړنيزو اسنادو ديوې ټولګې مشري يې کړې چې پکې عرفي قوانين او د ټولنې په کچه د شخړو حل؛ په ولسي جرګه کې د ښځو د ګټو استازيتوب؛ په وزراتونو کې د جنسيت برابرې، د رواني درملو د کارولو ستونزه، او کورنی فشارونه او تاوتريخوالی شامل دي. مخکې يې د لندن د روغتياساتنې او د حاره طب په انستيټيوټ کې يې کارو کاوه چيرې چې نومورې د روغتيايي پاليسۍ څېړنه يې په ملاوي او زامبيا کې په لاره واچوله کار کاوه او يې په بشپړه کړېده. نومورې خپله دکتورا يې د لندن د سياسي علومو او اقتصاد له انستيټيوټ څخه اخيستې چې د هغه د بشپړولو لپاره يې د هندوستان په راجستان کې د جنسيت د برابرۍ پر اړوندو مسايلو ساحوی څېړنه تر سره کړه.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څيرنې او ارزونې اداره (AREU) په کابل کې ميشته يوه نا پيلې څيرنيزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکې څيرنو له لارې پرپاليسۍ او چارومثبتې اغيزې دي. همدا راز نومورې اداره هڅه کوي څو په افغانستان کې د څيرنې او زده کړې کلتور ته د تحليلي ظرفيت د پياوړې کولو او د فکرونو او بحثونو د آسانولو له لارې په فعاله توګه وده ورکړې. ددې ادارې اصلي موخه دڅيرنې له لارې د افغانانو د ژوندانه ښه والی دی.

نومورې اداره په ۱۳۸۱لمريز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندويه ټولنو په مرسته په کار پيل وکړ اود يو مديره هيات درلودونکی دی چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخيزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا يې استازيتوب کيږي. نومورې اداره اوس مهال خپله اصلی بودجه د فنلند، ناروی، سويډن، سويزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. ددې ادارې ځانګړې پروژې د افغانستان د پرانيستې ټولنې د انستيټيوت (FOSIA)، آسيايی بنياد (TAF)، اروپايې کميسيون (EC)، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنري (UNHCR)، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (UNICEF)، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پراختيايي صندوق (UNIFEM)، او نړيوال بانک له خوا يې مالی ملاتړ کيږي.

## منځپانګه


اجرائیوی لنډیز....................................................................................................................ج

اصلي موندنې......................................................................................................................ج

لومړی برخه: تیوري، کړندود او د ځېړنې د سیمې شرایط....................................................................۱

۱.سریزه.........................................................................................................................۱

۲. ځېړندود....................................................................................................................۵

۱,۲ د ځېړونکي او ځواب ویونکي تر مینځ د اړیکي رامنځته کول..........................................................۵

۲,۲ د شننې لپاره په کارول شوی ځېړندود...............................................................................۷

۳. د ځېړنې سیمې.............................................................................................................۹

۲ برخه: د واده په اړه د پرېکړو بهیر..........................................................................................۱۴

۴. جنسیت ، نسل او دریځ – د واده په اړونده پرېکړو کې د ښځو او نارینه وو ونډه.......................................۱۵

۱,۴ د واده په اړوندو پرېکړو کې د ښځو د نفوذ هڅوونکي عوامل.........................................................۱۵

۲,۴ دواده په اړونده پرېکړو کې د ښځو د نفوذ محدودونکي عوامل......................................................۱۷

۳,۴ د واده په اړونده پرېکړو کې د نارینه وو پر نفوذ اغېزمن عوامل......................................................۱۹

۴,۴ پایلې............................................................................................................................۲۰

۵. اړایستنه اوواک ورکونه – دواده په پرېکړو کې داولادونو ونډه........................................................۲۱

۱,۵ په افغانستان کې داجباري واده پیژندنه.............................................................................۲۱

۵,۲ رضایت په پوهه او یا په اړ ایستنه ؟...............................................................................۲۲

۳,۵ هلکان او اجبا ري ودونه..............................................................................................۲۵

۵,۴ شخصي نظرونه- کلتوري نورمونه او بدلون ته چمتو والی.............................................................۲۶

۵,۵. پایلې – د بدلون لپاره فرصت.......................................................................................۳۰

۶- د واده کولو پرېکړه – ویره او بهرني فشارونه ..........................................................................۳۱

۱,۶ د کورنۍ غړې مور او پلار د اولادونو واده کولو ته "اړ" باسي.......................................................۳۱

۶,۲. د جګړو او کډوالۍ پر مهال د بې واده اولاد له درلودلو څخه ویره.................................................۳۲

۳,۶ د اولادونو د واده د ځنډ ویره......................................................................................۳۲

۴,۶ د کور د کارونو لپاره د نګور( ناوې) لرلو ته اړتیا...................................................................۳۳

۳ څپرکی: د واده دودونه.............................................................................................................................۳۵
۷ . د ناوې په وړاندې د لونو بدل، د پیسو په وړاندې د لونو بدل.....................................................................۳۵
۷,۱ د بدل دود – موضوعي څېړنې...................................................................................................................۳۵
۲,۷ د بدل د واده په وړاندې چال چلند او دلیلونه..............................................................................................۳۸
۳,۷ مهر یا ولور.............................................................................................................................................۴۰
۴,۷ پایلې......................................................................................................................................................۴۳
۸ . څوګونې ودونه......................................................................................................................................۴۴
۱,۸ د څو ګونو ودونو دلیلونه – شنډوالی یا عقامت.......................................................................................۴۵
۸,۲ د څو ودونو د کولو دلیلونه- د واده کولو له لارې د کونډې (( ساتنه)).............................................................۴۸
۳,۸ د څو ښځو درلودلو دلیلونه – سرې د یوه بل ډول واده لپاره واده کوي...........................................................۵۰
۴,۸ له یوه ځخه د زیاتوښځو د درلودلو دلیلونه- په لومړي واده کې د ځنډ پیښېدل................................................۵۱
۵,۸ د بنو تر منځ اړیکې.................................................................................................................................۵۲
۶,۸ پایلې.....................................................................................................................................................۵۳
۹- پایلې او وړاندیزونه .................................................................................................................................۵۵
۱,۹ مهمې موندنې..........................................................................................................................................۵۶
۲,۹ مخ ته پرتې لارې.....................................................................................................................................۵۷

# اصطلاحات

| | |
|---|---|
| ییلاق | پسرلنی یا د اوړي استوګنځی او د اصلي کلي څخه بهر څرځایونه |
| امباغ | د میړه دویمه ښځه |
| بد | هغه دود چې پکې نجلۍ مخالفې کورنۍ ته د زیان د جبران په موخه واده کوي تر څو یوه شخړه حل شي. |
| بدل | هغه دود چې پکې دوې کورنۍ خپلې لوڼې یو بل ته واده کوي |
| بُته | هغه بوټي چې په پخلي کې کارېږي یا هم د تودولو لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي |
| بړستن | بړستن |
| چوپان | شپون |
| دایه | دودیزه زېږون ورکونکې |
| دسترخوان | هغه توکر چې د ډوډۍ خوړلو لپاره په ځمکه غوړول کېږي |
| جریب | د ځمکې د اندازه کولو واحد؛ یو جریب کابو د یوه هکټار له پنځمې برخې سره انډول دی |
| کافر | نامسلمان |
| خانه داماد | هغه ځوک چې د خپلې ښځې د پلار په کور کې اوسېږي |
| خواستګاري | د نجلۍ لپاره مرکه |
| ملك | د خلکو مشر( په کلیوکې) |
| مرده ګاو | هغه سړی چې ښځې د زنا لپاره سودا کوي |
| مفتي | دیني عالم، فتوا ورکوونکی |
| ننګ | شرم |
| ناسکه | هغه ورونه او خویندې چې یواځې له پلار  یا مورڅخه  او یا له نا سکه پلرونو او میندو څخه شریک وي؛ لکه "ناسکه مور" |
| نکاح | د واده تړون چې د ملا او د واده د اصلي لورې لخوا لوستل کېږي  او په دې توګه د هلک او نجلۍ واده تاییدوي. |
| قوم | د خپلوانو یوه ډله چې کېدای شي پراخه لړۍ وي، او زیاتره د ټبر یا قبیلې لپاره کارول کېږي |
| ولسوالي | ولسوالي؛ معمولا د یوې ولسوالۍ مرکزي ښار ته ویل کېږي |
| ولسي جرګه | د افغانستان د پارلمان ولسي جرګه |

## لنډيزونه

| | |
|---|---|
| AIHRC | د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون |
| AREU | د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره |
| NGO | نادولتي سازمان |

## اجرائیوی لنډیز

پرېکړې، غوښتنې او تنوع د هغو رپوټونو یو ه لړۍ ده چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري لخوا په افغانستان کې د کورنیو فشارونو اوکورنې تاوتریخوالې د څېړلو په موخه چمتوشوی دي. دغه رپوټ هغه بیلابیلې لارې را سپړي چې د هغوي په وسیله افغان کورنیو کې د واده په اړه پریکړه کېږي او عملي بڼه غوره کوي. د څېړنې په بهیر کې ځواب ویونکو په بیا بیا د واده او د هغه د دودونوپه اړه پر پریکړوکولو یې خبرې کولې، او دا له دې کبله چې د واده د دودونو موضوع د کورنیو فشارونو د شننې د یوه ارزښتناک اړخ په توګه رامنځ ته شو. په حقیقت کې د واده دود دسیمې، قوم، ډلې د په پام کې نیولو پرته د افغانانو په ټولنیز ژوندانه کې خورا ارزښتناک دی.

د دغې څېړنې معلومات چې کیفي بڼه لري د ۱۳۸۵ کال د غبرګولې او سلواغې د میاشتو تر منځ مهال کې د افغانستان د څلورو ولایتونو له ښاري او کلیوالو سیمو څخه تر لاسه شوي دي: بامیان، هرات، کابل او ننګرهار. چې دا ددې لامل شو څو رپوټ په درېو برخو وویشل شي: لومړۍ برخه مفهومي، د څېړنې کړندود او د تر څېړنې لاندې سیمې شرایط وړاندې کوي. دویمه برخه د اولاد د واده په اړه د کورنۍ د پرېکړې کولو بهیر تر بحث لاندې نیسي. او دریمه برخه د واده له عامو دودونو لکه بدل، ولور (طویانه) او د څو ودونو څخه بحث کوي.

## دغه رپوټ د لاندې موخو یا کسانو لپاره د کارولو وړ دی:

- هغه کسان چې د واده د دودونو او د جنسیت د موضوعاتو په اړه د ملاتړ یا د عامه پوهاوي د لوړولو په کمپاینونو کې ښکیل دي؛
- هغه سازمانونه یا وګړې چې په افغاني کورنیو کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په موخه کار کوي؛
- هغه کسان چې څخه کوي د ټولنیزي یا اقتصادي پرمختیا په هر ډول پروژو کې برخه واخلي نو د افغان کورنیوفشارونو او په افغاني ټولنه کې د ودونو د تر سره کېدو د څرنګوالي په اړه د معلوماتو تر لاسه کولو ته اړتیا لري؛ او
- هغه لوستونکي چې غواړي په افغانستان کې د کورنیو ستونزو او ودونو په اړه ژوره پوهه ولري.

## اصلي موندنې

د دغې څېړنې موندنې په افغانستان کې د ودونوپه اړه د پرېکړو او د هغه د واده د دودونو د شیړو مهمو برخو په اړه بحث کوي:

- د واده په اړه د پرېکړې کولو د بیلابیل بهیر د کاروني او د واده دود د څرنګوالي په اړه؛
- د واده د شوو پرېکړو په اړه د انتخاب او فشارونو درجه؛
- د واده او دواده پر پرېکړو د کلتوري معیارونو دمنلو اغیزې؛
- د شخصي غوښتنو او د کلتوري معیاراتو د تعبیر تر مینځ توپیر؛
- د کورنې تاوتریخوالې او د واده د ځانګړو دودونو تر مینځ ړیکې؛ او
- د واده د پرېکړې کولو دبهیر او د واده د ځینو خاصو دودونو د ناوړه پایلو په اړه د ځایي ټولنو پوهاوی

## په کورنۍ کې تاوتریخوالی او د واده ددودونو په اړه پرېکړه کول

د پرېکړې کولو بهیر چې پایله یې واده اود واده یو ځانګړی دود دی، کولای شي چې په راتلونکې کې د مېړه یا د کورنۍ د نورو غړو تر منځ د تاوتریخوالي لپاره لاره هواره کړي. د بېلګې په توګه څېړنې ښودوه چې هغه هلکان او سړي چې واده ته د زور له امله غاړه ږدي، خپل ماته د خپلې ښځې په وړاندې د تاوتریخوالي یا د بیا واده کولو له لارې څرګندوي.

## د واده په اړه د پرېکړې کولوپه څرنګوالي کې توپیرونه

د واده په اړه د پرېکړې کولو دکړندودونو تر منځ له یوې کورنۍ نه تر بلې آن د یوې کورنۍ د زوی او لور د ودونو تر مینځ ګڼ شمېر توپیرونه موندل شول. ګڼ شمیر کورني او بهرني عوامل د پرېکړو پر څرنګوالي او د هغه پر پایلو اغېزه لري. لکه: په کورنۍ او ټولنه کې د جنسیت او نسلونوغښتلتیا؛ د کورنۍ د هر غړي تجربې او ځانګړتیاوې؛ د پرېکړې کولو پر مهال د کورنۍ جوړښت؛ او خپور سیاسي او اقتصادي وضعیت. د واده پر پرېکړو دښځو د اغېزې کچه د ژوندپه اوږدو کې توپیر کوي چې د هغوي نسبي درېځ او د کورنۍ په جوړښت پورې اړوند دی. د بېلګې په توګه لکه څرنګه چې وموندل شول، کونډې او سپین سرې ښځې کولای شي په کورنۍ کې د واده په پرېکړو کې مهمه ونده اواغیزه ولري. هغه وګړې چې د ورته ځانګړتیاوو لرونکې دي، کولای شي د واده د پرېکړې کولو د سم کړندود په اړه په بسیره توګه بیل نظرونه ولري.

### مخ ته پرتې لارې

د کورنۍ د اساسي ځانګړتیاوو پر بنسټ لکه د اوسیدو ځای (ښار یا کلي)، زده کړې او د ببوزلۍ کچې، دهغه څه په اړه چې په کورنیو کې د واده د ځانګړو پرېکړو لامل کېږي، تعمیم وکړو؛ ځکه د هغه عوامل له حده زیات توپیر لرونکې دي.

د واده د دودونو د څېړنې لپاره باید راپورونه، پالیسۍ او پروګرامونه ښځې له یو بل څخه توپیر کړي او په کورنۍ کې د هرې ښځې موقعیت

تشخیص کړي. ارزښتناکه ده چي دغه باور چي افغاني ښځې بېوزلې، کونډې او زیان منونکي دي، بدلون وکړي او دا چي افغان نارینه هم په ژوروه یوه غیر متجانسه ډله جوړوي، ومنل شي.

## د واده په پرېکړو کې زور او انتخاب

د واده په اړه پرېکړو او دود د اړوندو معلوماتو په شننه کې د واک او فشار موضوع خورا ځرګنده وه. دغه رپوټ استدلال کوي چي ددې تصور چي ودونه جبري دي او که په خپله خوښه، په حقیقت کې د واده په اړه د پرېکړې کولو د کړندود خورا ساده کوي. په بدل کې داسې نظرشته چي د ګډ ژوند پیل کول د یو لړ فشارونو او انتخابونو لامل کیږي. پداسې حال کې چي ځیني ودونه د نوموړي لړۍ په یوه او یا بله برخه کې راځي، مګر زیاتره یې د زور او انتخاب دواړو ځانګړي عناصر دي.

د یو کس عمر د واده په اړه په خپلواکه توګه د رضایت ښودلو لپاره یو مهم ټاکونکی لامل دی، همدارنګه مهمه ده چي یوکس د واده یا کوژدې په وخت کې ځومره عمر لري او د واده کولو په وخت کې ځومره عمر لري او همدا راز چي د واده کولو په وخت کې باید حقیقي عمر ته پاملرنه وشي.

ددغه ټکي درک ارزښتناک دی چي یوازې نجوني واده ته نه اړ ایستل کیږي؛ بلکه هلکان، سړي او ښځې هم د دغه ستونزې سره مخ کیږي. همدارنګه یوازې ښځې نه دي چي د جنسیت په اړه د خپرو نورمونو له کبله او دا چي ځرنګه دوديزې پرېکړې پر دوی تپل کیږي، کړیږي؛ سړي هم لدې امله له ستونزو سره مخ دي. هغه سړي چي د خپل عمر په یوه وخت کې چي ددوی یې نه غواړي او یا د هغه چا سره چي ددوی په خوښه نه وي واده ته اړ ایستل کیږي، چي کیدای شي پایله یې یو خراب، غمځپلي او ناکامه واده وي. دا ښځو پر کړاوونو د سترګو پټولو په مانا نده، ځکه کېداي شي پداسې حالاتو کې ښځې د مېړونو د تاوتریخوالي قربانیانې هم وي.

### مخ ته پرتي لارې

په جدي توګه وړاندیز کیږي چي هغه سازمانونه چي په کورنیو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په برخه کې کار کوي، په هماغه ډول چي د ښځو سره نږدې همکاري لري باید هڅه وکړي چي د هرې ممکنې لارې څخه د نارینه وو سره هم له نږدې نه کار وکړي.

په هماغه اندازه چي د واده په وخت کې د ماشومانو حقیقي عمر په پام کې نیول کیږي باید د واده د پرېکړې په وخت کې هم د ماشومانو عمر ته پاملرنه وشي.

## د شخصي غوښتنو او نظرونو په وړاندې کلتوري نورمونه

د فرهنګي تمو او نورمونو مراعاتول خلک د داسې ودونو په لور کاږي چي پوهېږي په راتلونکي کې به دوی له ستونزو سره مخامخ کړي، که څه هم چي د جنسیتي چال چلند لپاره کلتوري نورمونه او تمې ثابتې نه دي او تر پوښتني لاندې راځي، دغه رپوټ ځرګندوي چي شخصي غوښتني او نظرونه په کومه کچه دخپرو کلتوري معیارونو او دودونو په وړاندې داعتبارړ دي. دښځو او نارینه وو شخصي نظرونه– په پراخه کچه د هغو معیارونو او د هغې ټولني د کلتوري تمو په وړاندې چي پکې ژوند کوي، رغنده او مساوات غوښتونکي دي. د کلتوري معیارونو او شخصي غوښتنو تر منځ دغه توپیر ځرګندوي چي د وګړو او ټولنو له خوا منل شوي دودونه د بحث وړ دي او دا چي لړ تر لږه د دغو سیمه بیزو ټولنو د ځینو غړو تر منځ د بدلون رامنځته کولو لپاره چمتووالی شته.

## د واده د ځینو پرېکړو د ناوړه پایلو په اړه خبرتیا

د کلتوري معیارونو شخصي غوښتنو تر منځ د توپیر اصلي دلیل د پرېکړې کولو له بهیر او د ټاکلي واده ددود څخه د لیرې پاتې کیدو د ناوړه پایلو په اړه یوه خبرتیاده. زیاتره خلک په هغو سیمو کې چي څېړنه تر سره شوې ده، د واده د ځینو دودونو لکه بدل، د لوړ ولور او خو ودونو د ناوړه پایلو په اړه پوهېدل. د خلکو یوه زیاته برخه پدې پوهېدل چي د دوی ګڼ شمېر کلتوري دودونه لکه د واده په اړه په پرېکړه کې د هلک یا نجلۍ نه شریکول، خو ودونه او د ناوړې ولور (طویانه) د اسلامي اصولو سره په ټکر کې دي. که څه هم چي دا په ډاګه شوه چي دغه موضوع په اړه پوهاوی او بحث لپاره چمتووالی شته، د دغه شان خپرودودونو لپاره بدیل او د ولور د راکړې ورکړې دناوړه دود د له مینځه وړلو لپاره کړنلاره په ندرت سره وړاندې کیږي یا عمل پرې کیږي.

### مخ ته پرتي لارې

د خبرتیا د کمپاینونو تمرکز باید پر هغو معلوماتو نه وي چي خپله خلک له وړاندې نه پرې پوهیږي، بلکه هغو محدودیتونو ته په پام سره چي بیلابیلې کورنۍ او وګړي ورسره مخامخ دي دوی ته بدیل کړنلارې وړاندې شي چي کیداې شي له هغو لارې د ودونو په اړه پرېکړې وشي او عملي شي. هغه سازمانونه چي د واده له ناوړه دودونو او په کورنۍ کې د تاوتریخوالي په وړاندې مبارزه کوي، باید د سیمه ایزو ټولنو سره د اړیکوله لارې داسې لارې چارې چي د اقتصادي او عملي اړخه د واده د تر سره کولو لپاره د منلو وړ وي اود نارینه او ښځو لپاره د رواني او جسمي زیانونو ګواښ را ټیټ کړي.

لکه ځرنګه چي د بامیانو د ښار دیوه سپین ږیري وینا ځخه ځرګندیږي

چې بدلون يوازې د ټولنو له خوا رامينځ ته کېدای شي:

ځينې دودونه او دستورونه ټولنه له ګواښ سره مخ کوي. اجباري واده د اسلامي قوانينو سره په ټکر کې دی او بايد له منځه ولاړ شي. خلک بايد خپله د دغه ناقانونه دود په وړاندې تبليغ وکړي. هغه تبليغ چې د بشر د حقونو د کميسيون او د کرزي لخوا کېږي پر دوي کومه اغېزه نلري او بسنه نه کوي.

لکه څرنګه چې دغه څېړنه ښيي، خلک دې ته چمتو دي تر څو د واده په اړه د پرېکړې کولو د څرنګوالي او د واده د ځينو ناوړه دودونو دپايلو په اړه بحث وکړي. هغه سازمانونه چې پدې برخه کې کار کوي بايد د مختلف عمر لرونکو ښځو او نارينه وو ته پدې اړه د خبرې کولو لپاره لاره هواره کړي او ټولنو ته فرصت ورکړي چې خپله د واده د پرېکړې کولولپاره داسې يوسيستم رامينځ ته کړي چې د دوی د شخصي غوښتنو او نظرياتو سره سمون ولري. چې دا به د کلتوري معيارونواو ټولنيزو تمو لپاره بديلونه را مينځ ته کړي چې دهمدې معيارونه له امله زيات شمېر خلک سره له دې چې پوهيږي چې دا به په راتلونکې کې ستونزې زيږونکې وي ودونو ته اړ ايستلي دي.

په هغو ټولنو کې چې څېړنه تر سره شوېده ځينې ګټور بدلونونه ليدل کېږي چې د لږ څه سياسي ثبات پايله ده چې هغوی د وروستيوکلونو په بهير کې يې تجربه کړی دی. چې په افغانستان کې دغه حالت د ژوندانه په بيلابيلو اړخونو کې ليدل کيږي، د نوموړو بدلونونو د جاری ساتلو لپاره ښايي تر ټولو غوره لاره د سياسي او اقتصادي خونديتوب وده وي څو په راتلونکې کې د کورنيو د سوکالی او خونديتوب په موخه ټولنې د واده په دودونو کې بدلونونو ته لاره پرانيزي.

# لومړۍ برخه: تیوري، کړندود او د څېړنې د سیمې شرایط

## ۱. سریزه

په ۱۳۸۵ کال کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د اروپا د کمیسیون په مالي مرسته یوه پراخه څېړنیزه پروژه یې په لاره واچوله تر څو په کورنۍ کې د بدلون په حال فشارونه تر څېړنې لاندې ونیسي او په ځانګړې توګه د کورني جوړښت، جنسیت او په کورني تاوتریخوالي کې د نسلونود ونډې او اغېزې پر څرنګوالي باندې تمرکز وکړي. د جنسیت او نسلونو تر منځ د اړیکو درک نه یوازې د کورني تاوتریخوالي د څرګندولو لپاره د ځانګړې ارزښت لرونکی دی، بلکه په پراخو برخو کې لکه حکومت داري، روغتیا، معیشت او زده کړه کې د پالیسیو او پروګرامونو په طرح او پلي کولو کې د خورا ارزښت لرونکی دی.

د څېړنې دغه پروژه د کورني تاوتریخوالي د لاملونو سره په درېو برخو کې اړیکه لري. لمړی، د تاوتریخوالي اصلي لاملونه چې پکې د نارینه او ښځې تر مینځ د ځواک د اړیکو نا انډولي او په ټاکلي ټولنه کې د نارینه توب او ښځې توب جوړښت په پام کې نیسي. دویم، دا د تاوتریخوالي رازېږوونکي عوامل پلټي چې ښایي پکې هغه پېښې او کړنې شاملې وي چې د تاوتریخوالي مرتکب کس د روحي فشار او ناهیلۍ لامل شي. درېیم په یوه ټاکلې ټولنه کې هغه کلتوري معیارونه او دودونه تر څېړنې لاندې نیسي چې په کورنیو کې تاوتریخوالی پیاوړی کوي. پدې حال کې چې د تاوتریخوالي د لاملونو دغه بېلابېل اړخونه له یو بل سره نږدې اړیکې لري، چې د شننې په موخه په بېلابېلو کټګوریو کې د دوی وېشل خوراګټور دي.

دغه رپوټ په داسې حال کې چې د واده په اړه پر پرېکړو او د واده پر دودونو بحث کوي، په اصل کې له درېیم لامل په اړه دی: هغه کلتوري معیارونه او دودونه چې د کورني تاوتریخوالي د پیاوړي کېدو لامل کېږي. همدا راز لومړي ټکي ( د تاوتریخوالي اصلي لاملونه)، او دویم ټکي ( د ځانګړي تاوتریخوالي رازېږوونکي لاملونه) ته هم اشاره کوي. د واده په اړه د پرېکړو پر څرنګوالي ځغلنده کتنه مونږ ته په کورنیو کې د جنسیتونو او نسلونو تر منځ د اړیکو په اړه په پراخه کچه مالومات راکوي.

د واده دود د افغانانو په ټولنیز ژوند کې ، د سیمې یا ټبر دپه پام کې نیولو پرته، خورا ارزښت لري. واده هم د مثل د تولید او هم د ټولنیزو ځانګړتیاوو د ساتنې لپاره خورا ارزښتناک دی. د کورنۍ پت او ورپسې د کورنۍ درېځ د واده د دودله لارې ساتل کېږي، او همدارنګه د ښځو او نارینه وو د جنسي غوښتنو په کنټرولولو کې هم ونډه لري. پداسې حال کې چې "نکاح پاڼه د ښځې او مېړه تر مینځ رسمي توافق بلل کېږي... او طبعاً د ښځو او نارینه وو په ګډون ګڼ شمېر نور کسان هم د واده په جوړښت کې شریک وي او پایلو ته یې لیواله وي"[1].

واده هغه تړون دی چې د دوو کورنیو تر منځ ترخبرو اترو وروسته ټینګېږي، او یا د خپلوانو تر مینځ واده یعني د ورته کورنۍ د غړو تر مینځ واده. لکه څرنګه چې پدې رپوټ کې څرګندېږي، د واده پرېکړې او دودونه یواځې د غوښتنو او ارمانونو پایله نده بلکه همدارنګه پر اقتصادي او ټولنیزو ستراتېژیو او اړتیاوو هم ولاړې دي.

کورنۍ اکثراً یو خصوصي چاپېریال په توګه ګڼل کېږي که څه هم چې دغه باور د شخصي او عامه ژوند د ناسم تفکیک څخه راپورته شوی دی. په حقیقت کې کورنۍ ژوند نه یواځې له ټولنېزو تحرکاتو سره چې په عامه چاپېریال کې تر پایه ادامه لري، تړل شوی خو دا په همدې توګه له دولتي مقرراتو څخه هم ډیر لرېخپلواک دی. واده د کورني ژوند د اړخونو څخه یو دی که څه هم چې په افغانستان کې پر ودونو د مقرراتو د ربنتیني اغېزې اندازه خوراکمه ده خو دولتونه هڅه کوي هغه لپاره قوانین او مقررات وضع کړي؛ په هغو شرایطو کې چې یو کمزوری دولت په ځایي کچه له پیاوړو کلتوري دودونو سره مخ کېږي، د دولت مقررات په تر ټولو ښه حالت کې د کورنیود جوړښت په څرنګوالي یواځې لږه اغېزه درلودلای شي. د دغې وروستۍ څېړنیزې پروژې په بهیر کې چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له خوا په سیمه ییزو ټولنو کې د شخړو د حل کولو په اړه پلې شوه، ویې موندل چې د واده د دودونو او خبرو اترو اړوندې شخړې ډیر ځلې د ټولنېزو ادارو له لارې حلېږي. داسې باید ونه ویل شي چې د دولت له خوا وضع شوې مقررات د واده د زیان اړوونکو دودونو په وړاندې د مبارزې لپاره یوه ارزښتناکه او یا ښایي یوه اساسي لرونکې چاره نه ده. هغه حقوقي اصلاحات چې د جنسیت د انډول په پام کې نیولو سره تر سره کېږي، کېداي شي په پراخه کچه د ټولنیز ژوند په اړخونو کې د بدلون د کچې ټاکونکی او همدارنګه د دغو بدلونونو لپاره یوه سریزه وي[2]. دغه ټکی هم باید په یاد وساتل شي چې په داسې حال کې چې په افغانستان کې د دولت لاس رسي کمزوری ده، د افغاني ټولنې په اړیکو کې اسلام د خلکو د ژوندانه د څرنګوالي او د قانون د تفسیر په اړه د اصلي رابط په توګه ونډه ترسره کوي[3].

[1] ان. تپربارترد برایېز: د افغانستان په قبایلو کې سیاست، جنسیت او واده کول ( کمبریج: د کمبریج د پوهنتون خپرونې، ۱۳۷۱)

[2] د بېلګې په توګه د ۱۳۸۵ کال د کب په میاشت کې، د افغانستان سترې محکمې د واده نوري رسمي تړون تصویب کړ چې د مدیکا مندیال د ښځو د حقوقو د مدافعو سازمانونو لخوا وړاندیز شوی تر څو (( د واده وروسته د ښځو د موقف د پیاوړتیا لپاره یوه غښتلې وسیله)) وي. ( د IRIN شننې، د ۱۳۸٦ د مارچ ۱٤ http://www.irinnews.org/report.aspx?reportid=70684)

[3] دغه ټکی په ګډو اسلامي نظرونو چې هم په قانون او هم په ځایي ټولنو کې موندل کېږي، ښکاره دی.

## د رپوټ جوړښت

دغه رپوټ د استوګنې د هغو اتو سيمه ييزو ټولنو د غړو پر ليدلورو، نظريو او تجربو چې پکې څېړنه ترسره شوې، تمرکز کوي. په هره برخه کې د کورنيو پيښو يوه ځانګړې څېړنه او کوچنۍ بېلګې دي ترڅو د واده په اړه د پرېکړې کولو بهير وښيي يا هم د واده د په کاريدونکې دودونه وارزوي.

په لومړي باب کې دغه سريزه او ۲ او ۳ څپرکي شامل دي. دغه برخه د څېړنې دشرايطو په اړه بحث کوي، هغه سيمې چې ترې معلومات راغونډ شوي تشريح کوي او د څېړنې کړندود رابرسيره کوي. د څېړنې د کړندود په اړه ځينې معلومات د موندنو د درک او ددې په اړه چې ولې ځينې معلومات لکه احصائيوي معلومات موجود نه دي ، خورا ارزښت لري.

د رپوټ په دويم باب کې ٤، ٥ او ٦ څپرکي راځي او د هغو پرېکړو پر بهير چې پايله يې واده دی، ځغلنده کتنه کوي. پدې باب کې له بېلګوڅخه په ګټې اخيستنې، ښودل کيږي چې د واده په اړه د پرېکړې په کولو کې دپام وړ تنوع ځرګندوي. همدارنګه پدې باب کې هغه حقيقت ځرګنديږي چې وګړې تل د يو ښکاره او په آسانۍ د ليدو وړ بهير له لارې ، پر پرېکړو اغيزه نه لري، بلکه ځينې وختونه له ناځرګندو او پيچلو لارو څخه ګټه اخلي.

څلورمه برخه په هغو لاروچارو تمرکز کوي چې د هغوي څخه په ګټې اخيستنې ځرنګه د کورنۍ هغه غړې چې د واده پرېکړه د دوی په اړه نه وي، په دې پرېکړه نفوذ کوي. پدې برخه کې ښودل کيږي چې ځرنګه نه يوازې جنسيت او نسل د واده په اړه پرېکړه کې د يو وګړې د ونډې او واک د ټاکلوځرګندونه کوي، بلکه همدا راز د کورنۍ جوړښت او د کورنۍ د غړو فردي ځانګړتياوې هم ځرګندوي. د بېلګې په توګه ځينې ښځې د دوی د جنسيت له کبله د پرېکړې کولو څخه منع کيږي، پداسې حال کې چې ځينې نورې د مور يا د انا په توګه يا هم د خپل ځانګړې خپلواک وضعيت يا د کورنۍ د ځانګړې جوړښت له کبله په کورنۍ کې د خپلې ونډې له کبله په پرېکړو کې برخه لري يا هم اصلي پرېکړې کونکې وي.

په پنځمه برخه کې د هغه اولادونو د رول او نفوذ په اړه بحث کيږي چې واده يې کيږي او ددوی د واده په هکله د پريکړې کولو بهير تر سره کيږي. دا د اجباري واده نظريه راسپړي او ځرګندوي چې د واده په اړه ډېر شمېر پرېکړې هم جبري او هم اختياري اړخونه لري: پدې مانا چې د واده د پرېکړو په لړۍ کې جبر او واک ورکول دواړه موجود دي. سر بيره پردې دا يوازې نجونې نه دي چې واده ته اړ ايستل کيږي، بلکه هلکان هم له داسې برخليک سره مخ کيږي او دغه موضوع کولای شي هم د مېړه او هم د هغه د کورنۍ لپاره په راتلونکې کې ناوړه پايلې ولري. پدې برخه کې د مباحثې په ترڅ کې د شخصي غوښتنو او نظريو او منل شويو کلتوري نورمونو تر منځ توپير راڅرګنديږي. دا ددې لپاره چې ځرګنده کړي چې د ورته شاليد وګړې ځرنګه کولای شي چې په خپله ټولنه کې د سلوک په اړه د اوسنيو نورمونه په هکله خپلې بيلابيلې نظريې ځرګندې کړي بيلګې وړاندې کوي. پداسې حال کې چې ټول کلتورونه د يودايمي بدلون په حال کې دي، پدې برخه کې دغه استدلال هم کيږي چې تر څېړنې لاندې ټولنو کې د شخصي نظرونو او کلتوري نورمونو تر منځ توپير هم وموندل شو او دايې ځرګنده کړه چې د واده د زيان اړوونکو او محروومونکو پرېکړو د بهير څخه د ليرې کيدو لپاره ظرفيت او ليوالتيا موجوده ده.

شپږمه برخه پدې اړه بحث کوي چې ولې کورنۍ هغه ودونو ته غاړه ږدي چې داولادونو لپاره يې لږ آيډيال دي، د بېلګې په توګه خپل اولاد په ډېر کم عمر کې واده کوي، د پرېکړې د راتلونکې په اړه زيات غور نه کوي او دا چې ولې له اولاد سره د هغه د راتلونکې ژوند د ملګري په اړه سلا نه کوي. پدې برخه کې وينو چې وېره، د دغه شان کړنو تر ټولو لوی لامل دی؛ له دې څخه وېره چې که چېرې يې اولاد واده نه وي کړی نو د جګړو او ناامنيو په بهير کې به پرې څه راځي؛ له دې څخه وېره چې بيا به دا شان ښه رويبار پيدا نشي؛ يا هم له دې څخه وېره چې پلار او مور کېداې شي خپل ژوند له لاسه ورکړي او د خپل اولاد واده او لمسي ونشي ليدای.

دريم باب په افغانستان کې د ودونو ځينې خپاره دودونه تشريح کوي، د بېلګې په توګه بدل، ولور او څو ودونه.

په اوومه برخه کې په دې ټکي بحث کيږي چې که هرڅو هم بدل او ولور په افغانستان کې د واده خپاره دودونه دي، مګر د خلکو ( سړي او ښځې، ځوان او سپين ږيري، لوستي او نالوستي) په آند د ناوړه دودونو په توګه پيژندل شوې دي. په ځانګړي توګه بدل په بيا بيا ددې څېړنې د مرکه کېدونکو له خوا تر نيوکې لاندې راغلی دی او د دوی په وينا دغه دود د هغو دوو ښځو په وړاندې د تاوتريخوالې او ناوړه چلندموده لا اوږدوي چې له يو بل سره بدل شوې دي. ولور چې يو خپور دود دی هم د مېړونو په کور کې د ښځو د زيانمن کېدو او د هغوی په وړاندې د ناوړه چلند لامل وګڼل شو. په اتمه برخه کې له يوه څخه د زياتو ودونو موضوع څېړل شوې او ښيي چې زيات شمېر خلک هغه سړی چې له يوې څخه زياتې ښځې لري، د يو ستونزه زيږونکې عمل په توګه ګڼي. په کارول شويو بېلګو کې ښودل شوې چې هم سړي او هم ښځې د ټولنيزو نورمونو او تمه کېدونکې چلند له کبله پر دواړو او د دوی د کورنۍ پر نورو غړو د واده د ناوړه پايلو له پوهېدو سره سره له يوه څخه زياتو ودونو ته اړ ايستل کيږي.

## د کورنۍ په هکله پوهه

د ودونو د تر سره کيدو په ځرنګوالې کې د بدلون د راوستلو لپاره، بايد د پام وړ ټولنه کې د جنسيت په اړوندو اړيکو او نورمونو کې بدلون

رامنځته شي، چې دا کار په ګڼ شمېر ادارو کې د بدلون غوښتونکې دی. په واده کې د ښځو قانوني حالت یو له دغو بنسټیزو مسایلو څخه دی، که څه هم " ښایي چې تر تر ټولو پېچلی او اریانونکی بدلون په خپله په کورنۍ کې رامنځته شي"[٤] . او په دې توګه د واده د خبرو اترو او د هغه د اړونده دودونو او دا چې بدلون په کومه برخه کې شونی دی، د درک لپاره د کورنیو تحرکاتو پراخ پوهاوی خورا ارزښت لري.

ګڼ شمېر لیکنې چې د جنسیت په تحرکاتو پورې اړوند دي ، کورنۍ د شننې د واحد په توګه په کاروي. کورنۍ د خلکو هغې ډلې ته ویل کېږي چې د ځانګړو مقصدونو له کبله یو ځاي ژوند کوي؛ پدې مقصدونو کې ښایي لګښت، د مثل تولید، معاشرت کول، تولید یا پانګونه وي[٥]. که څه هم چې کورنۍ د بیولوژیکي ، منل شوو اود واده پربنسټ اړیکو ولاړه ده، پدې مانا چې یوه کورنۍ (family)[٦] کېداي شي د یوې کورنۍ(خانوار یا household) په پرتله د څېړنې لپاره لوی واحد وي. له دې کبله پدې څېړنه کې پر کورنۍ د تمرکز سره د کورنۍ د غړو تر مینځ پر اړیکو هم غږېږي کوم چې ښایي له یو بل سره په یوه کورنۍ(خانوار)، ځای ، کلي یا په عین ولایت کې ژوند و نه کړي: د کورنۍ هغه غړې چې یو ځای ژوند هم نه کوي ښایي د یوبل پر ژوندانه اغیزې ولري. دا پدې مانا نده چې د (خانوار) جوړښت چې د یوې کورنۍ جوړښت رامینځ ته کوي زمونږ د شننې مهم لامل نه ګڼل کېږي. که څه هم د کورنۍ(خانوار) ټول جوړښتونه د وخت په تېرېدو سره بدلون مومي، مګر په ځانګړې توګه په افغانستان کې د کورنۍ (خانوار) جوړښت د کار د موندلو یا له جګړې څخه د تیښتې له کبله د کورنیو او بهرنیو کډوالیو له کبله خورا بې ثباته دی. د بېلګې په توګه په اتمه برخه کې داسې بېلګې راوړل شوې دي چې په هغه کې سړي، خپلې د ورینداړې سره چې د جنګ جګړو له کبله کونډې شوې دي، واده کړی دی او همدارنګه په شپږمه برخه کې جګړه او کډوالي له وخت څخه د وړاندې ودونو د هڅوونکې لامل په توګه ښودل شوی دی، هغه ودونه چې کېداي شي د دغو شرایطو څخه پرته ډېر وروسته وشي. د خانوار د اړیکو سم درک کیدای شي د کورنیو د څېړنې په وخت کې وکاروو، چې په حقیقت کې په دې څېړنه کې دهغو راغونډ شوو معلوماتو لپاره یې یو ارزښتناکه مفهومي شالید برابر کړی دی. په لویدیځو اکاډمیکو ادبیاتو کې د خانوار د اړیکو د درک لپاره یو پخوانی کړندود، یو واحد کړندود یا هم (( د خانوار نوی

[٤] جيٰ. سن، اي. جرمین والي. سي. چن، د نفوذ په پالیسی بیاکتنه: روغتیا، پیاوړي کول او حقوق ( بستون، د هاروارډ پوهنتون ( د نفوس او پراختیا د څېړنو مرکز، هاروارد، ۱۹۹٤ کال)

[٥] اس. چنت، په مکزیکي ښارونو کې ښځې او پایښت؛ جنسیت ، کار او کم عاید لرونکو کورنیو باندې کتنه ( منچستر؛ د منچستر د پوهنتون خپرون، ۱۹۹۱) ، بي، اګروال،(( د جنسیتونو معامله او اړیکې: په کورنیو کې او له هغه څخه پراخه))، فیمینیسټ اکانیمکس ۳، د ۱۹۹۷ کال لومړی ګڼه: ۱-٥۱

[٦] د ژباړن یاددښت: پدې متن کې د کورنۍ موخه خپلوان دي.

اقتصاد)) کړندود ؤ، چې د لومړي ځل لپاره د بیکر[٧] له خوا وکارول شو. پدې کړندود کې خانورا له یو بل سره د همکار په توګه ګڼل کېږي چې په کې (( فردي ګټې د هېڅ ډول توپیر پرته د کورنۍ ګټې ګڼل کېږي))[٨]. د دغه شان فردي ګټو، غوره توبونو، ذوقونو او غوښتنو یو ځاي کېدل د ګډې برخمنتیا او په پایله کې د کورنۍ د زیاتې سوکالتیا لامل کېږي. پدې کړندود کې شخصي او د کورنۍ ګټې له یو بل څخه نه توپیر کېږي او د کورنۍیاخانوار د مشر( یو مهربان دیکتاتور) تر حکم لاندې لاسته راځي، چې دا کس عموماً نارینه وي. ښاغلي مقدم په کورنیو کې د کورنۍ د اړیکو دغه واحد موډل او هغه څه چې د اسلام په درسونو کې موندل کېږي، ترمنځ ورته والې ته اشاره کوي: (( یوه ښځه د مېرمنې او مور دنده سرته رسوي پداسې حال کې چې سړی( چې د کور ډوډۍ راوړوونکی او د عامه ژوندانه یو فعال غړی وي) د بلامنازعې صلاحیت لرونکې دنده لري[٩])). ځینې ځواب ویونکې په دې باور وو چې پداسې حال کې چې د یوې کورنۍ اړتیاوې، غوښتنې او غوره توبونه ګډې کېداي شي، د مهربان دیکتاتور ونډه په آیډیاله توګه د نارینه وو په غاړه وي:

*زه له خپلو زامنو سره همدا شان چلند کوم. زما مقصد دادی چې کله چې د یوه لپاره کوم شی اخلم( پیرم)، نود ټولو لپاره یو شان اخلم. مونږ ټول یو ځاي ډوډۍ خورو. د دوی ښځې هېڅ صلاحیت نلري، چې ووایي دا کار وکړه یا دغه څه واخله( وپیره) ، ځکه چې دا زما صلاحیت دی او د هرڅه په اړه زه پرېکړه کوم. زما زامن چپ پاتې کېږي او هېڅ نه وایي ځکه پوهېږي چې زه دلته یم.*

-د کابل په ښار کې یو سپین ږیری[١٠]

*که یو مشر په کور کې وي، نور نو شخړې او جنجال په کور کې نه پاتې کېږي. که چېرې مشر نه وي، کور ورانېږي. د کور د مشر په وړاندې باید د کورنۍ ټول غړي یو مقام ولري.*

-د هرات ولایت د کلیوالي سیمو یو سپین ږیری

[٧] جي. اس . بکر، د کورنۍ په اړه یوه لیکنه، کمبریج، MA: د هاروارډ د پوهنتون خپرونې، ۱۹۸۱، او (( بشري پانګه، هڅې او د کار جنسي وېش)) د کار د اقتصاد ژورنال، ( ۱۹۸٥): ۳۳-٥۸

[٨] جي .پي. جکسن، د جنسیت اقتصاد ( اکسفورډ، بلک ول، ۱۹۹٤)١٦.

[٩] چویري، د مقدم له لیکنې اخیستل شوی، (( د سړو حاکمیت په بدلون کې: په منځنۍ آسیا کې ښځې او کورنۍ د بدلون په حال کې، ))، د کورنیو د پرتله ییزو څېړنو ژورنال، ۳٥ ، ۲ ګڼه (۱۳۸۳) : ۱۳۷-۱٦۲، ۱۳۹

[١٠] پدې راپور کې کله چې د (( سپین ږیري )) کلمه د یوه مرکه کېدونکې لپاره کارول کېږي، موخه یې هغه کسان دي چې د ٤٥ څخه زیات عمر ولري او په زیات احتمال لوي زامن یا لمسي لري. د ((منځني عمر لرونکي )) اصطلاح په هغو مواردو کې چې د افرادو عمر د ۳۰ او ٤٥ تر منځ وي، چې ښایي لوي یا واده شوې اولاد ولري، کارول کېږي. د هغو کسانو لپاره چې تر دې عمر ټیټ وي د ((ځوان)) اصطلاخ کارول کېږي. معمولاً مرکه کېدونکېد خپل عمر څخه په کره توګه باخبره نه وو، چې خپله یو د هغو دلیلونو څخه ؤ چې دغه عمومي ډلبندي کارول شوېده.

واحد موډل عموماً په کورنیو کې د جنسیت د اړیکو او د نانډولتیا له کبله ډیوهانو لخوا له نیوکو سره مخ دی. لدې موډل کار اخیستل (( دا مفکوره چې کورنۍ (خانوار) یو واحد کانون دی او د نورو د خیر ښګېنې د غوښتنې په اصولو ولاړ دی، بی اعتباره کړې ده او په مقابل کې یې د دې باور د خپرېدو لامل شوی چې خانوار د دعواګانو، حقوقو، ځواک، ګټو او سرچینو پر سر د شخړو ډګر دی))[11]. که څه هم چې دخانوار واحد موډل د ځینو لپاره د کورنۍ اړیکو یو آیډیال دستور دی ، خو په هیڅ توګه هم د کورنیو کړنو د څرنګوالي کره تعریف ندی[12].

د کورنۍ (خانوار) د مفکورو بدیل مشخص شوی کوم چې په یوه کورنۍ کې د ګټو تر مینځ د ټکر او ددې واقعیت چې د عمر او جنسیت توپیر سرچینو[13] ته د لاسرسی د کچې ټاکونکې دي، څرګندونه کوي[14]. ډېر شمېر دغه د خانوار بدیلي بیلګې د خانوار د اړیکو په یوه (( معامله یي)) بیلګه کې سره سمون لري. د دغو بیلګو له ډلې نه د (( تعاوني ټکر)) تر ټولو بشپړه بیلګه (سن) دی. د خانوار د اړیکو په دې پوهه کې د خانوار غړي له یو بل سره نه د بشپړې همکارۍ په حالت کې، او نه هم په تلپاتې توګه له یو بل سره د شخړې په حال کې څرګندیږي. بلکه د خانوار د غړو تر مینځ اړیکې د همکارۍ او شخړو د مختلفو کچو څخه جوړې شوې دي[15]. پداسې حال کې چې په پراخه کچه پاملرنه د کورنیو د غړو او د مېړونو او ښځو تر منځ شخړو ته اړول شوېده، دغه رپوټ څرګندوي چې په کورنۍ کې د شخړې تر څنګ د کورنۍ د جنسیتونو او نسلونو تر مینځ همکاري هم شته. د بېلګې په توګه څلورمه برخه ښیي چې کورنۍ ښایي د واده د پرېکړې په ځینو ځانګړو اړخونو کې له یو بل سره په ټکر کې وي، او په عین حال کې په نورو زیاتو مسایلو کې له یو بل سره همکاري ولري.

[11] اس. چانت، د بېوزلۍ پر شننه نوې زیاتونې: د جنسیتي نظره د بېوزلۍ د درک په وړاندې د کړنلارو او مفاهیمو ننګونې (سانتیاګو: د ملګرو ملتونو سازمان} د ښځو او پرمختګ اداره { CEPAL، ۱۳۸۲)، ۱۹.

[12] د یو قطبي نظام د نیمګړتیاوو او له هغه څخه د ناسمو اخیستنو سره سره لا تر اوسه هم دغه نظام د هېواد د ګڼ شمېر پالیسي جوړوونکو لخوا کارول کیږي. ښایي د دغه چارې دلیل په هغه صورت کې چې په خانوار کې یو قطبي نظام حاکم وي، د بېوزلۍ د کچې د آسانه اټکل کولو شونتیا وي، ځکه د هغه څخه پرته د خانوارونو د غړو تر منځ د بېوزلۍ د کچې د توپیر موندل ستونزمن دي. ( چنت، د بېوزلۍ پر شننه نوې زیاتونې)

[13] له ((سرچینو)) څخه موخه مادي سرچینو ته لکه ډوډۍ، جامې او روغتیایي خدمتونو ته لاسرسي نده؛ بلکه موخه یې ناملموسو سرچینو ته لکه وخت او مالوماتو ته لاسرسي او د فزیکي او احساسي فشارونو څخه خلاصون دي.

[14] د بېلګې په توګه: ان. فلیر، (( د تورزړو ډلو: د خانوارونو په اقتصاد کې د بدلون په لور،)) په یوه کور کې ویشل شوي: په دریمه نړۍ کې ښځې او عاید، د جي. بروس او ان.دویر تصحیح ( سنفرډ، CN: د سنفرډ د پوهنتون خپرونې، ۱۹۸۸) او څو ک د ماشومانو لګښت په غاړه لري؟ جنسیت او ممانعتي جوړښت ( لندن او نیویارک: روتلیج، ۱۹۹٤) ؛ ان. کبیر، سرچپه واقعیتونه: په پراختیایي تفکر کې د مراتبو جنسیتي لړۍ ( لندن او نیویارک: ورسو، ۱۹۹٤)؛ اچ. ال. مور، ښځه پالنه او انسان پېژندنه (کمبریج: د پالیتي خپرونې، ۱۹۸۸)؛ او اي. سن، ((جنسیت او همکاري او شخړې))، په روانو نابرابریو کې: ښځې او نړیواله پرمختیا، د آي. تینکر تصحیح، ( نیویارک: د آکسفورډ د پوهنتون خپرونې، ۱۹۹۰)

[15] د همکارۍ او شخړو د نظام( چې د ۱۹۹۰ کال اړوند دی) په اړه زیاته تشریح پدې راپور کې نشي راتلای. پدې نظام کې د خانوار غړي پر سرچینو معامله کوي او د جنسیتونو تر منځ اړیکې او عمر په معامله کې پر موقعیت اغېزه کوي. په ځانګړې توګه درې کړندودونه چې د جنسیت ونډه او د جنسیتونو تر منځ اړیکې په یوه معامله کې د یوه کس پر موقعیت اغېزه کوي، تر څېړنې لاندې نیولې دي: لمړی، د یوه کس د څټ ته تک او د خانوار د ورانېدو په صورت کې د هغه زیانمن کېدل ؛ دویم، د یوه شخص لخوا د ګټو د لاسته راوړلو انځور، چې ښایي هرو مرو خپله د هغه د سوکالۍ لپاره نه وي، او دریم، د خانوار په جوړښت کې د ګډون انځورکول، چې ښایي د خانوار په نظام کې د رښتیني ګډون سره تړاو ونلري.

## ۲. ځېرندود

د دغې ځېرنې مالومات د کابل، هرات، باميانو او ننګرهار ولايتونو د هر يوه څخه د يوې ښارې او يوې کليوالې سيمې څخه راغونډ شوي دي. د ځېرنې هرې ډلې چې له دو سړيو او دوو ښځو جوړ شوې وو يو ولايت تر پوښښ لاندې ونيو. ژوري او نيمه جوړې شوې مرکې د ٦١ کورنيو له ٢٠٠ نارينه او ښځو سره تر سره شوې. د دوی له ډېرو څخه له يوه ځله زياتې مرکې اخيستل شوې. په ټوله کې د ٦١ کورنيو له مختلفو غړو سره ٣١٩ نيمه جوړې شوې مرکې وشوې. شپږ پنځوس متمرکزې ډله ايزې مباحثې وشوې، چې ٢٨ مباحثې له نارينه وو او ٢٨ نورې يې له ښځو سره وې. په سيمه کې د کار د پيل په لومړيو کې په يادو شويو ولايتونو کې د مهمو مالوماتو د راغونډولو لپاره ٤٦ مرکې وشوې. د دغو فعاليتونو تر څنګ د مرکه کېدونکو کورنيو له غړو او همدارنګه د ټولنې له نورو غړو سره نارسمي خبرې اترې شوې دي. ټولې مرکې او ډله ايزې متمرکزې مباحثې د يادډښت اخيستلو له لارې سرته ورسېدې، چې ورپسې د امکان تر حده اصلي مفهوم ته نږدې کلمه په کلمه ژباړل شوې دي( دا چې مرکه کوونکي او مرکه شوې څه ويلي دي). د اړونده نارسمي خبرو اترو او په سيمه کې د ځېرونکو کتنو يادډښتونه ثبت شوې دي.

د ژباړې اړوند مسايل د ځېرنې په ټولو پړاوونو کې د ځانګړې ارزښت لرونکي وو. د ځانګړو کلمو يا عبارتونو د ژباړې په اړه د مشر ځېرونکي چې په انګريزي غږېده او د پښتو ژبو يا دري ژبو ځېرونکو تر مېنځ په مفصله توګه بحث تر سره کېده. د ځېرنې ډلې نه يواځې هڅه وکړه چې ژباړه په نېغه او کلمه په کلمه وي، بلکه په پښتو، دري يا هزارګي کلمو کې د وراندې شوې مفهوم د درک لپاره هم هڅې کړې دي.

### ۱،۲ د ځېرونکي او ځواب ويونکي تر مېنځ د اړيکي رامنځته کول

د کورنيو د غړو تر مېنځ د اړيکو په ځېرنه کې هغه چاپېريال شامل دی چې شخصي ګڼل. له کورنۍ څخه بهر د کورنۍ د غړو تر منځ د اړيکو په اړه خبرې کول د خاين، د درناوی د نه وړ په مفهوم او په ځينو وختونو کې بې مورده او آن نه اړين ګڼل کېږي. په دې توګه د کورنۍ د اړيکو په اړه او همدارنګه په کورنۍ کې د تاوتريخوالي په اړه ژوره ځېرنه مونږ د ځېرندودې ننګونو سره مخ کوي. د دغه ننګونو سرهٔ د مقابلې بنسټيز شرط د ځېرنې له داسې دود څخه کار اخيستل دي چې د باور حس درامنځته کولو، انعطاف منلو او د سيمې د تحرکاتو او لاسته راغلو مالوماتو په وړاندې ځواب ويونکي پاتې کيدلو ته تر ټولو لومړيتوب ورکوي. همدارنګه بايد په ياد ولرو چې د کورنيو تحرکاتو او تاوتريخوالي ځېړل کېداي شي د ځېرونکو لپاره کړونکې تجربه وي. دغه حالت په ځانګړې توګه په هغه صورت کې پېښېږي چې د ځېرونکي او ځېړل کېدونکي تر منځ د داډ يوه اړيکه رامنځته شي چې په حقيقت کې د ژورو او کيفي مالوماتو د راغونډولو بنسټيز شرط دی.

د اړيکو او باور د رامنځته کولو په موخه تر ټولو ارزښتناک عوامل وخت او دا چې مرکه کېدونکو د سيمې د ځېرونکو په اړه څه ليد درلود، وو. په هېڅ توګه د دغه شان ځېرنې لپاره وخت بسيا نه وي؛ که څه هم په هر ولايت کې د بيلا بيلو ډلو په لرلو سره د ځېرنې ډلې پر خپلو اړوندو دوو ( يوه ښارې او يوه کليوالې) سيمو د اوو مياشتو په اوږدو کې د ځېرنې د تر سره کيدو وړتيا يې درلوده. دا سمه ده چې په عين ځېرنيزه پروژه کې د څو ځېرونکو کارول ځينې زيانونه هم لري ( چې لاندې ورته اشاره شوېده)، مګر د ځېرنې يوه ډله کم تر کمه دوه کاله او يا تر هغې زيات وخت ته اړتيا لري چې دومره مالومات راغونډ کړي.

د دې پر ځاي چې په هر ولايت کې درې نيمې مياشتې په کليوالي او درې نيمې مياشتې په ښارې سيمو کار وشي، ځېرنه په دواړو سيمو کې په يو وخت تر سره شوه[١٦]. دغې کړنلارې ځېرونکو ته فرصت ورکړ چې د اوو مياشتو په اوږدو کې (نه درې نيمې مياشتې) د تر ځېرنې لاندې کورنيو او ټولنو تر مينځ د باور فضا را مينځ ته کړي. دغه کړنلاره لاندې عملي کتنو ته په پام سره غوره شوې وه. لومړی، د ځېرونکو وړتياوې د وخت په تېرېدو سره زياتېدل او دا ټکی خورا مهم ؤ چې دوی په دواړو سيمو کې يې د اوو مياشتو وخت په تيريدو سره او د ښې پوره وړتيا په تر لاسه کولو دندې تر سره کولې. دويم، پداسې حال کې چې د ځېرنې ډلې د کورنيو تحرکاتو په اړه زياته پوهه تر لاسه کوي چې له دې پوهې څخه په عين وخت کې په دواړو سيمو کې ګټه اخيستلای شي. دريم، که چېرې په يوه سيمه کې امنيتي اندېښنې او يا نورې د مخنيوي نه وړ پيښې موجودې وي ، نو د ځېرنې ډلې کولای شوای خپل کار په بله سيمه کې تر سره کړي تر څو د ساحوي کار په بهير کې د ځنډ څخه مخنيوی وشي.

دا چې تر ځېرنې لاندې کورنۍ د ځېرنو د ډلو په اړه څه نظر درلود، د باور او تفاهم د چاپېريال په رامنځته کولو کې خورا ارزښت درلود. دا چې مرکه کېدونکو د هغو معلوماتو په هکله چې دوی د خپل د شخصي ژوندانه په هکله د ځېرونکو په واک کې ورکول او دا چې دغه تر لاسه شوې معلومات په څه ډول ځرګندېږي د ځېرونکو اغيزې يې څه ډول بللې. د کورنيو د خصوصي ژوندانه په اړه د ځېرنې په وخت دا چې ځېرونکې پردې وګڼل شي ځينې بيلا بيلې ګټې او زيانونه لري، همدارنګه که چېرې ځېرونکې پردې ونه ګڼل شي هم ځينې ګټې او زيانونه لري. د ځېرنې د ډلې د ټاکنې په وخت کې دا ټکی په پام کې نيول شوی ؤ: د ډلې هرغړی بايد يا د هماغه سيمې وي يا هم په هماغه سيمه کې ژوند وکړي، د مرکه کېدونکو د قوم څخه وي، او د امکان تر حده هره ډله د ښځينه او نارينه جوړښت او د مختلفو عمرونو

[١٦] په حقيقت کې دا پدې مانا ده چې د ځېرنې ډلې په هر ولايت کې دوې يا درې ورځې په يوه کاري ساحه کې تېروې

او مدني حالتونو لرونكو غړو جوړښت يي درلود. په يوه نه يوه ډول دغي كړنلارې د مركه كېدونكو او ځېرونكو ترمنځ د ورته والي له كبله د مركي لپاره لاره هواروله. خپله ځېرونكو هم دغه ورته والى يي احساس كړ، او دې چارې هغوي ته دا وړتيا وركړه چي د ځېرني لاندې كسانو سره د همدردى احساس ولري. په ځينو ځايونو كي ځېرونكو خپلي شخصي كيسي – او د جنګ جګړو او كډوالى، او د كورنى د غړو تر منځ د همكارى او شخړو تجربې يي څرګندي كړې. د معلوماتو دغي دوې اړخيزې راكړې وركړې مركه كېدونكو ته د د معلوماتو او د خپلو شخصي تجربو په شريكولو كي د ارامى احساس ور په برخه كولو او داسي انګيرله چي يو څوک د هغوي خبرې درک كوي.

كه څه هم په نورو كړندودونو كي ارزښتناكه وه چي ځېرونكو ته د پردي په سترګه وكتل شي. كه چېرې ځېرونكې د اړونده ټولنو سره د نږدې اړيكو لرونكو په توګه ګڼل كېدل، نو دا احتمال موجود ؤ چي مركه كېدونكو په ټولنه كي د شخصي مالوماتو د خپرېدو او يا د دوى په هكله د قضاوت له وېرې د خپل ژوند په اړه په خپلواكه توګه خبرې نه وې كړې. ځيني وختونه مونږ نه غواړو زمونږ ((خصوصي)) مالومات هغو كسانو سره چي له نورو ډېر مونږ ته نږدې دي، شريک كړو.په يوه ټولنه كي د يوه شخص موقعيت پدې پورې تړلى دى چي د ټولني نور غړي د هغه په اړه څومره مالومات لري يا د هغه په اړه څه فكر كوي. له دې كبله دا احتمال شته چي مركه كېدونكي وغواړي خپل داسي يو انځور وړاندې كړي چي د ټولني د نورو غړو سره ورته وي. په كليوالي سيمو كي ځېرونكي د زده كړې د كچې، ښاري والي او د رسمي موقعيت د درلودو له كبله له كليوالي خلكو سره ((توپير لرونكي)) ګڼل كېدل. دغه توپيرونه په ښاري سيمو كي كم احساسېدل، كه څه هم چي د تر ځېرني لاندې ځينو كسانو په پرتله د ځېرونكو اقتصادي او د زده كړې حالت توپير درلود. ښځينه ځېرونكي په ټوليزه توګه د مركه كېدونكو څخه زيات توپير درلود، ځكه هغوي دندې درلودې او د ګڼ شمير افغانو ښځو په پرتله يې زياته خپلواكي درلوده. د ځېرونكو ښځو موقعيت ددې په ځاې چي تر نيوكې لاندې وي، د مركه كېدونكو د حسد وړ ګرځېدو. هڅه وشوه چي نه ځېرونكي او نه د هغوى كورنى په هغو سيموكي چي ځېړنه تر سره كيده وپېژندل شي ( په يوه ولايت كي چي څلورو ځېرونكو د ښار په مختلفو برخو كي ژوند كاوه، د دغي موضوع پټ ساتل له ځينو ستونزو سره مخ كړې وو) ددې لپاره چي د اړونده ټولني سره پرديتوب تر يوه حده وساتل شي، د ځېرني ډلو په سيمه كي د شته نادولتي سازمانونو له خوا يي اړونده ټولنو ته د پېژندلو هڅه ونه كړه. د دې كار لومړى دليل دا ؤ چي په هغه صورت كي به مركه كېدونكو فكر كړى وای چي هغه مالومات چي د ځېرني ډلي ته وركول كېږي، نادولتي سازمانونو سره به شريک شي كېږي او دا چي د ځېرني ډلي به د نادولتي سازمانونو او د سيمه ايزو ټولنو د غړو د اړيكو د خرابوالي لامل شي. دويم دا چي پدې توګه د ځېرني د ډلي غړي د دغو سازمانونو د كاركوونكو په توګه نه ګڼل كېدل او له دې كبله خلكو د ځېرنيزو ډلو څخه د مرستي تمه نشواى كولاى. په ټوليزه توګه له پردو سره داسي چلند كېږي چي يا راغلي چي څه شى يوسي يا هم چي څه شى وركړي. دا موضوع د ټولنو په لومړيو غونډو كي څرګنده وه: خلكو يا د خپلو مادي سرچينو د كمښت په اړه خبرې كولې، پدې باور چي پردي د كوم شي د وركړې په نيت راغلي دي، يا يې د مركي او مالوماتو د وركړې څخه ډډه كوله او په ځېرنه كي د ګډون په وړاندې حساس وو، په دې باور وو چي پردي غواړي چي په يو نه يو ډول له دوى څخه څه واخلي. اكثراً د ټولني د غړو مېلمه پالنه د دغو دوو ناڅرګندتياوو د له منځه تګ لامل شوه او د ځېرني ډلي ته د خپلو موخو د بيان لاره هواره شوه. د ځېرني ډله تر يوې اندازې د اخيستو په نيت راغلي وه؛ د مالوماتو او وخت له نظره، او همدارنګه د يوه شي د وركړې په نيت راغلي وه؛ ځينو مركه كېدونكو څرګنده كړه چي د خپل ژوند په اړه د خبرې كولو او د هغه دپه يادراوړلو څخه خوند اخلي.

په باميانو، هرات او ننګرهار كي د ځېرني له ډلو سره د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک كميسيون لخوا ګمارل شوي وې او دغه كميسيون په ساحوي كار ونو كي د افغانستان د ځېرني او ارزوني له اداري سره مرسته وكړه. د دغه كميسيون ا و د دې د كار په اړه د خلكو تصور د ځېرنيزو ډلو سره د خلكو دچلند پ رڅرنګوالي او دا چي په كلي كي د هغوي ونډه څه ده، اغېزه درلوده.

د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک كميسيون په ډېرو سيمو كي ښه شهرت درلود[۱۷]. د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک كميسيون په اړه د خلكو ليد له يو بله توپير درلود: ځينو كسانو دغه كميسيون د تاو تريخوالي په وړاندې د ښځو مدافع ګڼه، او پدې باور وو چي د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک كميسيون د كورنى د غړو تر منځ د ښو اړيكو د جوړولو په لور د بدلون راوستلو په حال كي دى. ځينو نورو بيا د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک كميسيون د كورنيو د غړو د اړيكو خرابوونكى ګاڼه او فكر يي كاوه چي دا دفتر ښځي هڅوي چي له مېړونو څخه طلاق واخلي. په ځينو مواردو كي د افغانستان د بشرد حقونو د خپلواک كميسيون په اړه دغه منفي ليد د كورنيو اړيكو او په ځانګړې توګه په كورنيوكي د تاوتريخوالي په اړه د ټولنو د ځينو غړو د ځواب وركولو لېوالتيا راكموله. په ځينو ځايونو كي ځېرنيزي ډلي اړې وي چي زيات وخت د ټولني غړو ته د خپل كار د انګېزې په تشريح كولو ولګوي. دوي ټينګار كاوه چي ټول هغه مالومات چي دوى يي د ځېرنيزې ډلي په واک كي وركوي، پټ ساتل كېږي او د ځېرني د ډلي د غړو له خوا پر دوى هېڅ ډول اقدام نه كېږي. د غوښتني په وخت كي ځېرنيزې ډلي د اخلاقي پلوه اړې وې چي خلک هغو سازمانونو ته راجع كړي چي عملاً د دوى ملاتړ وكړي، كه د ټولنو غړي د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک كميسيون د نېغي مرستي غوښتنه كوله ،

[۱۷] ځېرونكي د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک كميسيون لخوا وګمارل شول تر څو په ځانګړې توګه پدې ځېړنه كي برخه واخلي، دغو كسانو مخكې هم د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک كميسيون د كاركوونكو په توګه له ټولنو سره هېڅ ډول اړيكه نه درلوده. همدارنګه دوى د خپل پېژندګلوي په بهير كي هم د افغانستان د بشر د حقوقو نوم نه اخيسته بلكه ځان او پروژه يې خلكو ته په جلا توګه ورپېژندل.

ښېرونکو هغوي ته د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون سره د نیغي اړیکي سپارښتنه کوله.

لکه چې مخکې یادونه وشوه، مالومات د نیمه جوړو شویو مرکو په وسیله راغونډ شول، چې پر ډله ایزو بحثونو، نارسمي خبرو اترو او د ډلو پر کتنو متمرکزې وې. د دغو څو ګونو، انعطاف منونکو او د احتمالي اوږدو ځوابونو سره د کړندودونو د کارولو منطق دا ؤ چې مرکه کېدونکو ته فرصت ورکړل شي چې پر هغو مسایلو چې د دوی په اند په کورنیو کې د جنسیت او د نسلونو تر مېنځ د اړیکو په برخه کې ارزښتمن دي، تمرکز وکړي. د دغه کړندود کارول د ښېرنیزو ډلو د غړو (چې مختلفې تجربې لري) د ناعادي انتظاراتو شونتیا راتیته کړه.

د ښېرنیزو ډلو غړې په ټولو سیمو کې – په لومړنیو پړاوونو کې او همدارنګه د ټولنو له مشرانو (ښځینه او نارینه) سره د پېژندګلوي پیدا کولو وروسته- د کلیو له اوسېدونکو سره نارسمي خبرې اترې کولې او د ټولنو په اړه د مهمو مالومات ورکوونکو سره یې مرکې کولې. کلیدي مالومات ورکوونکي هغه کسان وو چې د ټولنو سره یې کار کړی ؤ لکه روغتیایي کارکوونکي، ښوونکي همدارنګه هغه کسان چې د سیمې د خلکو په منځ کې یې ژوند کاوه لکه ملکان او دایې. د دغو مرکو او نارسمي خبرو اترو موخه د ټولنې د تاریخچې، معیشتي ستراتیژیو اوسیاسي فعالیتونوپه اړه د عمومي معلوماتو راغونډول- او د ښېرنې لاندې کورنیو په پېژندګلوي او تفاهم په رامېنځ ته کولو کې مرسته وه. دغه خبرې اترې همدارنګه د ټولنو د مهمو غړو سره د دوستۍ او باور د رامنځته کولو لپاره ښه لاره وه. متمرکزې ډله ایزې مرکې د کورنیو او د جنسیتونو تر منځ د اړیکو او همدارنګه د واده د بېلابېلو دودونو او د پرېکړې په کولو کې د انفرادي حقونو په اړه د عمومي مالوماتو او نظرونو د راغونډولو په موخه ترسره شوې. ښېرنیزو ډلو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په ګډون د کورني ژوند د مختلفو اړخونو په اړه د لاسي انځور شویو عکسونو څخه کار واخیست تر څو ګډونوال وهڅوي چې د ښېرنې اړوندو مسایلو باندې بحث وکړي. د امکان تر حده د یوې کورنۍ له غړو څخه غوښتنه نه کېده چې په یوه ډله ایزه مباحثه کې ګډون وکړي تر څو خپل نظرونه او احساسات په ارامۍ سره څرګند کړي، که څه هم چې په عمل کې دغه کار د تل لپاره شونی نه ؤ. د ښځو او سړیو لپاره جلا ډله ایز بحثونه جوړېدل او د ښېرنیزو ډلو لخوا دغه ګروپونه د عمر، په کورنۍ کې د موقف، په ټولنه کې د فردي نفوذ او موقف په پام کې نیولو سره په کوچنیو ډلو وېشل کېدل. هغه سړي او ښځې چې واده شوي او لادونه یې درلودل، په یوه ځای بحث کاوه، پداسې حال کې چې ځوانانو (ښځو او سړیو) په جلا جلا ځایونو کې. د هغو سړیو او ښځو تر منځ چې مجرد وو یا یې د کوژدې څخه کم وخت کېده، ډېر کم موضوعات تر بحث لاندې ونیول شول.

د ښېرنې په هره برخه کې د ښېرنې لاندې کورنۍ به د ټاکلو معیارونو له مخې ټاکل کېدې. پنځه کورنۍ هغه چې پکې زیات تاوتریخوالی ؤ او پنځه کورنۍ هغه چې پکې یووالی او همغږي وه، وټاکل شوې[۱۸]. ښېرونکو همدارنګه هڅه وکړه چې هغه کورنۍ وپېژني چې د اقتصاد او زده کړې له نظره له یو بله توپیر ولري. که څه هم چې له یوې بېلګې څخه ګټه اخیستنه ډېر اسان کار ؤ، مګر د ځانګړو مرکه کېدونکو ټاکل تل ستونزمن وي. د ښېرنې ډلې ونشو کړای له هغو لسو کورنیو سره چې لومړی یې ټاکلې وې، په دوامداره توګه په سیمه کې کار وکړي. په ډېرو ځایونو کې څرنګه چې له کورنیو سره زیاته پېژندګلوي پیدا شوه، څرګنده شوه چې دوې ټاکل شوې کورنۍ له یو بل سره خپلې دي. پدې صورت کې پر دغه شان دوو کورنیو- په بامیانو کې د دوو ښاري او کلیوالي کورنیوپه ګډون، د یوې کورنۍ په توګه ښېرنه کېده.

## ۲،۲ د شننې لپاره په کارول شوی څېړندود

که څه هم چې تر ښېرنې لاندې په څلور واړو ولایتونو کې ورته څېړندود په کارول کېدو، مګر پر لاسته راغلو مالوماتو پرتله ییزه شننه ستونزمنه ده. چې په دې برخه کې دوه له یو بل سره تړلي عوامل مرسته کوي: لومړی، د کورنیو د غړو د ژوندانه په اړه د خبرو اترو کولو په وخت کې د مرکه کېدونکو د آرامتیا پر کچه په مختلفو ولایتونو کې د ټولنیزو غبرګونونو د رامنځته کولو نورمونو اغېزه درلوده؛ دویم، نه یواځې دا چې د ښېرنیزو ډلو غړي د بېلابېلو وړتیاوو د درلودونکي وو او د کیفي مالوماتو د راغونډولو لپاره د دوی وړتیا د پام وړ وه، بلکه د خپلو شخصي او ټولنیزو ځانګړتیاوو څخه هم اغېزمن وو. دغه دوه لاملونه د نظرونو، تیګاروونو او داستانونو د یوې اوږدې لړۍ د رامنځته کېدو لامل شول، مګر دغه مالومات نور د یوه ځانګړي ولایت سیاسي، وګړ پېژندنې، اقتصادي یا ټولنیزو ځانګړتیاوو پورې منسوبیدلای نه شي بلکه دغه مالومات څرګندوي چې په یوه ولایت کې په ځانګړو موضوعاتو د خبرو اترو ډول څرنګه ؤ او د ښېرنیزې ډلې غړي د څه ډول چلند، توپیر، وړتیاوواو ظرفیتونو درلودونکي دي. ددې موضوع سره سره د ولایتونو تر منځ ځېنې توپیرونه راڅرګند شول چې د مالوماتو د شننې په برخه کې ورته اشاره کېږي.

د عملي کار په بهیر کې هغو رامېنځ ته شوو پېښو ته د ځواب ویلوپه موخه، یادښتونه په دوامداره توګه هر وخت کتل کېدل او د معلوماتو لومړنی شننې تر سره کېدې. دې چارې ښېرنیزې ډلې ته فرصت ورکړ چې هغه ځایونه چې کم مالومات ترې لاسته راغلي دي، وپېژني او داډ ترلاسه کړي چې ټول ښېرونکي د نویو یا نه تمه کېدونکو موضوعاتو څخه چې د معلوماتو څخه څرګندېږي خبر دي. د بېلګې په توګه د ښېرنې په پیل کې د ښېرنې موخه د ودونو د دودونو په اړه د جلا رپوټ چمتو کول نه ؤ، خو د وخت په تېرېدو سره دې موضوع داسې ارزښت وموند چې د دغه شان رپوټ د چمتو کولو اړتیا لیدل

[۱۸] ټولې هغه کورنۍ چې د تاوتریخوالي دکو کورنیو په توګه راوپېژندل شوې، په وګړي پورې تړلی تاوتریخوالی پکې ؤ، او همدارنګه هغه کورنۍ چې د یووالي او همغږۍ لرونکو په توګه راوپېژندل شوې، داسې نه وې.

کیده. د څېړنې په بهیر کې موضوعات وپېژندل شول، او وروسته د مالوماتو د شننې په بهیر کې کوډ ورکړل شو. په وروستي پړاو کې پر مالوماتو افقي شننه وشوه، پدې مانا چې د مرکو او د متمرکزو ډله ییزو بحثونو ټول یاددښتونه په ټولیزه توګه ولایت په ولایت څېړنیزه ساحه په څېړنیزه ساحه و څېړل شول تر څو د هغوي تر منځ ګډموضوعات وپېژندل شي. همدارنګه په عین وخت کې پر کورنیوقضیو عمودي شننه وشوه تر څو د هرې کورنۍ د جوړښت او د هرې کورنۍ د تحرکاتو ژور درک ترلاسه شي. کورنۍ نخشې جوړې شوې وې تر څو د کورنۍ د غړو تر منځ جوړښتي اړیکې او هم د اړونده کورنۍ په جوړښت کې د خانوار موقعیت څرګندې کړي.(لومړۍ ګڼې ضمیمې ته مخه کړئ)

د یادولو وړ ده چې د دغه رپوټ زیاتې شننې د هغو مرکه کېدونکو له ویناوو څخه چې د څېړنې لاندې اتو ټولنو کې استوګن وو، جوړې شوې دي. څرګنده ده چې دغه ښځې او سړي- لوستي او نالوستي، شتمن او بېوزله، سپین ږیري او ځوانان- د خپل ژوند د انعکاس وړتیا لري او پدې هم پوهېږي چې د دوی د کړنو انګېزه څه ده.

## ۳. د ښځېرني سيمې

څلور ولايتونه کابل، هرات، ننګرهار او باميان له دې کبله وټاکل شول چې د جغرافيايي او ټولنيز نظره پراخه ساحه تر پوښښ لاندې ونيسي. د يادولو وړ ده چې د غې ښځېرنې د هېواد شمالي او سويلي سيمې تر پوښښ لاندې را نه وستې، مګر بايد وويل شي چې که چېرې د پوښښ لاندې ولايتونو شمېر زيات شوی وای، د لاسته راغلو مالوماتو ژورتيا او کيفيت ساتل ناشونې کېدل. د هر ولايت په ښار او کليو کې د جغرافيايي موقعيتونو د ټاکنې په وخت کې هڅه شوېده چې په کې د هر يوه څلورو ولايتونو استازيتوب وشي او د هغې سيمې د اوسېدونکو څخه د جنګ جګړو او کډوالۍ بيلا بيلو تجربو په هکله معلومات تر لاسه شي. همدارنګه د ښځېرنې لاندې سيمو د پېژندلو پر مهال هڅه شوې چې بيلا بيلې اقتصادي ډلې په پام کې ونيول شي[۱۹].

### د باميانو ولايت
### کليوالي سيمې

موقعيت او اوسېدونکي: د ښځېرنې کليوالي سيمه پنځه کوچني کلي لري چې په ټوليزه توګه کابو ۴۰۰ خانوار يا کورنۍ لري، دغه کلي له يو بله څخه په خپلو پښو د مزل له لارې کم واټن لري. ټول اوسېدونکي يې هزاره ګان دي. د باميانو له ښاره د موټر سره يو يا دوه ساعته لاره ده چې د سړک په وضعيت پورې اړونده ده ( په ژمي کې پر ځينو لارو ټګ راتګ ناشونی وي)، دغه سيمه زياته سړه ده او په ژمي کې سختې واورې پکې اورېږي.

معيشت او اقتصاد: د نورو کليوالي سيمو په پرتله، دغه سيمه د کمزورې اقتصاد لرونکې ده، کرنه او مالداري د معيشت اصلي سرچينې دي. زياتره اوسېدونکي يې له شپږ جريبو څخه زياته ځمکه نلري[۲۰]. د دغې سيمې پر ځمکو باندې غنم، ورېشې او آلوګان(کچالو) کرل کېږي چې عموماً د اعاشې او د ژوو د خوړو لپاره دي نه د پېر او پلور لپاره. کورنۍ د حيواني محصولاتو څخه لکه مستې، کوچ، قيماق، شېدې د خوړو په توګه کار اخلي او د ژوو او د هغوی د محصولاتو د خرڅلاو په بدل کې نغدي عايد تر لاسه کوي. خلک يې په دوبي او منۍ کې په ييلاق ( هغه ځاي چې له کلي بهر او د ژوو د څر لپاره دي) کې اوسېږي تر څو د خپلو ژوو لپاره ښه څرځای ومومي. کورنۍ همدارنګه د کال پدې وخت کې له غرونو څخه بوټي راټولوي تر څو په ژمي کې هم د پخلي او هم د اوبو د تودولو لپاره ترې کار واخلي. د ژوو په روزلو کې هم سړي او هم ښځې ونډه اخلي. د نغدي عايد تر ټولو لويه سرچينه يې غالۍ اوبدل دي چې په اصل کې د ښځو او ماشومانو لخوا مخته وړل کېږي. که څه هم چې د مرکو په بنسټ، غالۍ اوبدل د سيمې د سيمه ايزو کارونو څخه نه دي، بلکه د پاکستان څخه د راستنېدونکو په وسيله دغې سيمې ته راوړل شوي دي.

د ډېرو کورنيو لپاره ژوندي پاتې کېدل يوه ننګونه ده. د کلي يو مشر د کورنيو د اقتصادي توپيرونو د تشريح په وخت کې دغه موضوع بيانوي:

> *بيوزلې هغه خلک دي چې د خوړو لپاره هېڅ شی ونه لري او شتمن هغه څوک دي چې يو محدود شمېر ژوي او يو څه ځمکه ولري چې د ژوند اړتياوې له هغې له لارې پوره کړي.*

روغتيا او زده کړه: په ۱۳۸۱ کال کې د يوه نادولتي سازمان لخوا جوړ شوی ښوونځی د پنځه واړو کليو لخوا کارول کېږي، د نجونو او هلکانو ټولګي پکې ګډ دي. د سيمې اوسېدونکي دغه ښوونځی ډېر ارزښتناک ګڼي او خپل ماشومان په منظمه توګه هلته د زده کړې لپاره استوي. آن هغه کورنۍ چې ييلاق ته هم ځي، د پسرلي په موسم کې يو مشر ته دننه سپاري چې ډاډ تر لاسه کړي چې ماشومان يې ښوونځي ته ځي. کورنۍ په کليو کې د روغتيايي خدمتونو د نشتوالي له کبله په ژوره اندېښمن دي. دغې سيمې ته تر ټولو نږدې کلينيک چې لومړني روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي، د په خپلو پښو د مزل له لارې دوه ساعته واټن لري. د ډېرو سختو روغتيايي مسايلو لپاره بايد ناروغان د باميانو ښار ته يوړل شي.

د جګړو اغېزه: د باميانو په کليوالي سيمو د طالبانو يرغل په ځانګړې توګه تر ښځېرنې لاندې سيمې باندې ډېر زيات زيان اړوونکی ؤ پداسې توګه چې زيات شمېر سړي ووژل شول يا بندي شول. کورنۍ غرونو ته د کډو په کولو اړ شول. ډېر شمېر سپين ږيرو او ماشومانو د خوړو د نشتوالي او د سړې هوا له کبله خپل ژوند له لاسه ورکړی او د خلکو ډېر شمېر کورونه او مالونه يا وسوځول شول يا د بولدوزر په واسطه ويجاړ شوي دي. د پام وړ سيمه چې عموماً د طالبانو او د شمالي ټلوالې د ځواکونو د جګړې د لومړۍ ليکې په توګه وه، نه يوازې کله چې د طالبانو په واک کې وه له کړاوونو سره مخ وه بلکه کله چې مقابل لورۍ ځت ته کېده هم له ستونزو سره مخ وو. د طالبانو د واکمنۍ په دوره کې ډېر کم شمېر استوګن پدې وتوانېدل چې کابل، پاکستان يا ايران ته کډه وکړي، د سيمې د يوه سپين ږيرې په وينا هغه کسان چې د هېواد په پرېښودو وتوانېدل د هغو کسانو په پرتله چې په هيواد کې دننه بېځايه شول، ښه اقتصادي حالت لري. نومړې دوهمه ډله کسان له داسې الوتونکو سره ورته وګڼل چې بايد خپله ځاله جوړه کړي، هڅه وکړي تر څو خپل کور او ژوند له هېڅ څخه بيا پيل کړي.

---

[۱۹] د ښځېرنې سيمې په يوه برخه کې تشريح کېږي چې لوستونکي د موندنو په مفهوم ښه پوه شي. که څه هم چې د سيمو په اړه ځانګړې جزئيات لېرې کړل شوي دي تر څو د ټولنو پټوالی وساتل شي.

[۲۰] يو جريب کابو د يوه هکتار پنځمه برخه کېږي.

## ښاري سيمې

موقعيت او اوسېدونکي: په سيمه کې کابو ۵۰۰ کورنۍ يا خانوار شته. اوسېدونکي يې د باميانو له بيلابيلو ولسواليو څخه دي، چې تر هغه وخت چې د طالبانو لخوا بېځايه شوې نه وو، په هغو ولسواليو کې يې ژوند کاوه او ټول يې د کليوالي سيمې په شان هزاره ګان دي. په ۱۳۸۰ کال کې د طالبانو له ماتې ورسته خپلو ولسواليو ته په راستنېدو دوی وليدل چې کورونه يې وران او ژوې يې له منځه تللي دي. دغي موضوع هم دوی ته ددې انګېزه ورکړه چې باميانو ښار ته کډه وکړي، تر څو ښه خدمتونه او دندې تر لاسه کړي.

معيشت او اقتصاد: په ښاري سيمه کې د کليوالي سيمې په پرتله اقتصادي چارې ډېر توپير لري. ځيني شتمني کورنۍ د توکو او کسانو د لېږد رالېږد لپاره لارۍ يا نور موټران لري، او نور کوچنۍ هټۍ لري. که څه هم د ډېر شمېر کسانو لپاره د عايد د لاسته راوړلو لاره ورځني سخت کارونه او د غالۍ اوبدل دي. ځيني کورنۍ ځمکه لري چې د ګډ کښت لپاره يې په اجاره ورکوي؛ ځيني نور هم د پوليسو منسوبين يا امنيتي ساتونکي دي.

روغتيا او زده کړه: د باميانو مرکزي روغتون او ښوونځی د سيمې د اوسېدونکو لپاره نږدې دي او په آسانۍ ورته لاسرسي لري.

د جګړو اغېزه: اوسېدونکو د جګړو او کډوالۍ تجربې درلودلې چې د کليوالي سيمو استوګنو ته ورته دي.

## د هرات ولايت
## کليوالي سيمې

موقعيت او اوسېدونکي: د پام وړ سيمه د هرات له ښاره د موټر له ۶۰ تر ۹۰ دقيقو واټن لري او لويې لارې ته ډېر نږدې ده. ټول اوسېدونکي يې تاجيک دي.

معيشت او اقتصاد: د هرات کليوالي سيمه تر ټولو شتمنه څېړنيزه ساحه وه. دغه موضوع د يوه مهمي مالومات ورکوونکي سره چې د کلي د روغتيايي کميټې غړې وه، د مرکې په ترڅ کې ياده شوه:

*مونږ يو شپون لرو چې کېداي شي وواېو ښوزله دي. مګر هغه هم دومره ښوزله ندی، ځکه مونږ هغه ته خپل پسونه ورکوو چې ويې ساتي، د کال په پاي کې مونږ د هرو لسو پسونو په سر هغه ته يو پسه د معاش په توګه ورکوو. لدې کبله هغه په هر کال کې کم تر کمه د۳۰ پسونو خاوند کېږي او هم خلک د هغه د ژوند نور لګښتونه پوره کوي.*

د معيشت اصلي سرچينه يې کرنه او مالداري ده. په عمومي ډول کورنۍ پراخه للمي او آبي ځمکې او مالونه لري. ډېر شمېر کورنۍ مازاد توليد لري چې د ژوو او د هغوی د محصولاتو سره يې پلوري. ډېر احتمال دادی چې د دې سيمې ځوانان ايران ته د کار لپاره سفر وکړي او د خپلې کورنۍ په اقتصاد کې مرسته وکړي او يا هم دا شوني ده چې د خپل واده د پيسو ټولولو لپاره لاړ شي.

روغتيا او زده کړه: تر پنځم ټولګي پورې د زده کوونکو لپاره يوښوونځی شته. د لويو ماشومانو لپاره تر ټولو نږدې ښوونځی د ولسوالۍ په مرکز کې چې کابو ۲۰ کيلومتره واټن لري، شته. په کلي کې روغتيايي کلينيک نشته او تر ټولو نږدې روغتيايي مرکز هم د ولسوالۍ په مرکز کې دی.

د جګړو اغېزې: د دغې سيمې د خلکو ژوند هم د مجاهدينو او شوروي د جګړو په وخت کې او هم کله چې طالبان پر هرات مسلط شول، اغېزمن شوی دی. د شوروي د يرغل په وخت کې د دغه کلي خلک په دوو ډلو ووېشل شول، يوې ډلې د شوروي پلوي دولت پلوي کوله او بلې ډلې د مجاهدينو. د ۱۹۸۰ لسيزې په لومړيو کې جګړې د دې لامل شوې چې د کلي ټول استوګن له هغه ځايه کډه وکړي، ځيني کورنۍ ايران ته وتښتېدې او زيات شمېر کورنۍ ګاونډيو ولايتونو ته کډه شوې چې د اوو يا اته کالو وروسته خپلو کورونو ته را ستانه شول. د طالبانو په دوره کې ځيني سړي بندي، وکړول او آن ووژل شول. ځيني اوسېدونکي يې د طالبانو له مخالفو ځواکونو سره يو ځای شول او کلي يې پرېښودل. که څه هم چې په ټوليزه توګه کورنۍ لدې کلي څخه بېځايه نه شوې.

## ښاري سيمې

موقعيت او اوسېدونکي: ښاري سيمه نسبتاً يوه پراخه سيمه تر پوښښ لاندې نيسي او د هرات د ښار له مرکز څخه په نه چندان لېرې واټن کې پرته ده. زياتره اوسېدونکي يې تاجک دي خو د ترکمنو لږکي هم پکې ژوند کوي. په سيمه کې کم شمېر پښتانه او هزاره کورنۍ هم ژوند کوي.

معيشت او اقتصاد: په عمومي توګه هغه کسان چې په ښارونو کې ژوند کوي د هغو په پرتله چې په کليو کې ژوند کوي، کمزورى اقتصاد لري، که څه هم چې په ښارونو کې د خلکو اقتصادي وضعيت يوه اوږده لړۍ لري: ځيني خلک له مادي نظره هېڅ ستونزه نلري او پداسي حال کې چې ځيني خلک د عايد هېڅ منظمه سرچينه نه لري. شتمنې کورنۍ د مغازو او کوچنيو سوداګريزو شرکتونو لرونکي دي او ځيني هم په کليوالي سيمو کې حاصلخيزې ځمکې لري. د هغو کورنيو چې کمزورى اقتصاد لري، سړي يې په لاندې کارونو بوخت دي: د کراچۍ پر سر د سبو خرڅول؛ ورځني کارګر؛ د ټکسي چلول؛ ساتونکي او خدماتي کارونه يعنې پاک کاري، په دولتي سازمانونو لکه ملي پوځ

کې دنده تر سره کول. پدې سیمه کې د ښځو اقتصادي فعالیتونه زیات ارزښت لري، دوی د برستنو په گنډلو، پستې په ماتولو او د شتمنو کورنیو د جامو د مینځلو له لارې د خپلو کورونیو په اقتصاد کې مرسته کوي. غالی اوبدل هم یو هغه کسب دی چې په عمومي ډول د ترکمنو ښځو لخوا ترسره کیږي. هغو کورنیو ته چې غړي یې په ایران کې کار کوي، د هغه ځایه د پیسو استول د دغې سیمې د اقتصادي پایښت تر ټولو ارزښتناکه برخه جوړوي.

روغتیا او زده کړه: د دغې سیمې اوسېدونکي په سیمه کې شته کلینیک ته لاسرسي لري او همدارنگه له دوو نورو کلینیکونو څه هم گټه اخیستلای شي. په دغه سیمه کې ښوونځی نشته مگر په نږدې سیمو کې چې لدې سیمې کم واټن لري، د نجونو او هلکانو ښوونځي شته دي.

د جگړو اغېزه: دغه سیمه د مجاهدینو او شوروي د جگړو په وخت کې سخته وځپل شوه، د شوروي ځواکونو لخوا تر سختې بمبارۍ لاندې ونیول شوه. هغه کورنۍ چې ورسره مرکه وشوه یا یې د خپلې کورنۍ غړي له لاسه ورکړي یا هم په کلکځ ټپي او معلول شوي وو. په هغه وخت کې اوسېدونکي د کورونو پرېښودو ته اړ شوي وو؛ ځینې کورنیو په ښار کې نورو سیمو ته کډه وکړه او ځینې نورو کورنیو نورو ښارونو ته. د پام وړ شمېر کورنۍ ایران ته کډه شوې، پداسې حال کې چې ډېر شمېر ترکمنې کورنۍ چې په سیمه کې یې ژوند کاوه، ترکمنستان ته ستانه شول. پدې سیمه کې زیات شمېر کورنۍ د ۱۹۹۰ لسیزې په لومړیو کې د گډوالۍ وروسته بېرته مېشت شوي دي. لکه څرنگه چې د کلیوالي ژوند په برخه کې څرگندشول، د طالبانو په دوره کې نورو هېوادونو ته ډېر کم شمېر کورنیو کډه وکړه؛ که څه هم چې د رپوټونو پر بنسټ د کورنیو ځینې غړي د طالبانو لخوا وهل کېدل، ځورول کېدل او آن اعدامېدل.

## د کابل ولایت کلیوالي سیمې

موقعیت او اوسېدونکي: دغې سیمې ته د کابل ښار څخه د ۴۵ دقیقو د موټر لاره ده، په کلي کې کابو ۳۲۰ کورنۍخانوار ژوند کوي. زیاتره اوسېدونکو ځانونه عرب[21] راوپېژندل، په دواړو پښتو او دري ژبو خبرې کوي. په سیمه کې کم شمېر هزاره کورنۍ هم ژوند کوي. مگر ټول مرکه شوي کسان عرب وو.

معیشت او اقتصاد: د دغې سیمې کورنۍ په مختلفو اقتصادي وضعیتونو کې دي، د دوی تر منځ داسې کسان هم شته چې پراخه کرنیزې ځمکې لري او داسې کسان هم شته چې هېڅ ځمکه نه لري او د ورځني مزد په معاش یې ژوند چلېږي. د دغې سیمې کرنیز محصولات غنم، کچالو، پیاز او میوه د اعاشې او په کابل ښار کې د پلورلو په موخه کارول کیږي. د سیمې خلک مالداري هم کوي او د هغه محصولات لکه مستې، د کابل په ښار کې پلوري. ځینې کورنۍ یا هټۍ لري یا هم د لاسي کراچیو پر سر توکي پلوري. ځینې کورنۍ موټر لري چې د کابل ښار ته د تگ راتگ لپاره د ټکسي په توگه ترې کار اخلي. ډېر کم شمېر ښځې په اقتصادي چارو بوختې دي، چې پدې چارو کې خیاطي او د سیمې د مالداري محصولاتو خرڅول راځي.

روغتیا او زده کړه: دغه سیمه د هلکانو او نجونو لپاره یو ښوونځی لري چې تر پنځم ټولگي پورې زده کوونکي روزي. د سیمې تر ټولو نږدې ښوونځی له شپږم ټولگي لوړ زده کوونکي لري له سیمې څخه د پلې تگ نیم ساعت لاره لري. همدارنگه تر ټولو نږدې روغتیایي کلینیک هم په گاونډ کلي کې دی، چې لدې کلي څخه نیم ساعت پلې لاره ده.

د جگړو اغېزې: د شوروي او مجاهدینو په جگړو کې او ورپسې په کورنیو جگړو کې دغه سیمه په کلکه وځپل شوه، د سیمې اوسېدونکو ته یاد دي چې څه ډول ودانۍ او د میوو ډکې ونې له منځه یوړل شوې. د جگړو په بهیر کې ډېر زیات شمېر کورنیو خپل نارینه غړي له لاسه ورکړل- هغه چې په جگړو کې یې د مجاهدینو ملگرتیا کوله. کورنیو جگړو هم د کلي د اوسېدونکو پر ژوند اغېزه کړې او سیمه ایزو قوماندانانو د ځمکې پر سر له یو بل سره جگړې کړې دي. د کلي کابو ټولې کورنۍ د مجاهدینو او شوروي د جگړې په وخت کې له سیمې کډه وکړه چې زیاتره یې پاکستان، ځینې یې کابل او کم شمېر یې ایران ته کډه شول. د کلي ډېر اوسېدونکي په پاکستان کې خپلو پخوانیو پنډغالو ته ستانه شول او د دوی په وینا دوی په دې وتوانېدل چې خپل فرهنگي او ټولنیز جوړښت په کډوالۍ کې هم وساتي. دوی په بېلابېلو وختونو کې خپلو کورونو ته ستانه شوي دي: ځینې کورنۍ د کورنیو جگړو له پیلېدو څخه وړاندې ستنې شوې دي چې د دوهم ځل لپاره بیا د کلي پرېښودو ته اړې شوې. اوس مهال کابو ټولې کورنۍ راستنې شوې دي، که څه هم چې په ټولو کورنیو کې د دوی ټول غړي نه دي راستانه شوي.

## ښاري ژوند

موقعیت او اوسېدونکي: دغه ښاري سیمه په کابل کې د غیررسمي استوگنځیو یوه بېلگه ده چې د نږدې غرونو په لمنه کې په نامنظمه توگه پرته ده. د کابل د کلیوالي سیمو برخلاف د ښاري سیمې اوسېدونکي هم قومي تنوع لري، چې زیاتره په کې هزاره گان، پښتانه او تاجکان دي. د دغو کسانو لویه برخه هغه کسان دي چې له پاکستانه راستانه شوي دي او یا هم د سیمې پخواني اوسېدونکي دي چې دوه- دری نسله مخکې یې کابل ته کډه کړې ده.

معیشت او اقتصاد: پدې سیمه کې د معیشتي سرچینو یوه لړۍ موجوده ده: ځینې کسان د ټولنیزو خدمتونو د کارکوونکو په توگه کار کوي، ځینې نور هټۍ لري، پداسې حال کې چې زیات شمېر کورنۍ د هغو

---

۲۱ هغه کسان چې ځانونه عرب گڼي، ځانونه د دې هېواد سیدان گڼي ( اي، پارشاتر، د ایرانیکا دایره المعارف، لومړی کنه ( نیویارک: د ببلیوتکا پرسیکا خپرونې، ۲۰۰۱)، ۵۹۹

خپلوانو او غړو چې په بهر کې دي، حوالو ته سترګې په لاره ژوند کوي. ځینې کورنۍ په نورو ولایتونو کې ځمکې لري چې د سیمه ایزو خلکو لپاره د عاید یوه سرچینه ده. د بوختیا د کمښت او بیکارۍ کچه لوړه ده. ځینې ښځې او ماشومان په غالۍ اوبدلو بوخت دي.

روغتیا او زده کړه: د څېړنې په سیمه کې د عامه روغتیايي خدمتونو د کلینیک تر څنګ شخصي روغتیايي خدمتونه هم شته. دوه ښوونځي شته، یو د نجونو لپاره او بل هم د هلکانو لپاره.

جګړې او کډوالي: دغه سیمه د کورنیو جګړو په وخت کې د جګړې لومړۍ کرښې ته نږدې وه، چې د هغه په بهیر کې ډېر ښوونځي وران شول، کابو ټولو اوسېدونکو له سیمې کډې وکړې.

## د ننګرهار ولایت کلیوالي سیمې

موقعیت او اوسېدونکي: په ننګرهار کې تر څېړنې لاندې کلیواله سیمه پهځانګړې توګه یو لوی کلی دی. له عمومي سړک نه د ۱۵-۲۰ دقیقو د موټر په واسطه له مزل برسېره یو ساعت نور هم نیسي چې د جلال آباد ښار څخه دغه کلي ته ورسېږو. د دغه کلي ټول اوسېدونکي پښتانه دي مګر له بیلابیلو قومونو څخه. د کلي په مېنځ کې یو بازار شته چې یو شمېر هټۍ پکې شته.

معیشت او اقتصاد: د سیمې اوسېدونکي هم د نورو په شان توپیر لرونکی اقتصادي وضعیت لري. ددغې سیمې تر ټولو شتمن خلک سوداګریز شرکتونه، هټۍ او ځمکې لري. هغه کورنۍ چې کمزورۍ اقتصاد لري، موټران چلوي یا د ورځني مزد په مزدورۍ کار کوي، پداسې حال کې چې ځینې نور بیا د کمو ځمکو خاوندان دي. ډېر شمېر هغه کسان چې ورسره مرکې وشوې له ۲ څخه تر ۱۰ جریبه ځمکه لري، ځینې کورنۍ مالداري هم کوي. د کلي ډېر کم شمېر ښځې په اقتصادي چارو بوختې دي؛ یوه د ښوونځۍ ښوونکې ده، یوه قابله ده او دوې ښځې نورې هم د زېږون د خدمتونو روزل شوې دایې دي، نورې ښځې د ګنډونکو په توګه کار کوي. د سیمې ډېر کم کسان په دولت او نادولتي سازمانونوکې کار کوي. د کلیوالو په وینا د دوی په دې ټولنه کې کله چې خشخاش کرل کېدل ، نو خلکویې ښه اقتصادي وضعیت درلود، که څه هم چې ځینو کلیوالو د تل لپاره د هغه له کښت څخه ډډه کړېده. د ځینې نورو څېړنیزو سیمو په شان د دغې سیمې سړي په پاکستان کې کار کوي، او د کورنۍ د اقتصادي پایښت لپاره د دوی ملاتړ ډېر اړین دی.

روغتیا او زده کړه: د دغې سیمې کلی یو فعال کلینیک لري چې نارینه او ښځینه روغتیايي کارکوونکي، د یوې فعالې قابلې په ګډون په کې کار کوي. پدې کلي کې یو ښوونځۍ د نجونو او یو هم د هلکانو لپاره شته.

که څه هم چې د سیمې اوسېدونکو شکایت وکړ چې د نجونو ښوونځۍ یواځې تر شپږم ټولګي پورې زده کوونکي مني او د ښځینه ښوونکو ګمارل ډېر ستونزمن دی.

د جګړواغېزه: د مجاهدینو او شوروي تر منځ جګړه د کلي د ډېرو ودانیو د ورانېدو لامل شوه، ډېر شمېر کورنیو خپل غړي یې له لاسه ورکړل او د سیمې ډېر شمېر اوسېدونکو پاکستان ته کډه وکړه چې ځینې یې تر ۱۴ او ځینې نورهم تر ۲۰ کلونو پورې هلته پاتې شول. په ځینو مواردو کې کورنۍ د کورنۍ د پایښت لپاره له یو بله جلا کېدې، او د کورنۍ ځینې غړې په کلي کې پاتې کېدې تر څو د هغوي د ځمکې او مال څخه ساتنه وکړي.

## ښاري سیمه

موقعیت او اوسېدونکي: د څېړنې د ښاري سیمې اوسېدونکي په اصل کې د ننګرهار د څو ولسوالیو او د نورو ولایتونو دي. لویه برخه یې د بیلا بیلو قومونو پښتانه دي، او د دوی تر څنګ ډېر کم شمېر تاجیکي کورنۍ هم ژوند کوي.

معیشت او اقتصاد: دا د جلال آباد د تر تر ټولو بېوزلو سیمو څخه یوه ده. که څه هم چې یو کم شمېر شتمنې کورنۍ هم لري. د سیمې نارینه اوسېدونکي د ختګرۍ، ورځ مزدو کارونو، څوکیدارۍ، د پولیسو یا پوځ سره د کار کولو ، موټر چلولو، د لاسي کراچیو او کوچنیو هټیو څخه خپل عاید تر لاسه کوي. د سیمې ځینې اوسېدونکي د شخصي اقتصادي چارو خاوندان دي یا هم په کلیو کې ځمکې لري چې په اجاره یې ورکړې دي. د ښځو اقتصادي فعالیتونه کم دي، مګر ځینې ښځې په مزد لرونکو کارونو لکه برستن ګنډل، ښوونه او روزنه یا په روغتیايي مرکزونو کې په کار بوختې دي. په ټولیزه توګه ددې سیمې ستره برخه لږ عایدلرونکي او یا هم وزګاره خلک جوړوي. د څېړنو د ډېرو نورو ځایونو په شان د سیمې ډېر شمېر نارینه غړې په ایران یا پاکستان کې کار کوي.

روغتیا او زده کړه: په دې سیمه کې روغتیايي کلینیک شتون نه لري او یواځې یو ښوونځۍ د هلکانو او د نجونو لپاره تر شپږم ټولګي پورې دی. که څه هم چې په ښار کې په ګاونډیو سیمو کې نورې روغتیايي اسانتیاوې او ښوونځي شته.

د جګړو اغېزې: د دغې سیمې زیات شمېر اوسني اوسېدونکي د مجاهدینو او شوروي د جګړې په وخت کې له خپلو اصلي ولسوالیو څخه په تېښته دې سیمې ته راغللي دي. که څه هم چې د سیمې ډېر شمېر کورنۍ د جګړو په بهیر کې تېښتې ته بیا اړې شوې، ځینې کورنۍ د ننګرهار ولایت نورو ولسوالیو ته کډه شوې او ځینې نورې بیا د جګړو څخه د مخنیوي لپاره د ښار په نورو برخو کې مېشتې شوې. همدارنګه یو شمېر کورنۍ پاکستان ته کډه شوې چې ۲۰ کاله یا له هغه

ځنې زيات وخت هلته پاتې شول. دغه سيمه په کلکه سره بمباري شوه او ډېر شمېر کورنيو غړي يا ووژل شول او يا هم معلول شول. د سيمې اوسېدونکو د کورنيو جګړو په بهير کې او د طالبانو د حکومت په دوره کې زيانونه ليدلي دي. بيا کله چې امريکايانو پر طالبانو بمبارد کاوه، د سيمې خلک د يو لنډ وخت لپاره له سيمې بېځايه شول.

# ۲ برخه: د واده په اړه د پرېکړو بهیر

د واده په اړه پر پرېکړو کورني او له کوره بهر عوامل اغېزه کوي. د کورنیو عواملو څخه د خانوار او کورنیو جوړښت، د هر خانوار او کورنۍ نسلي او جنسيتي تحرکات، د کورنۍ د هر غړي ځانګړتیاوې او تاریخچه ده. بهرني عوامل په یوه ځانګړي سیمه ایزه ټولنه کې د نسلونو او جنسیتونو ترمنځ تحرکات، حاکم اقتصادي، سیاسي او ټولنیز وضعیت او ځانګړي موضوع ګانې لکه د روبیار لېږلو وخت دی. دغه عوامل ټول د واده پر پرېکړو، دا چې کوم کسان د واده د لومړیو پړاوونو پیل کوونکي دي، څه وخت پر هغه پیل کوي او څه بنه ځانته غوره کوي، اغېزه کوي.

د واده د پرېکړو د څرنګوالي په اړه له یوې کورنۍ څخه تر بلې او ان چې د یوې کورنۍ د غړو تر منځ ستر توپیر لیدل کېږي. هغه کسان چې په پرېکړه کولو کې ګډون کوي: بابا او انا، پلار او مور، ترور، ماما او کاکا، خویندې او وروڼه او هغه اولادونه چې په د واده په اړه یې پرېکړه کېږي، دي. پر پرېکړه کولو د دغو افرادو د اغېزې کچه هم د کورنیو تر منځ د پام وړ توپیر لري. د کورنیو تر منځ د پرېکړې کولو بهیر د وخت په تېرېدو بدلون مومي او دا بدلون کېدای شي په لنډ وخت کې پیښ شي، د بېلګې په توګه له یو خور یا ورو نه تر بل پورې.

د واده په اړه پرېکړې کېدای شي په دوو برخو ووېشل شي: لومړی: د هغو کسانو په اړه پرېکړه کول چې تر اوسه یې واده نه وي کړئ، او دوهم: د هغو کسانو د واده په اړه پرېکړې چې مخکې یې واده کړی وي- پدې ډله کې کونډې یا طلاق شوي ښځې یا کونډ سړي یا هغه سړي چې د دوهم او دریم یا څلورم واده پلان لري، راځي. لاندې درې برخې د هغو کسانو د واده په اړه د پرېکړو په هکله دي چې تر اوسه یې واده نه وي کړی. د متاهلو کسانو د واده په اړه د پرېکړو بهیر په ۳ مه برخه کې تر بحث لاندې نیول کېږي.

د واده د دریو مهمو اړخونو په اړه له واده نه وړاندې پرېکړه کېږي:

- د ژوند راتلونکی ملګری به څوک وي- معمولاً کورنۍ د راتلونکي ژوند د ملګري د ځانګړتیاوو په اړه اندېښمن وي.
- د کوژدې او واده نېټه- واده کوونکی شخص د کوژدې یا واده په وخت کې څومره عمر لري او د ژوند په کوم پړاوکې دی.
- د واده مراسم څرنګه او په کومو شرایطو جوړېږي- آیا مهر مطرح شوی دی او څه وخت باید ورکړل شي او په هغه صورت کې چې نجونې په بدل ورکول کېږي، آیا د دواړو ودونه به په عین وخت کې تر سره شي؟

د واده د پرېکړې کولو پر پروسو ښکاره بحث- د بېلګې په توګه کله چې خلک له یو بل سره کښېني او پر یوه موضوع بحث کوي- د شخص د نفوذ او څواک د ارزونې تر ټولوغوره بڼه نه څرګندوي. لدې کبله راتلونکي برخې نه یوازې د پرېکړه کوونکو کسانو د موقعیت په اړه بحث کوي بلکه د هغو کسانو ناښکاره نفوذ چې په نامستقیمه توګه د پرېکړه کولو پر بهیر اغېزه لري، پلټي. هغه بیلابیلې لارې چې د واده په اړوندو پرېکړو اغېزه کوي، تر غور لاندې ونیول شول چې پدې کې د پرېکړې لفظي ملاتړ یا یې مخالفت او د ملاتړ یا مخالفت نورې بڼې چې په نېغه یا نامستقیمه بڼه څرګندېږي، راځي. د دغو مالوماتو د لاسته راوړلو لپاره اړین وو چې پدې اړه چې څرنګه یوه پرېکړه کېږي، او نه دا چې پرېکړه کوونکي څوک دي، له مرکه کېدونکي سره پرې بحث وشي، او همدارنګه له هغه څخه وپوښتل شي چې د ځانګړې پرېکړې په اړه څه احساس کوي او دا چې څرنګه دغه احساس د کورنۍ له نورو غړو سره شریکولای شي.

په اصل کې د پرېکړې کولو هربهیر دټاکنو پر بنسټ ولاړ دی: هغه ټاکنې او انتخابونه چې اشخاص او ډلې یې د پرېکړې کولو په وخت کې مخې ته لري. کبیر د لومړۍ کرښې د پرېکړې او د دویمې کرښې د پرېکړو تر منځ توپیر را مینځ ته کوي[۲۲]. د لومړۍ کرښې پرېکړې د ژوندانه ستراتیژیک انتخابونو دي چې خلک یې تر سره کوي لکه د معیشت پرېکړې او کله او له چا سره واده وشي، ددوهمې کرښې انتخابونه ښایي مهم وي خو دیوه کس د ژوندانه شاخص نه څرګندوي. د انتخاب دواړه ډولونه کېدای شي پربېلابېلو کچو مفید وي. لوکز په خپلو لومړنیو آثارو کې د څواک په اړه د تیوري جوړولو په وخت کې د پرېکړه کولو د اجنډا د محتویاتو په وسیله د ټاکنو روښ ته اشاره کوي[۲۳]. د ده په لیکنو کې پدې ټکي بحث کېږي چې د دې کنټرول کې څه شی د پرېکړې کولو وړ دي ، د ځینو ټولنیزو نورمونو د رامنځته کېدو او پلي کېدو له لارې ترسره کېږي، او ددې کنټرول چې کوم څه د پرېکړې کولو په اجنډا کې شامل دي په دوو پړاوونو کې کېږي: لومړی: ټاکنې د قید او شرط پرته محدودې دي او ځینې ځانګړې موضوعات نشي انتخابیدای. د بېلګې په توګه د زیات شمېر افغان کورنیو لپاره پوښتنه راپورته کېږي چې خپل زوی یا لور واده کړي او که نه؟ د بحث ځای نشته، ځکه د واده څخه د ډډې کولو انتخاب نشته. دویم حتي په هغه صورت کې چې د ټولنیزو نورمونو څخه پراخ مختلف انتخابونه هم د تصور وړ وي، د هغوي پایلې د هغو کسانو او کورنیو لپاره چې په ټولنه کې د حاکمو نورمونو سره همغږي ندي، پداسې کچه ښایي زیان

[۲۲] ان. کبیر، ((د سرچینو لاسته راوړل: د ښځو د پیاوړې کولو د اندازه کولو په اړه غبرګونونه))، پراختیا او بدلون، ۳۰ (۱۹۹۹)، ۴۳۵-۴۶۴

[۲۳] اس. لوکز، قدرت: یوه تندلارې کتنه ( لندن، مک میلان، ۱۹۷۴)

ړوونکي وي چې د یوې ټاکنې په توګه و نه پېژندل شي[۲۴].

پر واده د پرېکړو کولو د ژورې څېړنې ارزښت په هغو کیسو کې چې د مرکه کېدونکو لخوا څرګندې شوې دي، ښودل شوی دی. پدې بېلګو کې راغلې دي چې څرنګه هغه (( تیروتنې)) چې د واده په اړه د پرېکړې کولو په وخت کې شوې دي، د واده شوې ښځې په وړاندې د تاوتریخوالي او همدارنګه د هغو کسانو د پښېمانۍ لامل شوې دي چې د واده په اړه یې پرېکړه کړې ده. د راپور پدې برخه کې د هغو لارو چارو په هکله بحث کیږي چې د واده په اړه پریکړې تر سره کیږي، په دې کې څوک برخه ولري او څوک په کې برخه ونه لري د کومو کسانو نظرونه او ریدل کیږي او د چا پر نظرونو سترګې پټیږي- دا ښايي د مېره او ښځې او هم په کورنۍ کې د راتلونکو تاوتریخوالي د ل ټاکونکي لامل په توګه عمل وکړي.

## ۴. جنسیت ، نسل او دریځ – د واده په اړونده پرېکړو کې د ښځو او نارینه وو ونډه

د خانوار جوړښت او په یوه کورنۍ کې د جنسیتونو او نسلونو تحرکات کېدای شي د پرېکړې کولو په بهیر کې افرادو د نفوذ د کچې او بنې ټاکونکي وي. پداسي حال کې چې تولنیز مقررات کارول کېږي او هغه اړیکې چې پکې کورنۍ پرېکړه کوي، څرګندوي. هغه لارې چارې چې دوی په کې عمل کوي پېچلې دي او د بېلابېلو حالاتو په پام کې نیولو سره له یوله بله توپیر لري. تر څېړنې لاندې اتو سیمو کې د کورنیو اړیکو یوه اوږده لړۍ ولیدل شوه، او وموندل شوه چې په پرېکړه کولو د کورنۍ د غړو د نفوذ او پکې د هغوی د ګډون د کچې تر منځ زیات توپیر شته. همدارنګه په کورنیو کې ددې پرېکړې په اړه د همکارۍ او شخړو کچه هم متفاوته وه.

په یوه کورنۍ کې د پرېکړې کولو په پروسو کې د ښځو ونډه او نفوذ په پراخه کچه پېچلې او متفاوته ده، او له همدې کبله د هغه څېړنه د سړیو د ونډې په پرتله ستونزمنه ده. سړي اکثراً په پرېکړه کولو کې ښکاره ونډه لري، پداسي حال کې چې ښځې پر پرېکړه د نفوذ کولو لپاره د پټو لارو چارو څخه کار اخلي.

## ۱,۴ د واده په اړوندو پرېکړو کې د ښځو د نفوذ هڅوونکي عوامل

*د کور د جوړولو او د کورنیو وسایلو د پېرودلو اړوندو پرېکړو کې سړي له مونږ څخه نظر نه غواړي او زمونږ غوښتنو او نظرونو ته غوږ نه ږدي،خو د اولادونو د واده په اړه مور حق لري چې نظر ورکړي.*

- د هرات په ولایت کې د منځني عمر لرونکي او د پنځو ماشومانو مور

*هو، ښځې په پرېکړو کې ونډه اخلي او باید هم ونډه واخلي او په دې توګه به په کور کې کومه شخړه نه وي.*

- د بامیانو ولایت په کلیوالي سیمه کې د اتو ماشومانو ۵۰ کلن پلار

تر څېړنې لاندې په اتو څېړنیزو سیمو کې د ښځو او سړیو په ګډون د مختلفو عمرونو ګڼ شمېر خلک پدې باور وو چې ښځې باید د واده په اړوندو پرېکړو کې ونډه ولري. که څه هم دا پدې مانا نده چې ښځې پداسې دریځ کې دي چې د واده په پرېکړو کې د پام وړ ګډون وکړي. ځینې ښځې کولای شي ونډه ولري، پداسې حال کې چې ځینې نورو ته کېدای شي د پرېکړې په پروسه کې ونډه ور نه کړل شي.

پر پرېکړه د یوې ښځې د اغېزې کچه د هغه د عمر او د کورنۍ د عمر د په پام کې نیولو سره توپیر مومي. کېدای شي یوې ښځې ته د خپل دژوندانه په لومړیو پړاوونو کې د واده پر پریکړو اغیزې درلودل ستونزمن وي، خو کله چې یې عمر زیاتیږي، نو زیات صلاحیت مومي، په ځانګړې توګه په هغه صورت کې چې کونډه وي او د کورنۍ مشره وي. پدې صورت کې ښايي چې هغه د خپل اولادونو او لمسیو د واده په اړه د پرېکړې کولو تر ټولو لوړ مقام وي. د ګڼ شمېر مرکه شویو سړیو په وینا، د دوی د واده پرېکړه د دوی د اصلي مور یا ناسکه مور لخوا شوې ده. د بېلګې په توګه ۵۵ کلن نادرشاه[۲۵] چې د ننګرهار په کلیوالي سیمه کې ژوند کوي، څرګنده کړه چې د ده ناسکه مور چې (( سپین سرې او یوه وه)) څرنګه د ده د پلار د مړینې وروسته د ده د واده پرېکړه وکړه.

په نورو کورنیو حالاتو یا د خانوار په جوړښتونو کې ځواني ښځې هم پر پرېکړو اغیزه درلودلای شي. د بېلګې په توګه ٤٠ کلنه ((بس بي بي)) د کابل په ښار کې نسبتاً یوې شتمنې او لوستې کورنۍ ته واده شوه ( لومړۍ کورنۍ نخشه) . د هغې د واده په وخت کې د دې د مېړه په کورنۍ کې هېڅ بله واده شوې ښځه نه وه. د نوموړې په وینا چې خسر یې د خپل اولاد د واده وروستۍ پرېکړې کولې، پر بس بي بي باور کاوه چې ولاړه شي او د اولاد د ژوند د راتلونکي ملګرې کورنۍ یې ووینې او د هغې کورنۍ له ښځو سره د کوژدې د امکان په اړه خبرې وکړي. دغې بهیر بس بي بي ته دا فرصت ورکاوه چې د پرېکړې کولو پر پایله کنټرول ولري، چې دا د واده په اړه په پرېکړه کولو کې د ځواني ښځې د فعالې ونډې یوه ښه بېلګه ده. لطیفه (۲ کورنۍ نخشه) کونډه ښځه ده چې کابو ۳۵ کاله عمر لري او اولادونه هم لري. هغې

[۲۴] د یادولو وړ ده چې د لوکز آثار د نورو لیکونکو ( لکه کبیر، معکوس واقعیتونه، او ام . هګارډ، ځواک: یو لوستونکي } نیویارک: د منچستر د پوهنتون خپرونې، ۱۳۸۱{)، په ټولنه کې د ځانګړو ډلو د امر منلو د لړۍ د توضیح لپاره پر ناسمې پوهې د تکیې کولو له کبله نیوکه کړېده، څکه دا څرګندوي چې ډلې د خپلو ګټو څخه خبر نه لري.

[۲۵] پدې راپور او د کورنۍ په نخشو کې ټول نومونه بدل شوې دي، تر څو د مرکه شویو کسانو هویت پټ وساتل شي.

د دویم مېړه د مړینې وروسته بیا واده ندی کړی. که څه هم چې ډېره بېوزله ده، مګر په بامیانو کې د خپل پلار کور ته څېرمه په خپل کور کې ژوند کوي. د مشرانو رونړو او د پلار او مور په شتون کې، لطیفې د خپل د تره او ترور د اولادونو چې له خپلې ذاتي کورنۍ سره ژوند کوي، د واده په اړه په پرېکړه کولو کې فعاله ونډه واخیسته. د یوې داسې ښځې په توګه چې خپلواکه وي خو د خپلې ذاتي کورنۍ تر څنګ ژوند کوي او د هغوی ملاتړ له ځانه سره لري، د لطیفې موقف په زیات احتمال ددې دلیل شو چې د دغه واده په اړه په پرېکړه کولو کې د هغې د نظرونو او وړاندیزونو څخه ګټه واخیستل شي.

د وخت په تېرېدو چې سړي د ښځو پر وړاندیزونو پر تکیه کولو پیل کوي، په کورني ژوند کې په پرېکړو کولو کې د ښځو ونډه زیاتېږي. د بېلګې په توګه څو ځله وموندل شول چې پکې سړیو د خپلو لوڼو د واده کولو پرېکړه وکړه چې وروسته بیا پښېمانه شوې دي. د دغې پېښې سره په غبرګون کې دغه شان سړیو یا دا چې د پرېکړو د کولو دنده په بشپړه د ښځو په غاړه اېښې یا دا چې پدې شان پرېکړو کې یې د هغوی له نظرونو څخه ګټه اخیستې ده. نوروز بای (۳ کورنۍ نخشه) چې د هرات په کلیوالي سیمه کې ژوند کوي، نه غواړي چې د خپل اولاد د واده په پرېکړه کولو کې شریک وي، ځکه ده خپله مشره لور داسې کس ته واده کړې چې سختې رواني ستونزې لري، ده پرته لدې چې دا سړی ووینې یا د ده د مېرمنې په وینا پرته لدې چې د زوم کورنۍ وپېژني، لدې واده سره موافقه کړې وه. لکه چې د ده مېرمنې (مسعودې) څرګنده کړه، د کورنۍ نور غړې نوروزبای د هغو ستونزمنو حالاتو له کبله چې لور یې ګالي، پړ ګڼي. له هغه وخته وروسته نوروزبای د اولادونو د واده په اړه پرېکړه کول زما په غاړه کړل. مسعوده وایي:

*هو، زه به پرېکړه کوم. د دغه لیوني سړي سره زما د لور د واده کولو لپاره زما مېړه د هغه کورنۍ یې مونږ ته معرفي کړه او د هغوی په وړاندې یې ښه او مثبت احساس درلود. له هغه واده وروسته زما مېړه د لوڼو د واده ټول اړوند مسائل ما ته پرېښودل ... (د زوی د واده دنده هم اوس زما په غاړه ده).*

دا چې نوروزبای د واده کولو په اړه ټول ځواک خپلې مېرمنې ته ورکړی، ښاید داسې لاره چاره وي چې د واده په اړه د هرې بدې پرېکړې له کبله د خپل ځان د پړ کېدو څخه مخنیوی وکړي، یا هم داسې استدلال کولای شو چې ده د واده په اړه د پرېکړې کولو دنده د خپلې مېرمنې په غاړه اېښې ده. که څه هم لکه چې مسعودې د څېړنې ډلې ته یې څرګنده کړه چې دغه پرېکړې ددې په غاړه دي، و یې ښوده چې ښایي دا یو فشار او مسئولیت وي، مګر مسعوده ددې فشار او مسئولیت له منلو خوښه ده. یوه ورته بېلګه د شمسیې د کورنۍ په اړه هم شته (٤ مه کورنۍ نخشه). دوی د ننګرهار په ښاري سیمه کې په یوه بېوزله کورنۍ کې ژوند کوي، چې د دوی اقتصادي ژوند د کار د شتون په صورت کې د شمسیې د پلار له عاید سره (د څېړنې په وخت کې د هغې پلار د ساتونکې دنده درلوده)، او خپله د شمسیې پر کم مګر ثابت عاید چې د لیک لوسن د زده کړې یو کورس مخ ته بیایي، تړلی دی. د شمسیې مشره خور د طالبانو په وخت کې واده شوه؛ د زوم کورنۍ رویباران ولېږل او د شمسیې پلار د خپل پلار او مور سره له سلا مشورې وروسته د خپلې لور له واده سره هوکړه وکړه. دا پداسې حال کې ده چې د شمسیې د پلار په وینا لکه څرنګه چې د طالبانو دوره وه، رویبار ته منفي ځواب ورکول ډېر ستونزمن وو. شمسیه وایي چې پلار یې د مشرې لور د واده څخه ډېر ناخوښ دی:

*زما بابا او پلار ۀ چې زما خور یې پرته لدې چې هغه په دې هکله پوه شي، کوژده کړه ... هو، دوی زما له مور سره هم خبرې وکړې او مور مې ورته وویل چې هغه کورنۍ یې نه خوښېږي او نه غواړي لور یې د هغې کورنۍ مېرمن شي، مګر پلار مې ویل چې د زوم کورنۍ ډېر ټینګار کوي، لدې کبله پلار مې د مور او خور پر نظرونو د په پام کې نیولو پرته زما د خور د کوژدې او وروسته د واده پرېکړه وکړه ... اوس زما پلار د خپلې دغې غلطۍ څخه زده کړه وکړه او په ډاډ سره ویلای شو چې په راتلونکو پرېکړو کې به هغه د هر چا نظر وغواړي.*

په چلند کې دغه بدلون د شمسیې پلار هم ومانه، پداسې توګه چې د خپلې کورنۍ په کچه د پرېکړې کولو په بهیر کې بدلون د افغانستان په حکومت کې د بدلون سره تړلی ګڼي:

*زه به ورسته لدې د اولادونو په واده کولو کې لاس وهنه و نه کړم او دوی ته به اجازه ورکړم چې په خپله خوښه واده وکړي ... دا د ډیموکراسۍ دوره ده او هر څوک خپلواک دي له هر چا سره چې غواړي واده دې وکړي.*

پداسې حال کې چې پدې بېلګو کې څېړنیزې ډلې ته شرایط داسې بیان شول چې ګواکې په کورنیو کې د پرېکړو کولو ځواک ښځو ته ورکړل شوی دی، مګر په نورو مواردو کې لکه چې ښځې یې بیانوي چې دوی دا ځواک خپله له نارینه وو څخه اخیستی دی. فوزیه چې کابو ۴۵ کاله عمر لري (۵ مه کورنۍ نخشه) او نالوستې ده، ډاډه ده چې دا به د خپلې لور د واده په اړه وروستۍ پرېکړه کوي:

*زه به زما لور هغه سړي ته ورکړم چې خپله یې غواړي. که څوک رویباران هم راولېږي، زه به له خپلې لور پوښتنه کوم چې له کوم چا سره واده کوي ... زه به خپل مېړه ته وایم چې زه یوازې یوه لور لرم او د هغه د واده په اړه بشپړ صلاحیت لرم او خپله یې واده کوم.*

د فوزیې دا پرېکنده توب د هغې بدې پرېکړې سره تړاو لري چې مېړه یې کړې وه، د فوزیې د وړاندیز پر خلاف مېړه یې د هغې ناسکه لور داسې سړي ته نکاح کړه چې هېڅکله یې د هغه کورنۍ نه وه لیدلې.

ثریا (۶ مه کورنۍ نخشه) د هرات ولایت په ښاري سیمه کې د یوې بېوزلې کورنۍ غړې او نالوستې ده، د خپلې لومړنۍ مرکې نه ترڅ کې نوموړې څرګنده کړه چې ولې په کورنۍ کې یواځینۍ پرېکړه کوونکې ده:

ما پرېکړه وکړه چې خپله لور هغوی ته واده کړم او مېړه ته مې هېڅ حق ور نکړ. هغه د دوی لپاره د پلار په شان ندی. د دوی لپاره یې څه کوي چې د دوی د واده په اړه پوښتنه وکړي؟

د دویمې مرکې په ترڅ کې ثریا پر خپل خاوند خورا مهربانه وه او خپل مېړه یې هم تر یوه حده په پرېکړو کې شریک وګڼه:

*ما (خپلې مشرانې لونې) خپله واده کړې، مګر د دې پرېکړې په اړه مې مېړه او د هغه ورو ته وویل او دوی خوښ وو او مېړه مې راته و ویل: که دې خوښه وي، ور یې کړه.*

دغه شان مېرمنې چې د خپل اولاد د واده کولو د پرېکړو صلاحیت یې په خپله اخیستی دی، په ډاډ سره ویلای شو چې ډېرې کمې دي چې د دوی د کورنۍ وضعیت نامعمول دی. فوزیه یوه نالوستې ښځه ده چې د خپل مېړه او د هغه له دوو نورو مېرمنو او د مېړه د کورنۍ د بل هر غړي څخه جلا د بامیانو په یوه کلي کې ژوند کوي. نوموړې د جمعه علی دویمه مېرمنه ده چې د پنځو ماشومانو څخه یواځې یوه لور یې یواځې یوه لور ژوندی ده. کله چې یې مېړه دریمه ښځه وکړه، فوزیه له خپل مېړه څخه ګوښې شوه، او ورته یې ویل که چېرې د هغې لپاره جلا کور جوړ نه کړي، د هغه څخه به طلاق واخلي. ثریا هم نالوستې ښځه ده چې هغه هم د مېړه د کورنۍ له هېڅ غړي سره یو ځای ژوند نه کوي، او له کله چې د مېړه د تاوتریخوالي په وړاندې ودرېده، وتوانېده چې پر هغه تسلط ولري. د ثریا د ماشوموتوب کیسه ډېره غیرې معموله ده: تر هغه وخته چې د بلوغ عمر ته نه وه رسېدلې او واده یې نه ؤ کړی، د یوه هلک په شان لویه شوې وه- چې دا ښایي پدې موضوع چې پر مېړه تسلط ولري هم اغېزمنه وي. مېړه یې له نوموړې څخه ۲۰ کاله زیات عمر لري او اوس مهال په بشپړه توګه کمزوری شوی دی، چې دې موضوع هم د اولاد د واده کولو په اړه د پرېکړو د صلاحیت په اخیستو کې د ثریا سره مرسته کړېده. مېړه یې د لاسي کراچۍ په وسیله کار کوي او د ثریا په وینا د کورنۍ لومړنۍ اړتیاوې نشي پوره کولای- او دا هغه څه دي چې له کبله یې ثریا خپل مېړه د اولادونو لپاره ښه پلار نه ګڼي.

آن په هغه صورت کې چې د کورنۍ سرې وروستې پرېکړه کوونکې هم وي، هغه بهیر چې د واده په اړه په کې پرېکړه کېږي ښځو ته دا فرصت ورکوي چې پر وروستۍ پرېکړه اغېزه ولري. تر ټولو څرګنده لاره چې ښځې وکړای شي د خپل نفوذ څخه کار واخلي، کم تر کمه دهغو ودونو په اړه چې د کورنۍ غړې ورسره پېژندګلوي نه لري، د ژوند د راتلونکو ملګرو له کورنیو سره د لیدلو د فرصت کارول دي. دا هغه ټکی دی چې د بامیانو یو سپین ږیری سړی یې څرګندوي:

*هو، ښځې ما ته وایي چې پلانۍ ښه نجلۍ ده، ښه اخلاق لري، د کور کار یې زده دی او د ښې کورنۍ څخه ده، هو ، هغوي هم په پرېکړه کولو کې ګډون کوي.*

لکه څرنګه چې د څېړندود په اړونده برخه کې پرې بحث وشو، ستونزمنه ده چې د ډېرو با استناده مواردو په اړه د ولایتونو د توپیرونو په اړه قضاوت وشي. سره له دې هم ښځې پدې ټولو ولایتونو کې د کورنۍ د غړې د ژوند د راتلونکي ملګري په ټاکنه کې شریکې دي، لکه چې څرګندېږي د بامیانو ښځې د نورو ولایتونو په پرتله پدې برخه کې زیات نفوذ لري. دغه چاره د هزاره ګانو ښځو د خوځښت له کچې سره تړلې ده او د هغې دلیل هم د افغانستان د نورو سیمو په پرتله پدې سیمه کې د جنسیت د بېلوالي د سختو نورمونو د لږوالي او د ښځو د لږګوښه پاتې کېدل دي.

ښځې کله ناکله د واده د پرېکړې په پایله د نفوذ کولو د پټو لارو په موندلو بریالۍ کېږي. پداسې حال کې چې ښایي د دغه شان بېلګو څېړنه او په اړه یې راپور د یوې کورنۍ سره د اوږدمهال ژوند کولو پرته ستونزمن وي، د مرکو د یادښتونو د کره څېړنې له لارې دغه شان ځینې بېلګې لیدلای شو. د دغو مواردو یوه بېلګه هغه ونډه ده چې عاطکې د خپل مشر زوی د واده په اړه د پرېکړې په پایله کې درلودلې ده. عاطکه د بامیانو په یوه کلیوالي سیمه کې د خپل مېړه حلیم او پنځو ماشومانو سره ژوند کوي چې ماشومان یې ټول له ۲۰ کلونو کم عمر لري (۷ مه کورنۍ نخشه). د خپلې مېرمنې د خوښې پرته حلیم د خپل زوی کوژده یې د خپلې خور له لور سره کړې وه. دغه کوژده اوس فسخه شوېده. د هغې تشریح په اوریدو سره چې حلیم یې د خپل زوی د کوژدې د فسخه کېدو په اړه ورکوي، ویلای شو چې عاطکې د دغه واده په مخنیوي کې دخالت کړی دی:

*دواړو لورو پرېکړه وکړه چې (کوژده فسخه کړي). مېرمنې مې خور ته وویل چې زما زوی نه غواړي د هغې له لور سره واده وکړي، د هغې په وړاندې زما خور هم ځواب ورکړ چې لور یې زمونږ له زوی سره ژوند کولو ته حاضره نده ...، ځکه زما زوی ویلې وو چې دا نجلۍ نه مني.*

حلیم ښایي خپل ځان په کورنۍ کې اصلي پرېکړه کوونکی وګڼي؛ که څه هم چې مېرمنې یې هغه پرېکړه چې د دې خوښه نه وه، فسخه کړې.

## ۲,۴ دواده په اړونده پرېکړو کې د ښځو د نفوذ محدودونکې عوامل

د هرې کورنۍ چاپېریال کولای شي د کورنۍ د غړو د واده په اړونده

پرېکړو کې د ښځو له ګډون څخه مخنیوی وکړي. په پرېکړو کې د سپین سرې ښځې تسلط کېدای شي د ځوانو ښځو د پرېکړې کولو د ځواک د له منځه تګ لامل شي- په ځانګړې توګه هغه ښځې چې د هغوي د زامنو په اړه پرېکړه کېږي. د بېلګې په توګه ښايي د مور په ځای د مور د خواښې سلا او نظر واخيستل شي. شيرين ورته کيسه لري ( ۸ مه کورنۍ نخشه) . نوموړې د ننګرهار ولایت په یوه کلیواله سیمه کې ژوند کوي او کابو ۳۳ کاله عمر لري. د شيرين مور د هغې له واده سره مخالفت کړی ؤ ځکه شيرين د واده کېدو عمر نه ؤ بشپړ کړئ. د شيرين پلرنۍ انا خپله پرېکړه پر دوی وتپله او ويې ويل چې شيرين بايد واده شي. شيرين څرګنده کړه چې د پلار لپاره يې چې هغه هم له دې واده سره مخالف ؤ، څومره ستونزمنه وه چې د خپلې مور د خوښې خلاف او د مېرمنې د خوښې سره سم د خپلې لور د واده پرېکړه وکړي، ځکه د شيرين پلرنۍ انا خپل زوی په يواځې سر لوی کړئ ؤ او بيا واده ته يې زړه نه ؤ ښه کړئ، نو له دې کبله يې زوی د هغې خبره نشوای ردولای. هغه فشار چې په ورته حالاتو کې د شيرين مور او نورې میندې د خپلو اولادونو د واده په پرېکړو کې ورسره مخ دي، خپله ددې څرګندونه کوي چې میندې تر کومه حده ددې انتظار باسي چې د خپلو اولادونو د واده په اړوندو پرېکړو کې شريکې وي.

لکه چې وموندل شوه، زياتره وخت هغه مېرمنې چې مستبد او غوسه ناک مېړونه لري، ښايي د خپلو اولادونو په پرېکړو کې شريکې نه وي، چې ښايي له دې کبله دوی ته د خپل دوديز رول د ادا کولو اجازه نه ورکوي. د بېلګې په توګه زيبا چې د باميانو د ښار د يوې نسبتاً شتمنې کورنۍ تر ټولو زيات عمر لرونکې مېرمنه ده، د هغې ډېر غوسه ناک مېړه ( کابو ۶۵ کلن) هغې ته اجازه ور نه کړه چې په ټولنه کې تګ راتګ ولري (۹ مه کورنۍ نخشه). د هغې زوی بصير څرګنده کړه چې څرنګه د نوموړې مور نه شي کولای د خپل اولاد د ژوند د ملګرو په ټاکلو کې ونډه ولري لکه چې نورې ښځې يې کولای شي.

د ننګرهار د ښاري سيمې اوسېدونکې جميله د دغه شان مېرمنو يوه بله بېلګه ده چې د واده په اړونده پرېکړو کې د دوی نه شريکتوب د مېړونو د غوسه ناک والي له کبله دی. جميله مونږ ته وايي چې څرنګه يې مشره لور د مېړه له خوا کوژده کړای شوه پرته له دې چې د مور څخه يې څه وپوښتل شي:

*کله چې زمونږ لور کوژده شوه، مېړه مې مونږ خبر نه کړو. په هغه وخت کې زما لور يواځې شپږ کلنه وه؛ شپږ مياشتې وروسته هغه واده شوه. کله ناکله زه خپل مېړه ته وايم چې که خپل زوی ته واده وکړو، هغه هم وايي چې دغه کار به وکړو مګر زه به د هغه لپاره داسې نجلۍ پيدا کوم چې ډېره ښکلې وي، نو کله چې دغه پرېکړه کېږي، خاوند مې پرېکړه کوونکی دی.*

که څه هم چې جميله پدې حالت خوښه نده:

*"هو. زه هم غواړم چې په پرېکړه کولو کې شريکه اوسم، ولې نه؟ دوی زما اولادونه هم دي. زه هم غواړم د دوی د ودونو په پرېکړو کې ونډه ولرم، مګر په خواښينې سره چې زما مېړه داکار کوی. مېړه مې ماته اجازه نه راکوي چې پرېکړه وکړم ځکه وايي: ښځې پخه پوهه نه لري، نو ځکه زه له ښځو څخه د ستونزمنو مسائلو په اړه پوښتنه نه کوم. يواځې زه بايد پرېکړه وکړم".*

ډېرکم شمېر هغه ښځې چې د اولاد د واده په پرېکړو کې شريکې نه دي، دا موضوع له کلتوري نورمونو سره تړلې ګڼي. د بېلګې په توګه يوه ورېندار او يوه د مېړه خور چې د ننګرهار ولايت د ښاري سيمې په يوه لويه کورنۍ کې ژوند کوي، دواړو وويل چې د دوی د کورنۍ نارينه د واده پرېکړې کوي (۱۰ مه کورنۍ نخشه) . دوی په دې باور دي چې دا د دوی په سيمه ايزه ټولنه کې يو طبيعي څيز دی.

*که مونږ مخالف وو او که موافق، څه مو له لاسه پوره ندي دا زمونږ دود دی. که مونږ دا و نه منو چې دا کار د نارينه وو اړوند دی، د وخت په تېرېدو به يې خپله ومنو، ځکه مونږ پښتانه يو.*

-سرورو، د ننګرهار د ښاري سيمې اوسېدونکې

*يو بل څه چې بايد تاسو ته وويل شي، په حقيقت کې خاوند مې پر ټولو اولادونو صلاحيت لري. زه د پرېکړې کولو ځواک نه لرم ځکه نارينه وايي چې دا نارينه دي چې پرېکړې کوي، نه ښځې.*

-کامله، د ننګرهار ولايت د ښاري سيمې اوسېدونکې

بايد وويل شي چې دواړې پورتنۍ مېرمنې په دوديزو ( محافظه کارو) کورنيو کې ژوند کوي ( چې پدې اړه به لاندې کوچنيو برخو کې بحث وکړو.

د دغې ځېرکې دوې لومړۍ برخې د کورنيو د ځانګړو حالتونو ډيپژندو په اړه بحث کوي چې ښايي د د وی اولادونو په پرېکړو کې د ښځو د نفوذ د زياتېدو لامل شي. لمړی، لکه چې وموندل شوه، د ټولنو ډېر شمېر خلک په دې باور دي چې ښځې هم بايد د واده په اړوندو پرېکړو کې شريکې وي، دليل يې هم همدغه ساده خبره ده چې ښه پرېکړه وشي. که څه هم چې دا عمومي باور نه دی؛ ځينې ښځې د ودونو په پرېکړو کې د نه شريکوالي دليل ټولنيز نورم ګڼي. دويم، څرنګه چې د ښځو عمر زياتېږي، نو په کورنۍ کې د هغوي موقف لوړېږي، نو له دې کبله هغه ارزښت چې د دوی پرېکړو ته ورکول کېږي هم زياتېږي. دا موضوع په ځانګړي ډول د هغو کونډو ښځو په اړه چې د کورنۍ مشري هم په غاړه لري، زياته رښتيني ده. په عين حال کې هغه موقف چې سپين سرې ښځې يې لري، ښايي په کورنۍ کې د ځوانو ښځو په ځانګړې ډول د هغو ميندو چې له خواښې سره يو ځای ژوند کوي، د ګډون کچه محدوده کړي. دريم ، په ځانګړو کورنيو شرايطو کې ځواني

ښځې هم کېداي شي په پرېکړو کې شريکې وي، د بېلګې په توګه کله چې هغوی په کورنۍ کې يواځينۍ واده شوې يا هم مشراني وي، خو دا يو ځانګړی حالت دی ( لکه لطيفه). څلورم، په کورنۍ کې د ښځو نفوذ کېدای شي د وخت په تېرېدو زيات شي په داسي توګه چې نارينه هغوي ته زيات ځواک او نفوذ ورکړي يا په هغه صورت کې چې ښځې د پرېکړې کولو مسئوليت اخيستو ته غاړه کېږدي. پنځم، د ژوند د راتلونکو ملګرو د کورنيو سره د ښځو د کتنې ونډه په عمومي توګه منل شوې ده ( که څه هم چې ځيني ځانګړې ښځې چې د مېړونو له زياتي غوسې سره مخ دي دغه چاره نه شي تر سره کولای). او وروستی، بايد په ياد ولرو چې آن په هغو شرايطو کې چې ښکاري ښځې د واده په پرېکړه کې هېڅ ګډون نه لري، ښايي دوی داسې لارې ومومي چې په پټه توګه پر پرېکړو نفوذ ولري.

## ۳,۴ د واده په اړونده پرېکړو کې د نارينه وو پر نفوذ اغېزمن عوامل

د اولادونو د واده په اړوندو پرېکړو کې د نارينه وو د نفوذ کچه هم په هره کورنۍ کې توپير لري. د ځواک هغه کچه چې په عمومي توګه نارينه يې په افغاني ټولنه کې لري، معمولاً د ښځو په پرتله هغوی ته زيات نفوذ ورکوي، مګر ددې سره سره ټول افغان نارينه د واده په پرېکړو کې ګډون نه لري، که څه هم چې د دوی کچه د ښځو په پرتله کمه ده. پداسې حال کې چې پلرونه، بابا ګان، ماما ګان ، کاکا ګان او ورونه کېدای شي د پرېکړې کولو په بهير کې مهم رول ولري، د دوی د نفوذ توپير لرونکي کچه د کورنۍ د غړو تر مينځ د فردي اړيکو او د واده په اړه د پرېکړې کولو په وخت کې د کورنۍ له جوړښت سره تړلې ده.

ځيني وخت د مېندو په شان پلرونه هم د اولادونو د ودونو په اړه د پرېکړې په کولو کې د برخې اخيستو څخه بې برخې وي يا هم د کورنۍ د مشرو کسانو په پرتله کم نفوذ لري. د بېلګې په توګه ساغر چې د کابل ښار يوه ۶۰-۷۰ کلنه اوسېدونکې ده، ووېل چې دا يې د مېړه د مور او پلار پرېکړه وه چې مشره لور يې واده کړي- او خپله دا او مېړه يې په پرېکړه کې شريک نه وو. که څه هم چې درې نورې لوڼې يې خپله د مېړه په خوښه واده کړې دي. په داسې حال کې چې راټول شوې مالومات نه څرګندوي چې دغه شان بدلون څرنګه راغلی دی، مګر انځورولای شو چې د وخت په تېرېدو سره چې ساغر او د هغې مېړه زيات وخت سره تېر کړ او لوی اولادونه يې زيات شول، په کورنۍ کې د هغوي موقف لوړ شو- او دوی ته دا فرصت په لاس ورغی چې د پرېکړې په وخت کې خپل صلاحيت وښيي.

کاکا/ ماما معمولاً مشر کاکا يا مشر ماما کولای شي د خپل خورې يا خوريۍ يا هم وراره او ورېرې د واده پر پرېکړه د پام وړ نفوذ ولري. دا موضوع په ځانګړي ډول هغه وخت صدق کوي چې بابا ډېر سپين ږيری شوی وي يا هم مړ شوی وی، چې په پايله کې يې په کورنۍ د هلک يا نجلی په کورنۍ کې د مشر کس نارينه او يا ښځې د نشتوالي لامل شوی وی. همدارنګه وليدل شوه چې په هغه صورت کې چې ورونه له کورنۍ څخه جلا هم وي، خو بيا هم د بل وړور پر پرېکړو د پام وړ اغېزه کولای شي. د دغې موضوع بېلګه د جلال آباد په ښار کې د رياض کورنۍ ده (۱۱ مه کورنۍ نخشه)، چې د ننګرهار د زياتره کليوالي کورنيو په شان له بېوزلۍ سره مخ ده او له کله کله هم د بسيا کوونکي ډوډۍ په موندلو کې له ستونزو سره مخ وي[۲۶]. د رياض يو وړور په هماغه ځای کې چې رياض ژوند کوي، اوسېږي. دوه نور ورونه يې له دوی څخه جلا ژوند کوي. د رياض په وينا کله چې يې د اولاد د واده خبره راځي، هغه او ورونه يې پرېکړه کوونکي وي؛ مېرمن يې هم دا خبره مني. همدارنګه زلمی د رياض کوچنی وړور وايي چې که يې ورونه د پرېکړې په وخت کې د هغوی کور کې حاضر وي نو دی او ورونه يې پرېکړه کوي او که هغوي نه وي نو بيا خپله زلمی د خپلې مور او مېرمنې سره يو ځای پرېکړه کوي. لکه چې ښکاري پدې کورنۍ کې ښځې يواځې هغه وخت خپل نظر څرګندولای شي چې د اولادونو کاکا ګان يې حاضر نه وي.

د واده په پرېکړو کې د کاکا ګانو د پام وړ نفوذ يوه بله بېلګه د ننګرهار ولايت يوه کليواله کورنۍ ده. که څه هم چې پدې برخه کې د کورنۍ کوچنی وړور دی چې له کورنۍ څخه بېل اوسېږي او زيات نفوذ لري ( ۱۲ مه کورنۍ نخشه). د کورنۍ د مشر وړور مېرمن صنوبر وايي چې څرنګه د هغې کشر لېور د هغې د ودونو په پرېکړو کې د خپل نفوذ څخه کار اخلي:

> *دا پرېکړه زما په خاوند پورې اړه نه لري. خاوند مې له هغه څه سره چې يې وړور عبدالفتاح ووايي موافقه کوي. که زما خاوند د خپل کشر وړور نظرونو ته پاملرنه ونه کړي، په هغه صورت کې به عبدالفتاح له مونږ څخه خپه شي، چې دا په هېڅ توګه د منلو وړ نه ده.*

د دغې موضوع درک چې ولې عبدالفتاح د خپل مشر وړور په ژوندانه کې پدې اندازه نفوذ لري- ستونزمن دی، مګر د زده کړې لوړه کچه او ښه اقتصادي موقعيت يې پدې برخه کې زيات ارزښت لري. د يادولو وړ ده چې عبدالفتاح د صنوبر د مشر زوی د واده په اړه پرېکړه وکړه خو دغه واده د کورنۍ د ټولو غړو په اند د ښې پايلې لرونکی نه ؤ. که څه هم چې د نورو هغو مواردو په خلاف چې مخکې يې يادونه وشوه، دا چاره ددې لامل نه شوه چېي عبدالفتاح د خپلې پرېکړې کولو له نفوذڅخه تېر شي[۲۷].

---

[۲۶] د رياض د کورنۍ په اتمه برخه کې په تفصيل سره د رياض او د هغه د دوو ښځو د اړيکو وضعيت راغلی دی.

[۲۷] د دغې واده پايلې په ۵ او ۸ برخو کې تر بحث لاندې نيول شوی دی.

یوائې کاکا گان نه دي چې کولای شي د خپل ورو د اولادونو د ودونو په پرېکړو کې ونډه ولري، بلکه مشران وروڼه هم د خپلو کشرانو وروڼو او خویندو په ودونو کې ونډه اخلي. په ځینو وختونو کې دا ښايي د پرېکړې کولو د پروسې د سلامشورې یوه برخه وي، په ځانگړې توگه کله چې د کورنۍ پلار مړ شوی وي نو د کورنۍ مشران وروڼه په کورنۍ کې د پرېکړې کولو اصلي ونډه ولري (چې غالباً دغه مسئولیت د دوی د کونډې مور تر څنگ ترسره کېږي). د ځینو لپاره پدې مانا ده چې وروڼه کولای شي د خپلو خویندو د خوښې پر خلاف پرېکړه وکړي، لکه چې دغه ځوانه مېرمن د خپل مېړه د خور په اړه وایي:

*نجلۍ خپله راضي نه وه، مگر وروڼو یې غوښتل چې دغه واده وشي، ځرنگه چې نجلۍ وه نو د اړتیا له مخې یې ومنله.*

په نورو مواردو کې وروڼه کېدای شي د خپلو خویندو د سوکالۍ ملاتړې وي. دغه شان بېلگې هغه وخت څرگندې شوې چې وروڼو هڅه کړې د هغو کسانو سره د خپلو خویندو د واده مخه ونیسي چې خویندې پرې خوښې نه وي. په یوه پېښه کې د ننگرهار یو کلیوالي سړی وایي چې پلار یې له هغه څخه د کور د پرېښودو غوښتنه کړې ده ځکه چې هغه د یوه سړي سره د خپلې خور د واده په اړه په خپل مخالفت سره د زیاتو بحثونو لامل شوی ؤ. په یوه بله بېلگه کې د کابل په یوه کلیوالي سیمه کې د خور د کوژدې په اړه د پلار او وروړمخالفت د نجلۍ د ورور او د هغې د مېړه تر منځ د چاقو د جگړې لامل شو. په دواړو پورتنیو پیښنو کې د وروڼو مخالفت دوام وموند مگر خویندې یې هماغو کسانو ته چې کورنۍ خوښ کړې وو، واده شوې.

## ۴,۴ پایلې

په دې برخه کې هغه بیلابیلې ونډې چې د کورنۍ د اولادونو د واده په اړه یې د هغې کورنۍ نارینه او ښځینه غړي لري، تر بحث لاندې نیول شوې دي. څرگنده شوه چې په کورنۍ کې د ودونو د پرېکړو په څرنگوالي کې د پام وړ توپیرونه شته. نه یوائې د نسلونو او جنسیتي تحرکات په پرېکړو کې د نارینه وو په پرتله د ښځو پر نفوذ اغېزه لري، وروسته له دې د یوې کورنۍ جوړښت او د کورنۍ د هر غړي د ژوندانه شالید هم اغېزه درلودلای شي. همدارنگه د هرې کورنۍ شرایط کولای شي په پرېکړو کې د نارینه وو د گډون کچه اغېزمنه کړي.

پداسې حال کې چې په کورنیو کې د ودونو پر پرېکړو د کاکا گانو او وروڼو د نفوذ ورته بېلگې موندل کېږي، او دا چې په عمومي توگه (نه ټول) پدې باور دي چې ښځې باید د ودونو په پرېکړو کې گډون ولري، په پرېکړو کې د کورنۍ د بیلابیلو غړو د گډون لاره ډېره پېچلې ده. همدارنگه په ډېره کمه موده کې کېدای شي په یوه کورنۍ کې د پرېکړې کولو بهیر بدلون و مومي. دغه عوامل له یو بل سره یو ځای کېږي او څرگندوي چې د جنسیتونو تر مینځ د چلند لپاره کلتوري تمې او نورمونه موجودې دي، که څه هم چې ثابت نه دي؛ دهغه پر ځای دغه توقعات تعدیلیږي خو د هرې کورنۍ له شرایطو سره په ځانگړې ډول سمون مومي.

## ۵. اړايستنه اوواک ورکونه ــ دواده په پرېکړو کې داولادونو ونډه

په دي برخه کي دواده کولو په اړوند پريکړو کي داولادونو[۲۸] اغيزه اونفوذ څېړل کېږي. ددې برخې په پيل کي داجباري واده کولو مفهوم بيان شوی دی او د وراندیزشويو طرحوسره سم د"اړايستني"اويا"نه اړايستني" د دودونو له مفهوم څخه ګټه اخيستنه زياته ساده جوړونه ده اوښايي د ودونو د کېدو په اړه د سم درک د خرابېدولامل شي. ددې پر ځای، دوګړو د نفوذ بڼه دخپلو ودونو په اړوندو پرېکړو کې د يوې معلومې لړۍ له مخې چې د اړايستني څخه پيل اوپه واک ورکونه پای ته رسيږي ، ديوهيدلوښه لاره ده . ددې برخې دويمه نيمايي دې ټکي ته ځانګړې شوې چې اولادونه په خپلو ودونو پورې اړوندو مسايلو کې څومره نفوذ بايد ولري هغه موضوع ده چې تر څېړنې لاندې تولنه کې د ازاد بحث لپاره ټاکل شوې وه دغه موضوع دخلکودنظرياتو اودفرهنګي نورمونو څخه دهغوی دتعريف په منځ کې دتضاد ښکاره کونکې ده . دبيلګي په توګه په داسې حال کې چې دمرکې ډېراوريدونکي په دې باور ؤ هغه کسان چې له واده کولو څخه ټينګته کوي ، که هلک وي اوکه نجلی وي ، بايد ددې ځواک ولري چې پدې اړه دخپل نظر اظهار وکړي (دبيلګي په توګه لړ ترلږه دژوند دملګري دردکولو حق) لکه چې توضيح ورکړشوې، اوڅېړونکي په دې پوهيدلي چې دغه کارپه حقيقت کې ډېرکم احتمال لري . دويم، فرهنګي نورمونه ثابت نه دي ، هغه خلک چې په ځايي تولنه کې ژوند کوي لکه څرنګه چې څرګنده شوې همدې ته ورته شاليد لري. د شته نورمونو په اړه بيلابيل بشپړ توپير لرونکي نظرونه شته. دريم، پدې وروستيو کلونو کې دخپلو ودونو په پريکړوکې د ځوانانو د برخې اخيستنې بدلون د پام وړ دی . دې موضوع ته په پام سره چې کېدای شي په واده کولوپورې تړلو پريکړو کې د اولادونوپه نفوذ کې بدلون راوستل شي . ددغه کار د کولو لپاره د داسې چاپيريال رامنځ ته کيدو ته اړتيا ده چې زور واکې په کې کمه اوخپلواکي په کې زياته وي.

### ۵، ۱ په افغانستان کې داجباري واده پيژندنه

په افغانستان کې تر ټولو زياته پاملرنه اجباري واده ته کېږي[۲۹]، پداسې حال کې چې داجباري ودونو بنسټ او دليلونو پيژندلو ته لږه پاملرنه کېږي .په دې برخه کې داجباري واده کولو د مفکورې په اړه خبرې اترې کېږي په داسې حال کې چې له هغې څخه ګټه اخيستنه د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي سره د مبارزې د ملاتړکوونکو سازمانونو لپارهٔ يوه ښه وسيله ده او ددې کلتور دودول دي چې ښځې اوسړي په بشپړه خپلواکۍ سره ( په خپله خوښه) يوله بل سره واده وکړي، چې دا د افغانستان په شرايطو کې دهغه لارو چارو د يوهيدو لپاره چې دهغو په ترڅ کې د واده پريکړې تر سره کيږي لږ اغيزمن مفهوم دی. (داجباري واده کولو) د اصطلاح څخه د اجباري واده کولو په اړوند لومړی فکر چې د ډيرو خلکو په ذهن کې راپيدا کېږي، دادی چې ډيرځله يوه ځوانه نجلی په زور سره اړ ايستل کيږي چې ديوه زاړه سړي سره واده وکړي . همدارنګه د دغې اصطلاح اطلاق په هغو ودونوهم کيږي چې د ناوړه استفادې، زور زياتي اويا نامشروع لارې سرته رسيږي[۳۰]. که يوه ځوانه نجلی له واده کولو انکار وکړي اويا د يوه معلوم سړي سره په واده کولو خوښه نه وي ، خو په پاي کې بې له کوم زور زياتي څخه واده وشي ،او د مېره او ښځې له لورې يوه خوښې وګڼل شي او همدارنګه دعمر له لحاظه يوله بل سره نږديوالی ولري، هغه يو اجباري واده نشي ګڼل کېدای. د مرکې کېدونکو څخه يوشمير کسانو خپل ودونه يې اجباري ودونه بللي دي او همدارنګه دا يې څرګنده کړې چې اوس دوی له خپل واده څخه راضي دي . له دې کبله، دغه پوښتنه بايد وشي چې ايا واده هغه وخت اجباري بلل کيږي چې په کې د زور زياتي څخه کارواخيستل شي؟ دښځې څخه ناوړه ګټه واخيستل شي او د مېره عمر له ميرمنې څخه ډير وي؟ آيا يوائې نجونې دي چې په زوراو د خپلې خوښې په خلاف اړ ايستل کيږي چې واده وکړي؟ همدارنګه لکه څرنګه چې ښځې اونجونې واده کولو ته اړ ايستل کيږي کله کله سړي او هلکان هم د دوی دخوښې پرته واده کولوته اړايستل کيږي چې دغه کارښځې اوسړي لپاره چې په زورسره واده کيږي، بدې پايلې لري. همدارنګه ښايي يوه کورنۍ د بلې کورنۍ له خوا دې ته اړه شي چې د خپل د ويه غړي واده د داسې کس سره وکړي چې خوښ يې نه وي. ډير ځله کلتوري دودونه خلک اړ کوي چې له خپلې خوښې پرته دخپلو اولادونو واده وکړي. دغه بېلابېلې کړنې چې اجباري واده هم پکې شامل دی دباميانو په ښارکې د ځوانو نارينه وو ديوې ډلې له خوا په يوه ډله ايزه مرکه کې را وپيژندل شوې.

> *کله کله اجباري ودونه هغه وخت رامنځ ته کيږي چې ديوه هلک پلار دلور دغوښتلو لپاره لاړ شي که چيرې يې دهغې لور خوښه شي نو که چيرې د نجلې پلار له دې کار سره موافقه ونه لري نو د دوی له خوا هغه ګواښول کيږي . په داسې وخت کې دنجلې پلار اړ ايستل کيږي چې د کوژدې د وړانديز سره هوکړه وکړي که څه هم چې لوربې راضي هم نه وي .کله کله خلک د لور پلار په وژلو ګواښوي چې پداسې حال کې طبعاً دواده منلو ته اړايستل کيږي.*
>
> ــ د باميانو د ښاري سيمې يو ځوان سړی (۱).

[۲۸] په دغه راپور کي د (اطفالو) له کلمې موخه په کورنۍ کي دغړيو موقعيت وي نه دا چې دغه شخص د۱۸ کلونو له عمر څخه کم وي

[۲۹] دبيلګې په تو ګه ، دجمهورريس خبرې دمارچ په ۸ د۲۰۰۸ کال چې په هغه ورځ يې دخپل وطن له خلکو وغوښتل چې دخپلو کم عمره لور ګانو له ودولو څخه ځان وساتي (دخبرونو مرکز افغا نستان دمارچ ۸ ۲۰۰۸ کال )

[۳۰] دبيلګې په توګه هغو کېسو ته چې داجباري ودونو او ماشومانو په اړه د ببښنې د نړيوال سازمان لخوا برابر شويدي پاملرنه وکړئ (افغانستان : ښځې تر اوسه تر بريد لاندې دي دهغوی په ساتنه کې دسيستماتيکه ماتې، ASA ۰۵/۰۷/۱۱ ( انټرنټ) ۲۰۰۵، پدې ببلګو کې د ښځې او مېړه تر منځ يا ډېر اوږد واټن ( په يوه بېلګه کې ۳٦ کاله) شته يا هم مېړونه داسې توصيف شوي چې ډېر غوسه ناک وي.

*هغه وخت چې ښځه په زورسره دمیړه کورته وروستل شي، هم اجباري واده بلل کیږي. داجباري واده یو بل ډول دادی چې مور او پلار خپله لور پرته له دې چې هغه راضي وي واده کوي، او یا دا چې مور اوپلار یوه نجلۍ خپل زوی ته واده کړي په داسي حال کې چې هغه پرې خوښ نه وي .*

ـد بامیانو د ښار ځواناوسپدونکی (۲)

اجبار بیلابیل ډولونه لري، د دواړو فزیکي اجبار او یا هغو غوښتنو ته چې کېدای شي ډیرې جدي وي غوږ نه نیونه او دا چې بله لاره هم موجوده نه وي دبیلګي په توګه تولنیز فشارونه چې په پراخه پیمانه تپل کیږي تر دې پورې چې د منلو پرته بله لاره هیڅ شتون ونه لري

داجباري واده معیاري تعریف دادی چې ((نجلی او هلک دواړه یا هم یو له هغوي څخه و نه شي کولای د واده کولو په اړه خپل نظر په خپلواکه توګه وړاندي کړي[۳۱] یا که چیرې(( یوه کورنۍ پریکړه وکړي چې بی له رضایته خپله لور یوه سړي ته واده کړي[۳۲]. که څه هم چې دا هم ارزښتناکه ده چې پوه شو کله کله ځیني کسان په واده کولو خوښ نه وي خو د ځانګړو دلایلو له کبله دې کار ته حاضریږي. ښایي هغه وخت چې له هلک او یا نجلی څخه د دوی درضایت په اړه پوښتنه وشي د دوی کورنیو مخکي د دې کار له کولو سره موا فقه کړې وي، په دې صورت کې دوی بی له موافقت څخه بله لاره نه لري .په همدې ترتیب کله چې یو ماشوم دواده په کولو راضي کیږي ښایي چې دواده کولو، دژوند د راتلونکي ملګرې، خسر په مانا و نه پوهیږي، او یا دا چې واقعا د واده د مفهوم په اړه بشپړ معلو مات ونه لري . ښایي ماشومان آن هغه وخت چې د۱٦ کلونو څخه یې عمر لوړیږي هم ددغه مالوماتو دلاس ته راوړلو څخه په قصدي توګه بې برخي ساتل کیږي. (په افغانستان کې دنجونو دواده کولو لپاره ۱٦ کلني قانوني عمر دی )[۳۳].

کله چې ماشومان دهغو کسانو سره له واده کولوڅخه ډډه وکړي چې دوی پرې راضي نه وي او یا په هغه وخت کې د هغو له غوښتنو سره مطابقت نه کوي ښایي د تولنیزو او یا احساساتي فشارونو سره مخ شي. لږ ترلږه دمور او پلاراو یا دکورنۍ دنورو غړو له خوا پرې فشار راوړل کیږي خو ماشوم نه غواړي هغه وړاندیز رد کړي چې مور او پلار یې دښه والي فکر کوي . په خپل وار سره تولنیز، کلتوري او یا کورني فشارونه تر دې اندازې پراخه وي چې یو شخص ماتي ومني ، پدي توګه چې بله هیڅ لار ونه لري . له دې کبله د واده کولو په اړوند پریکړو کې ما شوم په مفهومي ډول دانتخاب او اړ ایستني تر مینځ رول لري ، په یوه حالت کې په ښکاره توګه واده اجباري وي او په بل ځای کې دواړه لوري یو بل ټاکي او یا خوښ وي او واده کولو ته لیوالتیا لري او په ترون راضي وي. د واده د بیلابیلو ډولونو سره په تړاو کې پریکړه کول، هغه واده چې د کورنۍ یا ټولو له خوا تپل کیږي، داجباري واده او دخپل ژوند دملګري دټاکلو او دواده کولو د وخت په منځ کې راځي.

## ۵,۲ رضایت په پوهه او یا په اړ ایستنه ؟

*مونږ دا دود لرو چې مور او پلار څه وایي زامن او لوڼي باید هغه ومني که څه هم چې دزړه له کومې پرې خوښ نه وي.*

ـد بامیانو د کلیوالي سیمې ځوان اوسپدونکی

سره له دې چې تر څیړنې لاندې ټولنو کې د ماشومانو د خپلې خوښې واده کولو په اړه یو ټولیز نظر بیان شو. دڅیړنې په ترڅ کې وموندل شول چې دماشوم دخوښی په اړه پوښتنه په ځانګړې ډول د نجونو په اړه نه یواځې دا چې په دوی پورې محدوده نه وي ډیر ځله یواځې په رسمي ډول تر سره کیږي. د هرات ولایت د یوې کلیوالي سیمې د سپین ږیرې جلیل وینا ده چې په څه ډول له پریکړې څخه یې وروسته له خپل زوی سره یې سلا مشوره وکړه:

کله چې ما پریکړه وکړه خپل زوی ته واده وکړم . خپله وریره مې ورته خوښه کړه. وروسته مې له خپل زوی احمد سره سلا وکړه او هغه ته مې وویل چې ما دتا لپاره خپله وریره خوښه کړې ده آیا ستا خوښه ده ؟ زوی مې په داسي حال کې چې شرمېده ماته یې وویل زه او زما ښځه باید پریکړه وکړو: که چیرې تاسي زما لپاره ټاکنه کړې وي کومه ستونزه نشته، ښه ده.

په ټولنیز ژوند کې د ډیرعمر کسانو په ځانګړي ډول د مور اوپلار د خبرې منل د ښو کړو وړو په مانا ده. د اولادونو لپاره که نارینه وي اوکه ښځینه، لږعمرولري اوکه ډیر، دموراو پلار د پریکړو څخه مخالفت ډیرستونزمن دی. ډیر اولادونه دهغو ودونو سره چې په بشپړ ډول یې خوښ نه وي خوښي څرګندوي ترڅو مور اوپلار یې خپه نشي اویا کلتوري تمي تړپښولاندې نه کړي. د بیلګي په توګه دهرات ولایت له یوه کلي څخه یارمحمد داسي څرګندوي چې هغه نه غوښتل د خپل (د تره، ترور) له لورسره واده وکړي خوکه هغه مخالفت کړی وای پلاریې دهغه خبره ردوله لکه څرنګه چې ښکاري یارمحمد دواده په کولوخوښي څرګنده کړې که څه هم هغه لدې واده څخه خوښ نه ؤ دنوموړي لپاره په هماغه وخت کې د مخالفت پایلې، د واده د منلو د

[۳۱] د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي څخه ډډه وکړی (http://www.stopvaw.org/forced_and_early_marriage.html). همدارنګه د واده په اړه د رضایت، د واده د تر ټولو کم عمر او د واده د حالاتو د ثبت په اړه د ملګرو ملتونو کنوانسیون. (( د دواړو لورو د خپواکې خوښې پرته هېڅ واده نشي کېدای))، (http://www.unhcr.ch/html/menu3/b/63.h

[۳۲] افغانستان د بشرد حقوقو خپلواک کمیسیون (د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون http://www.org.af/wom_rig.htm). پاملرنه ولری چې دا تعریف یواځې په نجونو پورې ځانګړی دی.

[۳۳] واده کولو دتعریفونوپه بنسټ اوس هم هغه کسان چې ماشومان دي په داسې موقعیت کې ندي چې باخبره رضایت څرګند کړي . دبیلګي په توګه د ښښې د نړیوال سازمان راپور وګورئ (افغانستان : ښځې اوس هم ترفشار لاندېدي، ۱٥) چې د ماشومانوماهیت ته په پاملرنې سره هغوی ته واده کول اجباري واده کول بلل کیږي ، ځکه یوماشوم نشي کولاي ازادانه خوښي څرګنده کړي.

پایلو په پرتله خرابوونکې ښکارېدې . دواده کولو درضایت لپاره فشار معمولاً په نجونودېرزیات وي ، ځکه هغوی ته د کورنۍ له خوا کمه خپلواکي ورکول کېږي، او د مور او پلار دخوښې د مخالفت په وخت کې د زامنو په پرتله د لوڼو په وړاندې سخت غبرګون ښودل کېږي.

د رضایت د څرګندولو په اړه د ماشومانو ځواک آن په هغه صورت کې چې موراوپلار ددوی دخوښې غوښتونکې وي، دنوروشرایطو تر اغېزې لاندې دي. هغه کسان چې واده کولوته نږدې دي ښایي دخپل ژوند دراتلونکې ملګرې او یا د هغه دکورنۍ په اړه هیڅ مالومات ونه لري دا موضوع په ځانګړې ډول د نجونو په وړاندې زیاته ده چې د ټولنیزې ازادي څخه لږې برخمنې دي . په داسې حال کې چې نجونې معمولاً دخپل مېړه د کورنۍ سره ژوند کوي نوله هرچا څخه زیات نه یواځې دخپل مېړه بلکې دهغه دکورنۍ په اړه چې هلته ژوند کوي زیاتو معلوماتو ته اړتیا لري آن په هغه صورت کې چې احتمالي مېړه یې د هماغه کورنۍ له غړیو څخه وي، پدې اړه هیڅ ژمنتیا نشته چې دهغه په باب معلومات سم وي . په حقیقت کې په هماغه توګه چې د۷ او ٤ برخې په بیلګوکې راغلي مور اوپلارهم دهغې کورنۍ په اړه چې اولاد یې پکې واده کوي ډېر لږ مالومات لري.

آن په هغه وخت کې چې د اولاد څخه نظر وغوښتل شي خو نظر یې دکورنۍ د نورو غړیو د نظرونه سره مخالف وي نوموړې درضایت دڅرګندولولپاره د زیاتوفشارونو سره مخ کېږي . دغه موضوع دنجونواوهلکانو دواړو په اړه لیدل کیږي، دبیلګې په توګه، خانم جان چې ډېرعمرلري اودبامیانو ولایت په کلیوالوسیموکې ژوندکوي داسې وایي چې پلار یې ورڅخه پوښتنه وکړه چې ایا له غوښتونکې څخه خوښه یې (اوموریې مړه شوې وه ) خانم جان ځواب ورکړ چې نه. د نوموړې په وینا که څه هم چې ترېندو(خاله یا عمه) اوکاکا اوماماګانو یې ډېر وویل چې داغوښتنه ومنې. په پای کې اړه شوه چې د دوی غوښتنه ومنې. د یادولو وړ ده چې په لومړیو کې خانم جان وویل چې ما دخپل راتلونکې خاوند سره دواده کولو په اړه سوال اوځواب کړی دی اوخپل راتلونکی خاوند یې لیدلی دی اوپه واده کولوراضي وه. د پوښتنو او څېړنو په بهیر کې خانم جان د مخالفت لپاره ډېره لږه ازادي درلوده، لکه چې خانم جان بیانوي چې د پیغلتوب دوره یې نه وه پیل شوې، ښایي چې دا وموندل شي په هغه وخت کې چې له نوموړې څخه د واده کولو په اړه پوښتنه شوې وه ډېر کم عمر یې درلود نوله همدې کبله په داسې موقعیت کې نه وه چې وکولای شي رضایت څرګند کړي.

یو مهم لامل چې د رضایت په څرګندولو کې دماشومانو دځواک خنډ ګرځي دادی چې په هغه وخت کې چې د دوی دواده کولو په اړه پریکړه کېږي زیاتره یې ډېر کم عمره وي او که چیرې دوی ته په دې بهیر کې ونډه هم ورکړل شي دوی نه شي کولای چې په پرېکړو کې یو مهم رول ولوبوي . د دغوڅېړنو په ځینو برخوکې څرګندیږي کله چې کوژده وشي د هغې فسخه کول ډېر ستونزمن دی ، که څه هم چې ناشونی نه دی خو د کوژدې فسخه کول د دواړو کورنیو او هلک او نجلۍ لپاره ډېرې ناوړه پایلې لري .

هغه سازمانونه چې په دې اړه کار کوي معمولاً د ماشومانو د واده کولو په اړه توپیر لرونکې شمېرې وړاندې کوي. که څه هم چې دا مهمه ده کله چې د رضایت په اړه خبرې کېږي، د ماشوم عمر د پرېکړو په وخت کې په پام کې ونیول شي او یواځې د واده کولو د عمر په پام کې نیولو باندې بسنه ونه شي. پداسې حال کې چې تر څېړنې لاندې سیمو کې د کوژدې او واده کولو عمر مخ په زیاتیدو دی ، په ټولو هغوسیموکې چې څېړنې شوې دي ډېروکسانو په زیات کم عمر کې کوژده کړې ده[34]. په معمولي توګه د ډېرعمره نسلونو سړي اوښځې او همدارنګه د ډېرو هغو کسانو لپاره چې په وروستیو کلونو کې یې کوژده کړې ده ۱۳ کلنې د واده کولوعمردی. په هرحال، ټولو هغو کسانو چې په دې هکله یې خبرې کولې دا احساس یې درلود چې د واده عمر باید لوړ شي، د نجونو لپاره د۱۵ څخه تر ۲۰ کلونو پورې عمراو د هلکانولپاره د ۱۹ څخه تر ۲۳ کلونو عمر.

د دې څرګندونو سره سره چې اولادونه باید د لوړو کلونو په عمرکې واده وکړي اودا چې باید پخپله دوی په آزادانه ډول خپل رضایت څرګند کړي، خو دمرکه کېدونکو چلند داسې څه نه څرګندوي. ددغې موضوع یوه څرګنده بیلګه دهرات له ولایت څخه ده. د شمي ګلې خاوند خالد چې کابو ۳۲کلن دی او مېرمنه یې کابو ۲۵ کاله عمر لري. دوه زامن لري چې یو یې ۵ او بل یې ۲ کاله عمرلري (۱۳ مه کورنې نخشه)، دوی د خالد له ورور سره یو ځای ژوند کوي چې نوم یې بصیرت دی او د زهرې په نامه مېرمن او درې اولادونه لري چې دوې نجونې او یو هلک دی. اقتصادي وضعیت یې ډېر بد نه دی دغه کورنۍ حاصلخیزې ځمکې، ژوې او یوه لارۍ موټر لري. بصیرت او زهره دواړه ښونځې ته تللې اولوستې دي. خالد او شمي ګله هغه وخت چې ماشومان وو کوژده یې کړې وه هغه مهال شمي ګله ٦کلنه او خالد ۱۲کلن ؤ. د مرکې په لومړي پړاو کې کله چې خالد د خپل واده په اړه خبرې کولې، ویې ویل: په تېتو کلونو کې کوژده د احتمالي ستونزو سره مخامخ کېدونکې وي:

د ماشومانو عمر په هغه وخت کې چې ددوی د واده پرسر پرېکړې کېږي په هماغه اندازه چې دواده کولو په وخت کې مهم وي مهم دی په ځانګړې توګه په هغه وخت کې چې دوی کولای شي ازادانه اوباخبره رضایت څرګند کړي.

[34] د یادولو وړ ده چې ډېرهغه کسان چې مرکه ورسره شوي خپل عمر ورته معلوم ندی او د کوژدې کولو په وخت کې یې خپل کره عمر په یاد نه وي اویایې نه بیانوي چې ددوی اولادونه په کوم عمر کوژده شوې دي .ددې پر ځای.خلک – په ځانګړې ډول ښځې –ځینې وختونه هغوماشومانو ته چې په کور کې حاضر وي ،اشاره کوي اووایي زه هم ددې نجلۍ په سن وم چې کوژده مې وکړه اویا داسې وایٍي چې خپل سن اوکلونه دپیغلتوب دورې ته په مقایسه سره بیانوي دمرکه کوونکو سن معمولا دمرکې په اوږدوکې دواقعیتونو څخه لیرې وي او اټکل کېږي.

*مونږ خوشحاله یو، زه ډیر بختور سړی یم. ځکه ډیر خلک پرته ددوی له غوښتنې څخه واده کوي ، کله چې ددوی زامن ځوانیږي نو پلرونه او میندې یې ددوی د واده په هکله پریکړه کوي؛ ددوی له ګډون څخه پرته پلرونه او میندې یې کوژده کوي . او دا ځرګنده ده چې پس له واده نه کله چې نوې واده شوې جوړه یوبل ګوري نو هرو مرو ځینې ستونزې پیدا کیږي.*

په دغه کورنۍ کې یواځې خالد نه دی چې دکم عمره ماشومانو د واده کولو مخالف دی، زهره د خالد وریندار هم چې د هغې کوژدن هم د دریو میاشتو په عمر کې شوی خپل نظر یې داسې ځرګند کړ: دا دود یوه اشتباه ده او نه غواړي دا ډول پیښه ددې د لور لپاره وشي. شمې ګلې وویل: زه خوشاله یم چې لور نه لرم ځکه ددې په شان په کم عمر کې دهغې کوژده به هم شونې وه.

د مرګې په پای کې خالد د خپل پنځه کلن زوی لپاره یې خپل راتلونکی پلان ځرګند کړ:

*زما کوچنی زوی چې ۵ کلن دی زما وریندار د "خوابښې"په نوم یادوي او ډیر ژر به خپل زوی د خپل ورور له لور سره چې درې کلنه ده کوژدن کړم.*

هغه مهال چې نوموړې ته دده د تناقض لرونکو خبرو په اړه وویل شول ده خپلې خبرې یې داسې رد کړې: که دوی ونه غواړي چې سره واده وکړي کله چې دو ی لوی شول نو دا سمه ده دوی به د ځان لپاره په خپله د ژوند ملګرې وټاکي.. لکه ځرنګه چې دا بیلګه ځرګندوي چې دا هغه عمر نه دی چې ماشومان د خپل د واده په هکله پریکړو باندې نفوذ ولري؛ بلکې دا هغه عمر دی چې په هغه کې کله چې د واده په هکله پریکړه کیږي نو هغه واک چې په دې برخه کې یې دوی باید ولري دهغوی څخه یې اخلي.

په پریکړو کې ښکاره ګډون د پریکړو پر پایلو د اغیزې درلودلو یواځینۍ لاره نده او د ډیر عمر اولادونو په اړه په پریکړو اغیزې یواځې د لفظي رضایت له لارې نه وي د ژوند د ملګرې په هکله وړاندیز په اړه او یا د واده د تر سره کیدو د نیټې په هکله د یو ماشوم څخه د لیدل شوې غبرګون اغیزه له لفظي رضایت څخه چې اکثراً ربښتینې او د زړه له کومې نه وي خورا زیاته ده. ځینو مرکه شویو میندو اوپلرونو ویلې دي چې دوی د خپلو اولادونو حالت ته ګوري ترڅو دوی ووینې چې آیا د شوې وړاندیز سره موافقه لري او که نه. ځینې پلرونه سره له دې چې پوهیږي لونې یې ترفشار لاندې دي ترڅو د شوې وړاندیز په اړه رضایت ځرګندکړي ، په کورنۍ کې له یوې بلې ښځې غواړي ترڅومعلوم کړي چې ایا لور یې له دې وړاندیز څخه په ربښتیا راضي ده او که نه. پدې اړه د ننګرهار یوسپن ږیرې کلیوال اوسېدونکی داسې وایي:

*نه، د هغوی ټاکنې ته پاملرنه نه کیږي، زه به پخپله له هغې څخه پوښتنه ونه کړم، خوله خپلې مېرمنې څخه غوښتنه کوم ترڅو دلور نظر معلوم کړي دموږ په کلتور کې دا دود نه دی چې له خپلې لور څخه پوښتنه وکړو چې ایا کوژده کوي اوکه نه.*

په دې وینا کې یو ډول تناقص لیدل کیږي، په داسې حال کې چې سړی له فرهنګي نورمونو څخه خپل تفسیر ځرګندوي وایي لازمه نده چې دلور سره مشوره وشي خو وروسته وایي چې دخپلې لور دخوشحالۍ په خاطر له خپلې میرمنې غواړي چې دلور نظرمعلوم کړي . داسې ښکاري چې نوموړی هڅه کوي چې خپل ځان دکلتوري نورمونو سره سم وساتي ، او دې سره سم هڅه کوي چې دا ډاډو ورکړي چې خپله لور دهغې له رضایت څخه پرته نه واده کوي.

له همدې کلې څخه په یوه بله بېلګه کې، په داسي حال کې چې د واده په هکله د لور د نظر د معلومولو په اړه د میړه له خوا د مور څخه غوښتنه نه کیږي، دمور د وینا پر بنسټ دهغې لور دې ته وویل چې هغه هلک یې خوښ نه دی چې ددې لپاره یې ټاکلی. له دې واده څخه د مخنیوي په موخه مور د لور پلار ته وېلي چې لور یې له دې واده سره موافقت نه لري، اوپه پاي کې د لور پلار د رویبارانو وړاندیز یې ونه منلو. دمور دوینا پر بنسټ، کله چې دو هم رویبار د نجلۍ د غوښتلو لپاره راغی، نو دنجلۍ د چلند څخه ډېره خوښي ښکارېده، که څه هم چې پدېاړه یې په نیغه له خپلې لور سره خبرې نه وې کړې.

کله چې د کورنۍ له ښځو غوښتل کیږي چې د رویبار په اړه د نجونو نظر معلوم کړي نو مور د خپلې لونو چوپتیا ته ګوري چې دا میندو او پلرونو ته دا فرصت برابروي چې پرته له دې چې له فرهنګي نورمونو څخه سر غړونه وکړي په نېغه د خپلو لونو غبرګون په پام کې ونیسي او دهغو ی نظر په دې هکله معلوم کړي. پداسې حال کې چې ښایي هلکانو ته دمخالفت د ښکاره کولو زیات فرصت ورکړل شي، د هلکانو دغبرګون دمعلومولو لپاره هم د چوپتیا له تکتیک څخه هم په ځینو کورنیو کې ګټه اخیستل کیږي څو وپوهیږي چې زامن یې د واده په هکله رضایت لري او که نه ، تر څو ووینې چې آیا د کورنۍ زوی موافقت لري او که نه. په ځانګړې توګه هغه وخت چې دوی احساس وکړي چې زامن یې ډیر لږ غبږیږي نو د خپل د ټاکنې په هکله به څه ونه شي ویلای.

له دې بیلګو څخه چې پکې پلرونه او میندې هڅه کوي تر څو د خپلو زامنو او لونو نظر د دوی د ژوند د ا حتمالي ملګرې په اړه معلوم کړي، کیداي شي دا استدلال وشي چې پدې ډول ځایونو کې د کورنۍ د اولادونو په ودونو کې لږ فشار اچول کیږي او دا پداسې حال کې ده چې دوی په رسمي او یا ژبني توګه خپله خوښه نه ده ځر ګنده کړې خو هغو کسانو چې دا کار یې کړی دې ته خورا لږ ارزښت ورکړل شوی دی.

## ۳,۵ هلکان او اجبا ري ودونه

د نجونو دخوښې په خلاف داجباري ودونو دلاملونو په اړوند زيات ټکي په ګوته شوي دي ، زيات مالومات په لاس کې لرو چې څرګندوي د هلکانو لپاره اجباري واده هم ناوړه پايلې لري .د نارينه مرکه کېدونکو سره دمرکې په ترڅ کې څرګنده شوه چې سرې هم په زور سره واده کولو ته اړ ايستل کېږي. ځينې نارينه دخپلې غوسې دکمولو لپاره، دخپلو ښځو او يا دکورنۍ د نورو غړيو سره زور زياتي کوي چې دا څر ګندوي چې داجباري واده او د ښځو په وړاندې د زور زياتي ترمنځ اړيکې شته. همدا رنګه لکه څرنګه چې په ۸ برخه کې ځيرل شوي هلکانو ته د واده په کولو کې د زور زياتي څخه ګټه اخيستنه ددې لامل کېدای شي چې هلک د دوهم ځل لپاره په خپله خوښه له بلې ښځې سره واده وکړي. د ډېرو هلکانو لپاره دا چې د کومې نجلی سره يې واده کړی دی دوی نه اندېښمن کوي، بلکه ددوی د واده کولو نيته د بحث وړ ده. يو شمير ځوانانو وويل موږ غوښتل خپلو زده کړو ته ادامه ورکړو. خو کورنۍ يې ټينګار کاوه چې واده وکړي. په ځينو ځايونو کې دا څرګنده شوې چې دکورنيو ويره له دې څخه ده چې ښايي د دوی زامن په اخلاقي فساد اخته شي اويا په عاشقانه اړيکو کې بندي شي ، چې دا ددې لامل کيږي چې خپلو زامنو ته د هغوی د پام وړ وخت څخه وړاندې واده وکړي اويا يې له داسي چا سره کوژده کړې چې پرې خوښ نه وي. په دوو کورنيو کې زامنو ته په دې دليل کوژده شوې وه چې مين شوي وو اويا يې له يوې نجلۍ سره اړيکې درلودلې چې د کورنۍ له اندو دا سم کار نه ؤ. له همدې کبله يې زامنو ته کوژده وکړه چې له دې اړيکو څخه لاس واخلي. پدې دواړو ځايونو کې لکه چې وويل شول خاوندانو خپلو مېرمنو ته پاملرنه نه کوله او يا يې ورسره ناوړه چال چلند درلود، دهمدغو دوو سريو د کورنيو غړې ددې تاوتريخوالي لامل د دوی په واده کې زورزياتی بولي.

نوريه اوشيق (د عبدالفتاح خوريی (خورزه) چې کورنۍ يې په ۴ برخه کې پيړندل شوې ده) دخپلو دوو اولادونو (يو زوی او يوه لور)، د شفيق پلاراو مور ، ورور او پنځو نورو خويندو سره يو ځای د ننګر هار په يوه کليواله سيمه کې ژوند کوي (۱۲ مه کورنۍ نخشه) شفيق اونوريه د۲۰ او ۳۰ کلونو په منځ کې عمر لري. دشفيق دکورنۍ اقتصادي وضعيت ښه دی د کورنۍ ټول ماشومان اوس ښوونځي ته ځي ، د شفيق پلار عبدالغالب تر ٦ ټولګي پورې يې زده کړه کړې ده که څه هم چې نومورې د هغه د مېرمنې په وينا نالوستی دی د شفيق مور صنوبر هيڅکله ښونځي ته نه ده تللې او نالوستې ده . هغوي په کلي کې يو جريب ځمکه لري خو د کورنۍ د لګښتونو د پوره کولو لپاره يې لويه سرچينه ژرنده ده چې عبدالغالب پرې کار کوي او همدا راز هغه عايدات دي چې غالب يې دختيکرۍ څخه تر لاسه کوي.شفيق کله کله ايران ته ځي او کورنۍ ته پيسې را استوي .د شفيق کوژده په لس کلنۍ کې کله چې نومورې په پاکستان کې ژوند کاوه دده د مور پلار او کشر تره له خوا وشوه د نومورې خسر يعني د نوريې پلار غوښتنه

**۱ چوکاټ: ايا ماشومان د خپلو ودونو په هکله پرېکړو باندې بايد د اغيزې توان ولري؟**

زه فکر کوم هر زوی ته بايدآزاد پريښول شي چې له هر چا سره چې غواړي واده وکړي ز ما زامن کولای شي پخپله خپلې راتلونکي ميرمنې وټاکي؛ .زه د خپلو لونو په اړه هم ورته نظر لرم – هيڅ محدوديت به په دې هکله شتون و نه لري. ددوی غوښتنه مهمه ده،خومور اوپلار هم حق لري چې دخپلو ماشومانو د راتلونکي په هله سوچ وکړي نو زه اوزما ښځه به هم ددوی په کوژده او واده کې رول ولوبوو.

-دننګرهار ولايت د ښاري سيمې يو د منځنې عمر اوسېدونکی

خامخا بايد مور او پلار له هغې نظرمعلوم کړي څکه دايي حق دی. همدارنګه اسلام هم دا وايي مخکې له دې چې لورګاني واده کوی بايد له هغو څخه پوښتنه وکړی چې آيا دوی راضي دي او که نه .وروسته بيا دخپلې لور دپرېکړو په بنا کار پيل کړي تر دې چې اسلام وايي مخکې له کوژدې کولو څخه هلکان او نجونې بايد يو بل ووينې .خو افغانان هيڅکله دا نه مني.

-د ننګرهار له ښاري سيمې څخه يوه ځوانه ښځه.

زه نه غواړم د خپلو لونو په ژوند کې لاس وهنه وکړم، زه په دې اند يم که دوی له هرچا سره وغواړي واده وکړي زه يې منم، ځکه ما په ژوند کې ډيرې ستونزې درلودلې.
د باميانوده ولايت يوه سپين سرې ښځه.

زه هغوي ته اجازه ورکوم چې د خپلې خوښې هلک وټاکي؛ ځينې خلک زوی يا لور هغه مهال چې کوچنې وي کوژده کوي چې دا ډير بد او د اسلامي شريعت خلاف دود دی. ځوان او پيغله مخکې له کوژدې څخه بايد يو بل ووينې، که يې خوښه وه نو کوژده به وکړي، زه به د خپلو لمسيانو په هکله د اسلام له قوانينو څخه پيروي وکړم.

-د هرات ولايت يو سپين ږيري اوسېدونکی

وکړه چې خپله لور شفيق ته دشفيق د خور په بدل کې خپل زوی ته واده کړي. کله چې د شفيق له پلار څخه پوښتنه وشوه چې ايا د نورو پلرونو په شان يې له شفيق سره د هغه دکوژدې په هکله يې سلا مشوره کړې وه اوکه نه ؟ نومورې ځواب ورکړ، نه؛ ځکه په هغه وخت شفيق ډير کوچنی ؤ. دشفيق مور صنوبر وويل چې دوی تر هغه وخته چې شفيق لوی شو انتظار يې و ايست او بيا يې د کوژدې مراسم پر ځای کړل .که څه هم چې په هغه وخت کې شفيق ويلې ؤ د نوريې سره کوژدې کولو

ته حاضر نه یم . صنوبر وویل چې ددغه کوژدې رد ول شوني نه وه ((موږ پښتانه یو دموږ لپاره دشرم ځاي دی چې دغه اړیکه ماته کړو.)) دخیړنې ډلې واوریدل چې صنوبر په لومړي سرکې په ډله ایزو خبرو اترو کې یې د خپل زوی د کوژدې په هکله خبرې وکړې. دا چې دې کوژدې په شفیق څه ناوړه اغیزې یې کړې دي:

*دا کار هغه وخت وشو کله چې دما زوی کوچنی ؤ؛ هغه ته مو یوه نجلۍ کوژده کړه. کله چې لوی شو او نجلۍ یې ولیده نه یې غوښتل له هغې سره واده وکړي خوبیا هم ماورته واده وکړ. له واده څخه وروسته د اوږدې مودې لپاره ډیر رنځور شو او ډاکټر ته مې بوت ، له ډیروخت وروسته روغ شو. اوس په ایران کې دی او کور ته د راتلو نیت نه لري. له ماسره خبرې نه کوي او وایي "ته یوه بې رحمه مور یې او زه دې نه بښم." زه په خپل کار پیښمانه یم چې په ورکتوب کې مې ورته کوژده وکړه. زه خپل ځان پړ بولم او ټل خلکو ته وړاندیز کوم چې خپلو ماشومانو ته په ورکتوب کې کوژده ونه کړي.*

د شفیق مور او پلار دواړه وایي: کله چې شفیق بیا کور ته راځي، دده او د ښځې په مینځ کې یې ډیر جنجالونه پیدا کیږي او د خپلې ښځې سره ډیر بد چلند کوي، هغه په لغته، څپېړه او په سوک وهي.

د شفیق ترور شریفه وایي چې دا ډیر ناخوښ واده ؤ او دا خبره په دې پورې تړې چې کله شفیق کوچنی وو کوژده ورته وشوه او کله چې نوی ځوان شو واده یې وکړ:

*زما د خورخاوند هغه وخت یې خپل زوی ته واده وکړ چې زوی نوی ځوان وو، اوس هغه ډیر خپه دی او ټل ایران ته ځي. مېرمن او اولادونه یې ورڅخه نا راضه دي ځکه چې هغه هیڅکله په کورنه وي... مور او پلار یې دده د کوژدې په اړه پرېکړه کړې وه. دده پلار خپله لور د شفیق د خسر د لور سره بدل کړه (زما وراره او مېرمن یې) ښې اړیکې نه لري، نوریه ټل خپه وي او ژاړي.*

دغې بیلګې دوې موضوع ګاني څرګندې کړې، تر ټولو د مخه دا چې هلکان په زورسره واده ته اړ ایستل کیږي او دا په کورنۍ کې په ځانګړې ډول په ښځو د زور زیاتي لامل کیږي. دا یو اړین ټکی دی چې د هغه کس عمر چې کوژده ورته کیږي په پام کې ونیول شي، نه یواځې دا چې نومورړی په څو کلنۍ کې واده کوي. پر هغه مهال چې دشفیق واده ؤ هغه پوره لوی ؤ او کولای یې شول چې دا پریکړه وکړي چې له نوریې سره واده نه کوي که څه هم چې د هغوی کوژده په هغه وخت کې چې دوی دواړه ماشومان ووشوې وه، د شفیق کورنۍ په دې باور وه چې کوژده شوې اود هغه فسخ کول شوني نه وو.

## ۵,۴ شخصي نظرونه- کلتوري نورمونه او بدلون ته چمتو والی:

په تیرو وختونو کې خلکو د ماشومانو د نظر پوښتنه نه کوله خو په راتلونکې کې زه غواړم چې ددوی د ژوندانه په هکله د خپلو اولادونو سره مشوره وکړم. لکه څنګه مې چې مخکې وویل دا زمونږ دود نه دی چې له دوی څخه دې پوښتنه وشي، خو مونږ هیله مند یو چې هرڅه به په راتلونکې کې بدلون ومومي. مونږ اوس خپل اولادونه لوڼې او زامن ښوونځي ته استوو چې پوه شي، او ددې پوهې څخه په ګټه اخیستلو دوی به وکولای شي د خپلې راتلونکېپه اړه پریکړه وکړي. زه ډیر هیله لرم چې زموږ خلک به په خپلو نظریاتو کې بدلون راولي، زه غواړم چې زما اولادونه پوهه تر لاسه کړي او وروسته بیا مونږ دوی ته اجازه ورکوو چې د خپلې راتلونکې په اړه پرېکړي وکړي. مونږ به هغوي ته لارښوونه وکړو، دا زما غوښتنه ده، خو زه ډاډمنه نه یم چې دا به پلې کړای شو، ځکه چې اوس دا زموږ د ټولنې دود نه دی. زه نالوستې یم خو پوهیږم که زموږ خلک پوهه ولري د دوی باور به هم بدل شي. وګورئ زما مېړه با سواده دی او یواځینی ستونزه داده چې دی د خپل کلتور تر فشار لاندې دی، نو وبه ګورو چې څه کیږي. مونږ راتلونکې ته هیله من یو او زما هیله داده چې زما ماشومان په راتلونکې کې خوشاله او بریالۍ ژوند ولري.

ـد ننګرهار د ولایت یوه ښځه چې نږدې ۳۲ کلنه ده او د خپلو ۵ اولادونو سره په کلیواله ښاري سیمه کې ژوند کوي (شیرین، ۸ مه کورنې نخشه).

د ټولنې د کلتوري نورمونو او د شخصي غوښتنو په منځ کې توپیر، د پورتنیو خبرو کې په بشپړ ډول څرګندیږي، لکه څنګه چې شیرین هڅه کوي خپل درک له کلتوري نورمونه او د ماشومانو د راتلونکې په هکله د هغې خپلې غوښتنې سره یوځای او پخلا کړي. دهغو کسانو څخه چې مرکه ورسره شویده ډیر ی یې په دې باور دي چې هغه څوک چې کوژده کوي هلک وي او که نجلۍ باید د خپل ژوند د راتلونکې ملګرې په ټاکلو کې ونډه ولري. (۱چوکاټ) د شیرین وینا څرګندوي او د هغه باورسره مرسته کوي چې تر څېړنې لاندې ټولنو کې په کلتوري نورمونو کې د بدلون لېوالتیا او دې کار ته چمتوالي هم شته.

دغه دریځ د څیړنې تر لاندې ۸ سیمو کې په بیلا بیلو کورنیوکې د ډیموګرافیکي فکټورونو لکه اقتصادي وضعیت، د زدکړې کچه، او یا د استوګنځي د موقعیت د په پام کې نیولوپرته د پلرونو او میندو په مینځ کې ولیدل شو. که څه هم چې دځواب ویونکو د شخصي نظرونو، خپرو کلتوري نورمونو او د تمه کیدونکې چال چلند ترمینځ ډیر توپیر لیدل کیږي. لکه چې په کړندود یا څیړندود کې ورته اشاره وشوه او

دشیرین له وینا څخه هم دا جوتیږي، او دا یو خورا دردونکی حالت دی چې ګڼ شمیر ځواب ویونکې ورسره لاس او ګریوان دي. ددویم چوکاټ له وېناوو ځرګندیږي چې مرکه کونکې وایې د دوی نظریات دټولنې د کلتوري نورمونو سره، چې خلک دهغو پیروي په ځان لازمه بولي ،په تضاد کې دي. ښځې وایي دوی غوښتل له خپلو لوڼو څخه ددوی دکوژدې په اړه پوښتنه وکړي خو که دغه کار یې کړای وای ”خلک به پر دوی وخاندي“. باید وویل شي چې دغه موضوع یواځې د کوژدې په پرېکړو کې نه ده، بلکه په کورنیو اړیکو کې هم لیدل کیږي. د کلتوري نورمونو او شخصي نظر یاتو په منځ کې توپیر دواړه د یو شاخص په څیر لیدل کیدای شي چې د جریان په کال کې د ی او تر ټولو مهمه دا چې د واده په پریکړو کې د بدلون لپاره د یو امکان او ځواک شتون ځرګندوي.

په دغه څیړنه کې چې د کومو کسانو سره مرکه شوې ده، دوی ټول د خپلو اولادونو د کوژدو په پرېکړو کې ددوی په شریکولو د یوه نظر لرونکې نه ؤ . دیوې کورنۍ اویوې سیمې د افرادو په منځ کې چې یو له بل سره ورته والی هم لري، کیدای شي چې د نظرونو په مینځ کې یې یوه اندازه ذاتي توپیر وګورو. د غلام احمد (۱۰ مه کورنۍ نخشه) او عبدالصبور (۱٤ مه کورنۍ نخشه) د دوی کورنۍ نظریې دهغه څه ښېلګه ده چې دا ځرګندوي چې ځرنګه د یوې ټولنیزې اقتصادي ډلې د وګړو چې په ورته ټولنه کې ژوند کوي د نظریاتو په مینځ کې د پام وړ توپیر شتون لري. غلام احمد اوعبدالصبور په قوم پښتانه دي دواړه نږدې ۵۰ کلن دي او د ننګرهار ولایت په یوه ښاري سیمه کې ژوند کوي. ددوی هر یو په یوه کورکې د کورنۍ د زیاتو غړو سره ژوند کوي ، او ګڼ شمېر اولا دونه لري . د کورنیو جوړښت یې هم یو له بل سره توپیر لري. عبدالصبور دوې ښځې لري او یواځې د خپلې کورنۍ یواځینی نارینه مشر بلل کیږي ، پداسې حال کې چې غلام احمد د خپلو ورڼو او د دوی د ښځو اولادونو سره یو ځای په یوه کور کې ژوند کوي. د اقتصادي نظره دغه دوې کورنۍ بېوزله ګڼلای شو. د عبدالصبور کورنۍ دښار څخه بهر ځمکه لري چې حاصلات یې د بزګرانو سره نیمایي کوي .غلام احمد په غیر منظم ډول د یوه ساده روزمزده کارګر په توګه پیسې لاس ته راوړي .دوی دواړه نالوستې دي خود دوی زیاتره اولادونه ښوونځې ته ځي .عبدالصبور ډیر هیله مند دی تر څو دده زامن د خپلو کوژدو په پرېکړوکې مهم رول ولوبوي زه خپلو زامنو ته اجازه ورکوم چې په خپله خوښه کوژده وکړي هغوی نوی نسل دي زه د دوی د کوژدې په پرېکړه کې مداخله نه کوم ځکه دا په دوی پورې اړه لري چې له چاسره غواړي واده وکړي ... زه یواځې د نجونو د کورنیو پر شالید ځارنه کوم.

د لوڼو په اړه هم نوموړې ورته نظر درلود، که څه هم چې نوموړې دغه موضوع یې د یو ډول تناقض سره بیان کړه او اشاره یې وکړه چې د لوڼو د ژوند د ملګرو په ټاکلو کې به دی یو څه استثناګانې اوشرایط ولري:

## ۲ چوکاټ: دکلتوري نورمونو په وړاندې شخصي نظریات

زه فکر کوم دا همه ده چې له نجلۍ څخه پوښتنه وشي ځکه دا د هغویژوند دی او دوی به مجبوره وي چې هر څه وزغمي. خو په خواشینۍ سره باید ووایم چې دا زمونږ دخلکو په مینځ کې دود دی چې د نجونو څخه په دې هکله پوښتنه نه کوي خو زه له دې دود سره مخالفه یم.

-د ننګرهار ولایت دښارې سیمې څخه یوه ځوانه ښځه

زما خور په لومړیو کې ژړل ځکه تر هغې وخته یې نه غوښتل چې واده وکړي او همدارنګه له دې امله یې هم ژړل چې نوی کور یې په شمالي سیمو کې ډیرلیرې وو. خو هیچا ورڅخه د نظر غوښتنه ونه کړه ځکه زموږ دود نه دی چې له لور څخه د هغې د واده په هکله پوښتنه وکړو. مونږ له خپلو زامنو څخه پوښتو خو له خپلو لوڼو څخه نه...زه فکر کوم دامهمه ده چې له دواړو څخه پوښتنه وشي ځکه یواځې هلکان نه دي چې ژوند کوي او واده کوي. نجونې هم واده کوي او باید د خپل ژوند دملګرې په ټاکلو کې حق ورکړل شي زه فکر کوم چې دا ډیرناوړه دود دی چې موږ یې لرو

-دکابل ولایت دکلیوالو سیمو څخه یوه ځوانه ښځه

په دغه سیمه کې نجونې د خپلو پلرونو په وړاندې هیڅ نه وایې چې کله پلرونه د خپلولورګانو د واده لپاره پرېکړې کوي لور ګانې هیڅ هم نه وایې نه نه وایې او نه هو ؛ او وایې” زموږ پلار زموږ مالک دی“ او ټول واک مور او پلار ته ورکوي زما لوڼې هم دا ډول وې. کله مې چې له خپلې لور څخه د نظر غوښتنه وکړه هیڅ یې هم نه ویل، نو ماهم ددې له مور څخه وغوښتل چې ورسره خبرې وکړي کله یې چې یې مور دا کار وکړ ځواب یې ورکړ” نه پو هیږم ، زه دخپل پلار سره موافقه یم ځکه هغه زما مالک دی او نه غواړي زما راتلونکې خرابه شي“ ... زه فکر کوم دابښه ده چې نجونې خپلواکې وي او هیڅوک باید د دوی په پرېکړو کې مداخله ونه کړي .

-دهرات ولایت د ښاري سیمې یو د منځني عمر لرونکې اوسېدونکی.

دا ښه ده چې پوښتنه وکړو خو زمونږ له خلکو څخه هیڅ یو هم د اکار نه کوي. نو که مونږ پوښتنه وکړو خلک پر مونږ خاندي .په هر حال وبه وینو چې څه کیږي. تراوسه مې لور کوچنۍ ده او د کوژدې کولو په اړه یې پلان جوړوو، نه زمامېره او نه هم زه به د لور د نظر غوښتنه وکړو. ځکه دا زموږ کلتور نه دی .میندې او پلرونه پو هیږي چې د لوڼو لپاره یې کوم شی ښه دی، د خپلو لورګانو خیر غواړي .

-د ننګرهار ولایت د کلیوالې سیمې د منځني عمر لرونکې اوسېدونکې

*دا به زما د لونو په انتخاب وي، ځکه هغوی باید په خپله خپل د ژوند ملګری وټاکي. زه دوی  هغو کورنیو ته ورکوم چې په راتلونکي کې ستونزې ونه لري او د دوی ژوند په ښه ډول تیر شي .....هو، دا به د دوی خپل انتخاب او خوښه وي.*

غلام احمد یو محافظه کار  لیدلوری لري:

*نه، زه له دوی څخه د نظر پوښتنه نه کوم ، ځکه چې  دا زموږ دود نه دی چې له زامنو څخه د دوی د کوژدې په اړه پوښتنه وکړو. یواځې مور او پلار پدې اړه پریکړه کوي .....نه، زه به په راتلونکي کې هم له دوی څخه  پوښتنه ونه کړم؛ دا زموږ په کلتور کې ځای نه لري چې  له زامنو څخه د دوی د واده  په هکله وپوښتو. ددوی د کوژدې په هکله  پرېکړې یواځې ددوی پلار کوي.*

نوموړې په ځانګړې توګه دلونو په اړه سخت نظر لري او وايي:

*نه، دا امکان نه لري، موږ آن له زامنو څخه د دوی د واده په هکله پوښتنه نه کوو. د لونو د نظر غوښتل خو د ذهن څخه لیري خبره ده .*

د غلام احمد او عبدالصبور د کورنیو غړي یو له بل سره توپیر لرونکي لیدلوري لري. کامله او سرورو دوې ښځې دي چې په مخکښې برخه کې یې دڅیړني ډلې ته ویلي وو چې دوی د په پریکړو کې  هیڅ رول نه لري او ټولې پریکړې د دوی خاوندان کوي.  سرورو د غلام احمد ښځه ، او کامله د هغه د ورور ښځه ده دغو دواړه ښځوویل چې د دوی له اولادونو څخه د دوی د واده په هکله هیڅ پوښتنه نه کیږي .که څه هم چې کاملې ویل ، چې  که چیرې  په راتلونکي کې د نورو په کړو وړو کې لکه چې اوس دی بدلون راشي نو د  هغې کورنۍ به هم په دې اړه له خپلو اولادونو څخه وپوښتي.

صبرینا، د عبدالصبور دویمې ښځې د واده په هکله یې د خپلو تجروبو په ځرګندولو سره د خپل خاوند سره یې ورته نظر درلود:

*ز ما مور او پلار باید له ما څخه یې پوښتنه کړې وای، خو په خواشیني سره  دوی داکار ونه کړ . خو که دوی له ما څخه یې پوښتنه کړې وای نو ما به دا کوژده نه وه منلې، او له داسې سړي سره به مې کوژده کوله چې هغه زما خوښ وای... . هو، ولې نه؟ زه به له خپلو زامنو او لونو څخه د نظر پوښتنه کوم ځکه دا د دوی ژوند دی نه زما.  او  هغوی باید دا وزغمي ، او زه به هر کله او هر ډول چې د هغوی غوښتنه وي  وادونه به یې وکړم.*

دا معموله وه  چې ښځو خپل نظر په دې ډول څرګندولو او د خپل د ودونو د پریکړو او تر سره کیدو پر څرنګوالي یې نیوکې کولې، او ځرګنده یې کړه چې دوی د خپلو اولادنو په هکله ورته بهیر نه  غواړي. د دغه نمونې یوه بله بیلګه ،نظیفه (۱۵ کورنۍ نخشه) چې ۲۰ کاله عمر لري له خپلې خوابنې، میره او د هغه د ځوانانو ورونو اوخویندو سره په یوه بیوزله کورنۍ کې دکابل په یوه ښاري سیمه کې ژوند کوي، هغه وایي د پلار له مرګ څخه یې وروسته یې  ورور د خپلو خویندو د واده په هکله  یو په بل پسې  د هغوی له مشورې پرته  یې پرېکړې کولې. نوموړې چې خپل واده یې هم په دې ډول سرته رسیدلی ؤ ځرګنده یې کړه:

*پلار مې ویل "زه مرده ګاو۳۵ نه یم چې د لونو څخه د دوی د واده په هکله پوښتنه وکړم." ان تر دې که لور راضي نه وي او لس شپې او ورځې هم  وژاړي، د پلار اویا ورور لپاره کوم ارزښت نه لري پلار یا ورور دلونو او خویندو ژړا ته غوږ نه نیسي؛  او هر چاته چې وغواړي واده کوي یې. په لومړي سرکې ما هم ژړل خو هیچا ماته غوږ کېښنود.*

نظیفه هیله لري چې ددې  د لونو په هکله شرایط به توپیر ولري:

*اوس مهال زما لونې کوچنۍ دي خو کله چې لویې شي او د واده عمر ته ورسیږي زه به د هغوی څخه د دوی د واده په اړه پوښتنه وکړم او زه به د دوی له  پلار څخه هم وغوا ړم چې دوی پرېږدي چې د خپل راتلونکي ژوندپه اړه پرېکړه وکړي.*

دا امکان لري چې ګڼ شمیر نارینه  ووايي چې ددوی د زامنو واده به ددوی په څېر وي، سره لدې هم ځینو د راتلونکي بدلون په هیله یې ورته احساس یې ځرګندکړی دی:

*زما او زما د  زامنو د واده تر منځ  به ستر توپیر وي. د دوی واده به زما د واده په څېر نه وي. زما کورنۍ ماته زما خور بدل کړه،  خو زه به دا کار ونه کړم،  زما زامن به کار کوي او پیسې به پیدا کوي چې وروسته به په خپلو پیسو  خپل واده تر سره کوي.*

دغه سړی نږدې ۳۵ کاله عمر لري او دننګرهار په یوه ښاري سیمه کې ژوند کوي. نوموړی په هغه وخت کې چې ډیر کم عمر یې درلود او نه یې غوښتل واده وکړي، واده یې وکړ او  له همدې  کبله یې د شاګردۍ دندهیې پریښوده. لکه څرنګه چې دغو نارینه وو او ښځو په راتلونکي کې په خپلو کورنیو کې د بدلون وړاندوینه وکړه، پدې څېړنو کې ډیرو کسانو ځرګنده کړه چې همدا اوس په ځایي  ټولنو او کورنیوکې بدلون تر سترګو کیږي ( ۳ شمیرې چوکاټ ته پاملرنه وکړي).

ښکاره خبره ده چې د پرېکړو کولو په بهیر کې  دغه شان ذهني بدلون نسبتاً نوی دی. لکه چې شواهد  څرګندوي، ځینې کورنۍ اوس هم په پریکړو کې د اولادونو د شریکولو په هڅه کې دي او  غواړي د هغه څه په پرتله چې د خپلو مشرو اولادونو په برخه  کې یې کړې دي ډیر څه تر سره کړي. د بېلګې په توګه د بامیانو  د ولایت په یوه کیلوالي سیمه کې یوې سپین سرې ښځې د ډله ایز بحث په ترڅ کې ځرګنده

[35] ((مرده ګاو)) په لغت کې هغه کس دی چې د جنسي موخو لپاره ښځې پلورې.  د دغه لغت څخه په دې ځای کې دا مطلب دی چې یو سړی د خپلې کورنۍ  د ښځو دفاع او یا د هغوی ملاتړ نه کوي.

کړه چې د هغې مشره لور شکایت کوي او وایي چې مور او پلار يې په هغه اندازه واک دې ته د واده کولو په پرېکړو کې نه ؤ ورکړی لکه چې خپلو کشرو لونو ته يې ورکړی. په ورته ډول د هرات په ولایت کې د ځوانو ښځو سره په مرکه کې یوې ۳۰ کلنې ښځې څرګنده کړه چې هغه فکر کوي اوس مثبت بدلون منځ ته راغلی په داسې ډول چې اوس د هغې خویندې له هغې نه زیات کولای شي د خپلو ودونو په اړوند پرېکړو کې برخه واخلي.

د ټولنیز بدلون د زیاتو اړخونو سره، دا به ستونزمنه وي چې ووایو په ربښتینې ډول د واده په هکله پریکړو په چال چلندکې کومې پرمختیاوې رامینځ ته شوې دي. ډیر احتمال لري چې له یوبل سره د ترلو فکټورونو یو ترکیب په یوه وخت کې سره یو ځای شي او په ټولنیزو نورمونو کې د بدلون سره مرسته وکړي. لکه څرنګه چې دجنسیت نورمونه او چال چلند د بدلون یوبل اړخ دی ، نو جګړې او په خاصه توګه کډوالي او کورني بېځایه کېدل د دغې څېړنې د ځواب ویونکو لخوا د باورونو د بدلون هڅوونکې عوامل بلل کیږي:

*کډوالۍ خپله اغېزه لرلې ده، دوی د هغه ځای له خلکو زده کړل تر څو خپلو اولادونو ته د ژوندد ملګرې د ټاکلو په اړوندو پرېکړو کې فرصت ورکړي ... خلکو له نورو څخه زده کړل؛ او دهغوی له ژوندانه او تجربو څخه يې لوست واخیست. دوی زده کړل چې څه ښه دي او څه بد دي، او وروسته دوی پخپله هم بدل شول.*

-د هرات په ولایت کې یوه ځوانه ښځه

*خلکو جګړې او ستونزې ولیدلې، دوی زیات بدلون وموند. زما په یاد دي چې هغه وخت خلکو ۱۴ کلنه نجلۍ یوه ۷۰ کلن زاړه سړي ته ورکوله. د پیسو لپاره ودونه او جبري ودونه ډیر عام وو.*

-د بامیانو د ولایت د منځني عمر لرونکی اوسېدونکی

پدې اړه چې څرنګه کډوالي په کورنیو کې د بدلون لامل شوه، ډیره خوصوصې کېسه د لیلا په واسطه چې نږدې۲۵ کلنه ده او دهرات په ولایت کې ژوند کوي، را اخلو. د لیلا د پلار چلند په ایران کې د ژوندانه د تجربو وروسته زیات بدلون وموند. نوموړی اوس د ولور غوښتنه نه کوي او لیلا ته اجازه ورکوي چې د رویبارانو له ډلې څخه یوڅوک خوښ، او واده ورسره وکړي. که څه هم چې لیلا د خپل پلار په فکر کې دغه بدلون په ایران کې د ژوند کولو سره تړلی ګڼي، مګر هغه فکر نه کوي چې دغه بدلون یواځې په ایران کې د کورني ژوند د مختلفو کړنلارو په کتلو رامنځته شوی وي؛ هغه زیاتوي چې کډوالۍ زما د پلار لپاره له خپل کورني نفوذ څخه د تیښتې فرصتونه برابر کړې وو.

په دې وروستیو کلونو کې د جګړو له کبله بې ځایه کېدلو او اقتصادي کډوالیو افغانان له نووشرایطو سره مخ کړل او دغه بیلابیل نظرونو هیواد ته د خلکو د بیرته راستنیدو سره هیواد ته راوړل شول.[۳۶] ځواب ویونکو ددې موضوع څخه پرده پورته کړه چې په هیواد کې دي ننه بې ځایه کېدنې هم د نړۍ په اړه د هغوي لید پراخ کړی دی. په لنډه توګه ویلای شو چې په وروستیو کلونو کې، لږ تر لږه په هغو ځایونو کې چې دغه مالومات راغونډ شوې دي، په یو نسل د لومړی ځل لپاره خلکو د

**۳ چوکاټ د پرېکړو په پروسه کې بدلون**

په تیره زمانه کې خلکو خپلې لوڼې د خپلې خوښې سره سم او په زور کوژده کولې. خونن تاسې وینئ چې د دوی د غوښتنو سره سم واده کیږي او له واده څخه مخکې خپلو میړونو سره ګوري.

- د بامیانو د ولایت یوه سپین سرې اوسېدونکې.

مخکینۍ وضعیت د نن ورځې په پرتله ډیر توپیر لري نن ورځ نجونې او هلکان پرته لدې چې مقابل لوری ووینې کوژده نه کوي یا یو هلک خپل مور اوپلار ته وایې زه په دې شرط کوژده کوم که ماته پلانکۍ نجلۍ کوې، نن ورځ هلکان په دې اړه له مور او پلار سره د خبرو کولو څخه شرم نه کوي.

-د بامیانو د ولایت د منځني عمر اوسېدونکی

هغه زمانه ډیره ساده وه په هغه زمانه کې خلک په کوم شي نه پوهیدل خونن ورځ خلک پوهیدلي اوذهنونه يې روښانه شوې دي .نن ورځ خلک له خپلو اولادونو څخه دودونو په هکله پوښتنه کوي.

-دکابل د ښار یوه سپین سرې اوسیدونکې

پخوا، پرېکړې د مور او پلار په واسطه کېدلې او یواځې دوی پریکړه کوونکې وو. خونن دوی له خپلو اولادونو سره مشوره کوي او کوژده کېدونکې نجونې او هلکان کولای شي یوله بله سره ووینې. یوڅوکاله مخکې به چې مور او پلار وغوښتل چې خپلې لوڼې او زامن له چاسره واده کړي دوی اړ وو د مور او پلار غوښتنې ومنې. دوی د یوبل دټاکلو حق نه درلود خونن کولای شي د خپل د ژوندملګرې وټاکي.

-دکابل د ښار یو سپین ږیری اوسېدونکی

زه له دې څخه خوښه یم چې نني شرایط د پخوا په شان نه دي ما چې کله واده وکړ نو په هغه وخت کې یوه کوچنۍ نجلۍ وم.

-د هرات د ولایت یوه سپین سرې اوسېدونکې

---

[۳۶] په ګاونډیو هېوادونو کې د افغان کډوالو د دوهم نسل په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې دا دارې راپور، د پاکستان، ایران او افغانستان په هېوادونو کې د ژوندانه توپیرونه ښیي. ( ام. سایتور له کډوالۍ خپل کور ته: افغانان خپل کور ته راستنیږي کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸۷

پرېکړې کولو احساس کړی او داسې ځای ته رسېدلې چې دخپل ځان او خپلې کورنۍ د راتلونکې لپاره پلان جوړوي [۳۷] دغه دوه لاملونه په ګډه عمل کوي: په بېلابېلو شرایطو کې ژوند کول او د سنې نسبي ثبات د بدلون لپاره یې لاره هواره کړې ده[۳۸].

## ۵،۵. پایلې – د بدلون لپاره فرصت

دغه برخه په افغاني ټولنه کې د اجباري ودونو د مفهوم په اړه په بحث سره پیل شوه. دا استدلال کوي چې په واده کولو کې د اړ ایستنې او واک ورکونې عناصر د واک او اړ ایستنې په یوه لړۍ یا محدوده کې دي، د واده کېدونکو کسانو د واده په پرېکړو کې دواړه اړخونه هم د واک ورکړه او هم اړ ایستنه شته. دا په ټل سمه نه وي چې قضاوت وشي چې آیا یوه کس د خپل واده په اړه با خبره (له مالوماتو سره) رضایت ښودلی که نه. د بېلګې په توګه ځینې کسان چې په څرګنده د واده کولو سره موافقت کوي، ښایي د واده کولو په اړه دوی ته کم واک ورکړل شوی وي او د هغه رضایت یوازې یو تشریفاتي کار دی. ځینې کسان ددې پر ځای چې دکورنۍ غړي ناراحته کړي، د واده شوی وړاندیز مني، ښایي نور خلک د دغه واده د کېدو په اړه راضي وي یا د هغې کېدو ته لېواله وي خو د ژوند د راتلونکې شریک او یا د هغه/هغې د کورنۍ په اړه د پرېکړې د کولو لپاره اړین مالومات ونه لري؛ ښایي نورو کسانو ته د رضایت او یا نه رضایت ښودلو هېڅ ډول فر صت نه وي ورکړ شوی یا د دې پر ځای ښایي دغه شان کسان وکولای شي د واده د پرېکړو په پایله پټه اغېزه ولري. برسېره پردې، باید څرګنده شي کله چې د اجباري واده په اړه بحث کېږي یوازې باید د واده کوونکي عمر په پام کې و نه نیول شي، بلکه باید هغه عمر چې پکې کوژده کېږي یا د واده توافق په کې کېږي هم په پام کې ونیول شي چې دغه موضوع لږ تر لږه د کوژدې کولو د عمر د موضوع سره انډول ارزښت لري. وروسته د دغې برخې یوه ځانګه دهلکانو په اجباري ودونو او د دوی پر کورنیو د دا ډول ودونو پر اغیزو بحث کوي. لکه څرنګه چې څرګنده شوه دا ډول ودونه په کورنۍ کې د مېرمنې په وړاندې د خاوند تاوتریخوالی هڅوي.

د دغې څېړنې دویمه برخه په هغه ونډه چې باید د واده په پرېکړوکې یې اولادونه ولري، د ځایي ټولنو په لیدلوریو بحث کوي. په داسې حال کې چې اولادونو ته لاتراوسه هم په داسې عمر کې کوژدې کېږي چې د دغې څېړنې د ځواب ویونکو له انده د کوژدې کولو لپاره مناسب عمر نه دی،ځینې کسانو د ودونو په پرېکړو کې د اولادونو د رول درلودلو په اړه خپله لېوالتیا څرګنده کړه، چې دغه چاره خبرو اترو لپاره د یو لړ خبرو شتون او په منل شویو نورمونو کې بدلون ثابتوي. فرعي برخې دا هم څرګنده کړه چې یو زیات شمېر مرکه کېدونکو خپل نظرونه د هغه څه څخه توپیر لرونکي وړاندې کړل، چې منل شوې نورمونه ګڼل کېږي. له دې سره سره څرګنده شوه هغه کسان چې په یوه سیمه کې ژوند کوي او خپل راتلونکې ته هم یو ډول هیلې لري، کېدای شي د ټولنیزو نورمونو د ماهیت په اړه مختلف لید لوري او فکر ولري. دغه موضوع د دې څرګندونکې ده چې نه یوازې ټولنیز نورمونه د بېلابېلو کسانو په واسطه په بېلا بېلو تفسیرېږي بلکې دغه نورمونه له یو ډول پرله پسې بدلونونو سره مخ دي. په داسې ډول چې نه په پرېکنده توګه ثابت شوي او نه د ځایي ټولنو د ټولو (یا زیاتره) غړو د منلو وړ ګرځېدلي. او په همدې توګه د سمي انګیزې د لاملونو دشتون په وخت کې په هغوی کې د بدلونونو د راوستلو لپاره لاره هواره ده.

---

[۳۷] د ډیبرا .جې سمیټ ویره، ډار او انضباط : په افغان کورنیو کې د ماشومانو په وړاندې ورځنی تاونریخوالی،( کابل: د څېړنې او ارزونې اداره ۱۳۸۷ ) وګورئ. چې په تفصیل سره هغه لاملونه راسپړي چې د ماشومانو د شمیر د زیاتوالې په اړه د کړو وړو له بدلون سره مرسته کوي.

[۳۸] دا مسئله پدې مانا نه ده چې مېرمن لرونکو سړیو د افغانستان په ګڼ شمیر جګړو کې برخه نده اخیستې، بلکه لکه څرنګه چې د څېړنېدلې ته ویل شوې دي، دا یوه استراتیژي وه چې د کورنیو له لورې د جګړو څخه د خپلو زامنو د راګرځولو لپاره ترې ګټه اخیستل کېده.

## ۶- د واده کولو پرېکړه – ویره او بهرنی فشارونه

دغه برخه پر هغو فشارونو بحث کوي چې کورنۍ، مور او پلار احساس کوي چې دخپلو اولادونو واده په کم عمر کې تر سره کړي ددې پر ځای چې اولادونه په خپله دخپلې خوښې د ژوند ملګرې وټاکي، خو دا کار په بیړه تر سره کیږي. د اولادونو د واده په هکله دغه شان فشارونه د واده د پرېکړو په بهیر کې د احتیاط نه شتون څرګندوي، چې په خپل وار سره د دواړو ښځې او میړه او په خاصه توګه د ښځې لپاره ناوړه پایلې لري. د کورنۍ او کورنۍ اړیکو څخه بهر څلور مهمې برخې پیژندل شوې دي چې د هغو له لارې پر مور او پلار د دوی د اولادونو د واده کولو لپاره فشار راوړل کیږي:

- د یوې کورنۍ څخه بهر د نورو خپلوانو د کورنیو غړو له لورې فشار؛
- جګړې او په دې پورې تړلې بې ځایه کېدل د اولادونو د واده د هڅونکې او یا لامل په توګه – د نجونو لپاره کوژده کېدل ښایي د ناوړه جنسي ګټې اخیستنې څخه د خوندیتوب په توګه وپیژندل شي او د هلکانو لپاره جنګ او جګړو ته د تګ د مخنیوي کوونکي عامل په توګه؛
- د مور او پلار سره ددې اندېښنې شتون چې که چېرې خپلو اولادونو ته په کم عمر کې واده ونه کړي، ښایي اولادونه په راتلونکې کې واده ونه شي کړای.
- هلکانو ته د خپل وخت نه مخ کې کواده کول له دې کبله چې کورنۍ د کور د کارونو لپاره مرسته کوونکي ته اړتیا لري.

هغه اقتصادي لاملونه چې مور او پلار د خپلو لونو د خوښې پرته د هغوی واده کولو ته اړ باسي، په ۷ مه برخه کې د ولور تر عنوان لاندې په هر اړخیزه توګه تحلیل او څېړل کیږي، او همدارنګه د هلکانو د جنسي انحراف د ویرې موضوع په ۵ مه برخه کې څېړل شوې ده.

### ۱٫۶ د کورنۍ غړې مور او پلار د اولادونو واده کولو ته "اړ" باسي

داجباري واده په اړوند په مخکینې بحث کې د هغو کسانو موضوع چې د مور او پلار یا د کورنۍ د نورو غړو له لورې د دوې د خوښې په خلاف واده کولو ته اړ ایستل کیږي، تر څېړنې لاندې ونیول شوه. څېړنو ښودلې ده چې مور او پلار هم د خپلو خپلوانو تر فشار لاندې راتلای شي چې د اولادونو د خوښې پرخلاف ورته کوژده وکړي. ددې کار دلیل په ساده توګه کېدای شي دغه مسئله وانګېرل شي چې مور او پلار دا فکر کوي دکورنۍ دغړیو د وړاندیز رد کول یو ډول نه درناوی ګڼل کیږي.

د نسلونو او جنسیتونو تر منځ اړیکې په یوه کورنۍ کې د وړاندیز په اغېزمنتیا کې ډېر زیات ارزښت لري. مشران ورونه کولای شي پر کشرانو خویندو فشار راوړي چې هغوی خپل اولادونه د دوی له اولادونو سره کوژده کړي. په همدې ډول کله چې د بامیانو د ولایت د کلیوالي سیمې له یوې سپین سرې ښځې څخه د هغې د لور د کوژدې د پرېکړو په اړه پوښتنه وشوه داسې یې وویل چې د (خاله، ترور یا کاکا) له زوی سره د (خاله، ترور یا ماما) د لور د کوژدې د وړاندیز رد ډېر ستونزمن دی.

*کله چې زمونږ خپلوان زمونږ کره د لور د غوښتلو لپاره راشي، مونږ دوی ته د نه ځواب نشو ورکولای. کله چې کوم خپل په رووباری ځي نو څوک کولای شي، دوی ته د نه ځواب ورکړي، مونږ نشو کولای دوی رد کړو، ځکه زمونږ لور یوه (انجلۍ) ده.*

د دغې ښځې په وینا هغې خپلې ټولې لونې کله چې ډېرې کوچنۍ وې، واده کړې دي چې اوس پرې پښېمانه ده.

په یوه بله بیلګه کې د کابل له ښار څخه یوه ښځه چې نژدې ۴۵ کلنه ده، د خپل واده څرنګوالی یې داسې بیان کړ:

*زماخسر زما ماما دی، هغه زمونږ کورته راغی او زما له مور او پلار څخه یې وغوښتل چې ما د ده زوی ته واده کړي. زما مور او پلار د ماما د غوښتنې په وړاندې یې هیڅ هم نشوای ویلای ځکه هغه تر دوی مشر ؤ. نو له دې کبله یې زه د ماما زوی ته واده کړم زمونږ له کورنۍ څخه هیڅوک هم پدې کار خوښ نه وو. مور مې وویل (( زما لور ډېره کوچنۍ ده، هغه د ژوند او میړه په اړه هېڅ نه پوهیږي))، خو زما ماما په ځواب کې وویل (( کومه ستونزه نشته، زه د هغې ماما یم. زما کور د هغې خپل کور دی او هغه به هر څه زده کړي)). له دې وروسته مې مور هم څه ونشو ویلای ځکه ماما مې په مور مشر ؤ او کشراني خویندې نه شي کولای د مشرانو ورونو په وړاندې څه ووایي.*

باید ووایو لکه په دغه دوه بیلګوکې چې مینډې دا احساس کوي چې د دوی مشران ورونه د دوی د اولادونو د اجباري ودونو لامل دي، ډېر خلک پر دې باور دي چې د ((پردیو)) په پرتله د خپلوانو سره کوژده کول ښه دي، دوی دا فکر کوي چې لونې د خاله ،ماما او کاکا په کورونو کې زیات خوندیتوب لري، او د خپلوانو سره واده کېدای شي د ولور اندازه ډېره راکمه کړي. سره له دې دا موضوع تل داسې نه ده، ځینې مېرمنې له دې چې د خپل ماما ، کاکا او ترور له زامنو سره واده کولو ته اړې شوې دي، خپله نهیلي څرګنده کړېده. دغه نهیلي په ځانګړې توګه هغه وخت چې دوی د خپلو خاوندانو سره بشپړه پیژندګلوي درلوده، زیاته څرګندیږي:

*زه یوه ورځ د خپل کاکا کورته ولاړم او له دوو ورځو وروسته بېرته خپل کورته راوګرځېدم، خویندو مې راته وویل (( پلار ته له عبدل سره کوژده کړې یې)) هغه زما د کاکا زوی دی او ما ډېر وژړل ځکه عبدل زما د وړور په شان ؤ او ما به ورسره لوبې کولې.*

- ننګرهار ولایت د ښاري سیمې د منځني عمرلرونکي مېرمنه

## ۶,۲. د جګړو او کډوالي پر مهال د بې واده اولاد له درلودلو څخه وېره

*د دغې مسئلې اصلي دلیل کورنۍ جګړې دي ځکه د کورنیو جګړو په پایله کې ډېرو کورنیو په کوچنیو عمرونو کې د خپلولونو د واده کولو پرېکړه کړېده.*

- د کابل ښار ځوانه اوسېدونکې

لکه څرنګه چې پورتنۍ وینا څرګندوي جګړو او نا امنیو په کورنیو فشار راوړی او هغوی یې اړ کړي چې په بېړه خپلو اولادونو ته واده وکړي. د بامیانو په ولایت کې د یوه سپین ږیري په وینا د نجونو په بېړه کوژده کول د دوی د پټ ساتلو لپاره کېده:

*موږ د کډوالي په حال کې وو او د یکاولنګ په لوري تللو چې د احمد د خور پیغام راورسېد چې له موږ څخه یې غوښتي وو چې خپلې لونې واده کړو. نجونې پیغلې وې او ددې وېره وه چې څه ور پېښ نه شي ... موږ هغوي په یکاولنګ کې بدل کړې او نکاح مو کړې د واده کولو مراسم مو بیپه کډوالي کې او په زړو او خیرنو جامو کې تر سره کړل.*

یوه سپین سرې مېرمن چې اوسمهال د کابل په ښار کې اوسي د خپلو لونو د واده کولو په اړه دې ته ورته انګیزه بیان کړه:

*وروسته له څو میاشتوکله چې موږ بېرته مزار تهستانه شوو زوی مې را ته وویل، ((موږې، ما ستا لونې (خپلې خویندې) هغې کورنۍ ته کوژده کړې، لکه چې ته پوهېږې هغه ډېره ښه کورنۍ ده او همدارنګه پوهېږې چې په افغانستان کې اوسنۍ شرایط ښه نه دي، ښه به دا وي چې خپلې ځوانې لونې واده کړې. ))*

دا د باور وړ نه ده چې که کوم څوک داسې و انګیري چې د جګړو په وخت کې پر واده شوو ښځو دجنسي تیري او ناوړه استفادې احتمال به کم وي؛ ډېر د هغې پر ځای داسې انګیرل کېده چې د پیغلو نجونو د کوژدې کولو لپاره تمایل د جګړو په وخت کې په دې دلیل ؤ چې د داسې نجونو واده کول چې جنسي تېرې پرې شوی وي په عمل کې ناشونی وو، یا ښایي دا ډول ودونه پدې دلیل کېده چې د جنسي تیري د موضوع پتوالی په مېره لرونکو ښځو کې آسانه وي. په همدې ترتیب یو پلار د خپلې لور او یو وړور د خپلې خور په واده کولو سره د خور

او لور د ساتنې دنده د یوه نارینه ( د هغې خاوند) په غاړه اېښوده. ښایي داسې به انګیرل کېده چې خاوند چې یوازې د خپلې مېرمنې سره ژوند کوي، د هغه پلار یا وړور په پرتله چې د ډېرو لونو یا خویندو د ساتلو او څارلو دنده لري، خپله دنده ښه ترسره کولای شي.

په یوه بېلګه کې د هرات ولایت له کلیوالي سیمې څخه یو پلار څرګندوي، کله یې چې د کورنیو جګړو په کلونو کې بې ځایه شوه د هغې سیمې قومندان چې هلته دوی ژوند کاوه پرېکړه کړې وه چې پوه شي د هغې سیمې نجونې څه وخت او له چا سره واده کوي. د قومندان د دغه پرېکړې څخه د ځان ساتنې په موخه نوموړي په بېړه خپله لور د هغې د تره د زوی سره واده کړه.

که څه هم چې دا یوازې د لونو ودونه نه وو چې د جګړې د بېړنې حالت او بېځایه کېدو له کبله به تر سره کېدل . د بامیانو له ولایت څخه یو شمېر کورنیو داسې ویلي چې دوی د جګړو څخه د راګرځولو په موخه خپل زامن اړ کړل چې واده وکړي. د بېلګې په توګه یوه مشر وړور د خپل واده څخه مخکې خپلو کوچنیو وړونو ته ودونه کړې وو، ځکه د هغه کشرانو وړونو غوښتل چې جګړو ته ورګډ شي. له کلتوري دود څخه دغې سرغړونې د مشر وړور لپاره یو لړ ستونزې را پیدا کړې، تر هغه وخته چې ده د خپل واده لپاره ګام نه ؤ اخیستی، ځایي خلکو د ده (په مېرانه) مسخرې کولې.

په یو بله بېلګه کې یو سړي خپله کیسه داسې بیان کړه کله چې هغه له جګړې تېټې راستون شوی ؤ، مور او پلار یې یوه پېغله د کوژدې لپاره پیدا کړې وه، تر څو له دې لارې جګړې ته د هغه دبیا تګ څخه مخنیوی وشي[۳۹] .

## ۳,۶ د اولادونو د واده د ځنډ وېره

که څه هم چې واده کول په افغاني ټولنیز ژوندانه کې یو مرکزي اړخ دی، خو د واده کولو یا نه کولو موضوع یوه ټاکنیزه خوښونه نده چې د هرچا په واک کې وي. له دې کبله ښایي مور او پلار د خپلو اولادونو د واده کېدو څخه د ډاډ په تر لاسه کولو کې له زیاتو فشارونو سره مخ وي، او د دوی لپاره د اولادونو واده کول تر ټولو ستونزمنه دنده ده چې د اولادونو په وړاندې یې لري. د هغو ودونو د پرېکړو کچه چې په ناوړه ډول او په ډېره بېړه ترسره شوي ده، ددې موضوع په اړه د مور اوپلار د اندېښنتیا کچه څرګندوي چې یوه رویبار ته د نه د ځواب ورکولو په صورت کې به د دوی لور ته بل رویبار پیدا نشي[۴۰].

[۳۹] د بېلګې په توګه ٤ برخېته پاملرنه وکړئ، دغه برخه هغه کوژدې بیانوي چې پکې د واده څخه مخکې مور او پلار د خپلې لور د خاوند په اړه ډېره کمه پېژندګلوي لري د څېړنو په لړ کې په مختلفو ولایتونو کې دغه شان نورې بېلګې هم لاس ته راغلي دي.

[۴۰] د بېلګې په توګه د کور زوم اوبد . د کور زوم د واده کولو داسې یو دود دی چې په هغه کې مېره د خپلې ښځې د کورنۍ سره ژوند کوي. دغه دود کېدای شي ګڼ د لیلونه ولري، یو له دغو دلایلو چې د څېړنو دلې لاس ته راوړو دا دی چې مېره د ولور د ورکړې په ځای تر

همدارنګه لکه څرنګه چې په ۵ برخه کې د هلکانو د اجباري واده په برخه کې ورته اشاره شوې ده، په کم شمېر ځايونو کې هلکان مخ کې له دې چې خپله د واده کولو لپاره چمتووالی وښيي، پر يوې نجلۍ د ((مېن والي)) يا ورسره د يو ډول اړيکې د شته والي له کبله چې د هلک مور او پلار له هغې سره د خپل زوی واده د هغه په خير نه ګڼلو، د مور اوپلار له لوري د بلې نجلۍ سره واده ته اړ شوي دي. له دې کبله د بلې نجلۍ سره د هلک واده په دې هيله کېږي چې د زوی اړيکې پای ته ورسيږي. د ځوانی په وخت ځوانانو ته د واده نه کول د جنسي انحرافاتو لامل کيږي نو (( مونږ بايد هغوي ته ژر واده وکړو چې په ګناه اخته نشي )) يا مونږ بايد هغوي ته ژر واده وکړو چې د يو څه له ((پېښېدو)) څخه مخنيوی وشي.

د دغه څېړنې نورو مرکه کوونکو خپلو اولادونو ته په بېړه د واده کولو دليل د خپل مرګ د را رسيدو څخه مخکې د هغوی د واده ليدل بيان کړې دي. د غه مسئله د هرات ولايت د کليوالي سيمې اوسېدونکې نوروزالدين داسې بيانوي:

په هغه وخت کې چې زما دبنيني ( ښځې د خور) لور ۳ کلنه وه او زما زوی ۵ کلن ؤ زما مېرمنې پرېکړه وکړه چې خپل زوی ته د خپلې خور لور کوژده کړي ... ما له هغوی سره موافقه وکړه ، ځکه مونږ. يواځې يو زوی درلود او غوښتل مو چې په خپل ژوندانه کې د هغه د واده مراسم و وينو.

په داسې حال کې چې نوروزالدين يواځې ۳۵ کلن دی خو دا چې مشران ورونه يې مړه شوي دي، د وختي مرګ څخه په رښتيني توګه وېره لري .

نورو مرکه کوونکو خپلو اولادونو ته د مناسب عمر د رسېدو څخه مخ کې واده کولو دليل د لمسيانو درلودل بيان کړل. د ننګرهار ولايت څخه د منځنې عمر لرونکې يوې مېرمنې دغه موضوع داسې تشريح کره:

څرنګه چې يوهيږئ زه يو زوی لرم، له همدې کبله زه هيله لرم چې زوی ته ژر واده وکړم چې خپل لمسيان ووينم. ما د خپلو لونو د کوژدې کولو لپاره پوره پيسې نه درلودې نو ځکه مې بدل کړی.

## ۴,۶ د کور د کارونو لپاره د نګور( ناوې) لرلو ته اړتيا

د څېړنو څو مرکه کونکو څرګنده کړه چې ځکه چې مور په کورکې يواځې وي او دکور په کار کې مرسته کوونکې ته اړ تيا لري نو زوی يې اړ کړی چې کوژده وکړي که څه هم چې د کورنۍ غړي يې پدې باور وي چې د هغه عمر د کوژدې کولو لپاره کم دی او د ناوې عمر به هم کم وي. د راپورونو پر بنسټ هغه پلرونه چې د ژوند ملګرې يې له دنيا تللې او په کور کې د کار کولو لپاره بل ځوک نه لري زامنو ته کوژده کوي . په يوه بيلګه کې بی بی لطيفه د ننګرهار ولايت ښاري اوسېدونکې داسې څرګندونې کوي چې هغه په دې حد رنځوره ده چې کار نه شي کولای، له دې کبله هغې خپل زوی ته چې يواځې ۱۹ کاله عمرلري د داسې نجلۍ سره کوژده کړې چې ۱۳ کاله عمر لري. که څه هم چې نومورې پوهيږي چې دوی د واده کولو لپاره مناسب عمر نه لري.هغې اوس دا موضوع درک کړې چې دغه واده به دکورنۍ لپاره ډيرې ستونزې رامينځ ته کړي ځکه د ناوې عمر ډېر کم دی.

لدې کبله چې کريمه (د بی بی لطيفې لمړۍ نګور) د اولاد د زيږيدو په وخت کې يوه کم عمره نجلۍ وه په پښتورګو کې يې څه ناروغي پيدا شوه چې تل يې د پښتورګو له درد څخه شکايت کوي، کريمه او ګلالۍ ( د بی بی لطيفې دوهمه نګور) د کور په کارونو کې تل له يو بل سره جنجال او جګړه کوي. کريمه وايي زه د پښتورګو د درد له کبله نشم کولای د کور کارونه وکړم او ګلالۍ له دې کبله چې اړه ده د کور ټول کارونه وکړي ، شکايت کوي.

دې ته ورته يوه بله بيلګه د باميانو ولايت په يوه ښاري سيمه کې هم شته ده، د کورنۍ پلار پدې اړه داسې وايي:

*ځکه چې مېرمن مې يواځې وه اود کور کارونه يې په ښه توګه نشوای کولای نو پريکړه مې وکړه چې د خپلو زامنو څخه يوه ته واده وکړم. د خپل مشر زوی څخه مې غوښتنه وکړه خو نوموړې د واده کولو وړانديز رد کړ وروسته مې دويم زوی ته وړانديز وکړ هغه وويل (( څه چې تاسې کوئ ما ته د منلو وړ دي)) نو له دې کبله مې هغه ته واده وکړ.*

دغه واده ډير ستونزې زيږونکئ ؤ او ناوې بېرته د خپل پلار کور ته ولاړه

## ۵,۶ پايلې – په بيرنيو ودونو کې وېره د چټکتيا لامل

په دغه برخه کې ځينې هغه دلايل څېړل کيږي چې د هغوي پر بنسټ مور او پلار خپل اولادونه واده کولو ته اړباسي. مور او پلار خپلو اولادونو ته په داسې ډول واده کوي چې د هغې پر خرابتيا خپله ډاډ لري، دغه ډول ودونه دادي :

- د اولادونو کوژده په هغه وخت کې چې د دوی عمر ډېر کم وي؛
- د اولادونو کوژده کول پرته له دې چې د هغوی نظرياتو ته پاملرنه وشي؛

يوه وخته پورې د ښځې د پلار لپاره کار کوي. بد د واده کولو بل دود دی چې په هغه کې پېغلې د شخړې د پاې ته رسولو په موخه د مخالف لوربځوانانو ته واد کوي . په دې اړه کيدای شي بشپړ بحث د ځايي ټولنو د حل لارو په اړوند د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په راتلونکې راپور کې پيداکړی.

کوژده کول پرته له دې چې د ژوند د ملګرې یا د هغه/هغې د کورنۍ په اړه مالومات ولري

د هغه څه په تناقض چې مور او پلار یې د خپلو اولادونو لپاره ښه بولي او د هغه څه چې په پای کې یې د خپلو اولادونو د کوژده کولو د پریکړو لپاره کاروي، ویره د یوه مشخص لامل په توګه پیژندل شوې ده. دا ډول ویرې دا دي: ویره له دې چې که خپلو اولادونو ته کوژده ونه کړي د جګړو او نا امنیو په وخت کې به څه ورپېښیږي ، د اولادونو د جنسي انحراف څخه ویره، د اولادونو د کوژدې د نه لیدلو ویره، او د لمسیانو د نه لیدلو څخه ویره او وروستی دلیل په کوچني عمر کې د اولادونو د واده لپاره په کور کې د کار لپاره مرسته کوونکې ته عملي اړتیا پیژندل شوې ده. راتلونکې برخه د ولور غوښتې او بدل د ودونو پر څرنګوالې د بحث له لارې څرګندوي چې اقتصادي ستونزې هم ښایي د داسې چا سره د لوڼو د ودونو لامل شي چې کورنۍ له یو بل سره ښایي ډېر کمه پیژندګلوي ولري.

# ۳ څپرکی: د واده دودونه

د دغه څېړنيز رپوټ دريمه برخه تر څېړنو لاندې ټولنو کې د واده پريوشمير روانو دودونو راڅرخي. د بدلون دود، ولور او له يوه څخه زيات ودونه. په افغانستان کې د ودونو نور ډولونه هم شته چې دلته تر څېړنې لاندې نه نيول کېږي د دغې موضوع اصلي دليل د څېړنو د مرکه کوونکو له لورې داستنادي سرچينو کمښت او په هېواد کې د دغه شان ودونو د بېلګو کموالی دی.[41]

د ودونو په اړه د خبرو اترو په هکله بشپړ مالومات راغونډ شوي دي. دغه مالومات ګڼ شمېر موضوع ګانې لکه دا چې کورنۍ څه هڅوي چې د ودونو له دودونو څخه يودود غوره کړي. او دا چې غوره کړل شوي دودونو په خاوند او مېرمن او د هغوی پر کورنيو څه ډول اغېزې درلودلای شي. په دې برخه کې يو شمېر کورنۍ د يوې ځانګړې موضوع لپاره څېړل شوي او هغه دودونه وړاندې کوي چې په هغو کورنيو کې د واده لپاره کارول شوي دي. خو په همدې حال کې د خاوند او مېرمنې تر منځ د شخړو کېسې هم بيانوي، دا په دې مانا نه ده چې د نارينه وو او مېرمنو ګټې تل په ټکر کې دي. ښايي د يوه واده په کېدو کې ښځې ټيټ يا د فرمانبرداری موقف ته راټيټې شي، چې دغه تنزل کېدای شي د واده د ځانګړي دود د ټاکلو له کبله دوه برابره شي؛ سره له دې ، د جکسون په وينا(( موږ ته نه ښايي پر هغو ګډوګټو چې نارينه او ښځې يې په کورنيو کې لري، سترګې پټې کړو)). بې له شکه په ځانګړو کورنيوکې د نارينه وو او ښځو ګټې سره ګډې دي او د لاسته راغلو مالوماتو څخه څرګندېږي چې يوازې ښځې نه دي چې د واده د ځينو دودونو د پايلو څخه رنځېږي، بلکې سړي هم له دې دودونو څخه اغيز من دي.

دا برخه يوازې پر هغو پېښو چې په هکله يې رپوټ ورکړل شوی تمرکز نه کوي بلکې دا برخه د شرايطو او د خپل او د ګاونډيانو د ژوندانه د څرنګوالي په اړه د ځواب ويونکو په شخصي شننو هم تمرکز کوي.پدې څېړنه کې د ځايي ټولنو د مختلفو غړيو چې د مختلفو جنسيتونو او مختلفو عمرونو لرونکي وو، په منځ کې د واده کولو د ځينو دودونو د خرابو احتمالي پايلو په اړه د يوهاوي لوړه کچه ليدل شوېده.

۷ مه برخه په ځانګړې ډول د بدل او ولور دودونه تر څېړنې لاندې نيسي. د واده دغه دوه دودونه په يو ځايي توګه تر څېړنې لاندې نيول شوي، ځکه په عام ډول ويل شوی چې د بدل له دود څخه د ولور د نه ورکړې په موخه ګټه اخيستل کېږي . په ۸ مه برخه کې له يوه څخه زيات ودونه او د هغو دليلونه او همدارنګه پر کورنيو د دغه شان وضعيت اغېزه تر څېړنې لاندې نيول کېږي.

## ۷ . د ناوې په وړاندې د لونو بدل، د پيسو په وړاندې د لونو بدل

په تر څېړنې لاندې ځايي ټولنو کې د لونو د بدل دود د داسي يو دود په توګه پېژندل شوئ چې تل په کورنيو کې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي لپاره لاره هواروي. د ځينو کسانو په اند دا يو غير اسلامي دود بلل شوی دی. سره له دې په ځايي ټولنو يې د بدل ودونه تر ټولو عام دود دی: تر څېړنې لاندې کورنيوکابو نيمايي برخې[42] يې د بدل ودونه تر سرکړې دي. سر بېره پردې له مرکه کوونکو څخه زيات شمير کسانو هم پر هلک او نجلۍ د ولور د ورکړې د ناوړه اغېزو په اړه خبرې کړې دي. د دې سره سره د مرکه کوونکو له لورې د دغو دودونو ځای نيوونکې لارې ډېر لږ وړانديز شوي دي. دا برخه د دوو کورنيو د کيسو په شرحه پيل کېږي چې په دغه دوو کورنيو کې لونې يو د بل زامنو ته په بدل ورکړل شوي دي. دغه کيسې څرګندوي چې څرنګه دنجونو د بدل بهير د بدل شويو ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي يوه کرغېړنه کړۍ رامنځته کړې ده. په دې اړه د بېلا بيلو کورنيو څخه بېلګې چمتو شوي دي چې په هغو کې د بدل د ودونو د اغېزمنتيا څېړل او همدا راز د اولادونو لپاره د دا ډول ودونو د ټاکلو تر شا مهم دليلونه او هڅوونکې هم څېړي. لاندې فرعي برخه د بدل د دود په اړه د وګړو نظريات څېړي او څرګندوي چې د بدل دود په ټولنه کې يو منلی‌دود دی او په پراخ ډول د هغه څخه ګټه اخيستل کېږي ، د خلکو له نظره دا د لونو او زامنو د واده کولو يو عادي دود ګڼل کېږي، په حقيقت کې دغه دود په عمومي توګه د ټولو د منلو وړ نه دی. دغه دود د داسي دود په توګه ګڼل کېږي چې په راتلونکې کې د ستونزو د راپيدا کېدو لامل کېږي، له دې دود څخه له دې کبله کار اخيستل کېږي چې بل بديل ورته نه شته. د دې څپرکي دويمه برخه د ولور په اړه بحث کوي او دا څرګندوي چې په څه ډول اقتصادي مسائل او د هلکانو د ودونو لپاره د ولور د پيسو برابرولو ته اړتيا د نجونو د سوکالۍ په وړاندې درېږي، د نجلۍ او د هغه مېره او دميره پر کورنۍ ناوړه اغېزې هم په همدې برخه کې څېړل کېږي.

### ۷,۱ د بدل دود – موضوعي څېړنې

### ۱ موضوعي څېړنه : د باميانو دولايت

پروين او خاوند يې بصير پنځه اولادونه لري (۹ مه کورنۍ نخشه). دوي د بصير د کشر وررور اسماعيل او د هغه د مېرمنې ((ملکې)) او

---

[41] سي . جکسون : د ګواښ له منځه وړل ؟ واده او په نوی بڼه د خاوندتوب او مېرمن والي ژوند، پراختيا او بد لون، ۳۸ ګڼه۱۳۸۶ کال : ۱۰۷-۱۰۹

[42] مرکزي کورنۍ هغه دي چې کم تر کمه دوه غړي يې چې تل په کور ژوند کوي، پدې څېړنه کې برخوال وي.

څلوروکوچنيو اولادونو، يو بي واده ورور، دوو پېغلو خويندو او د بصير د مور او پلار سره ژوند کوي. اسماعيل او د بصير يوه خور په يوه نادولتي سازمان (NGO) کي په کار بوخت دي چي ډير ځلي د خپلي دندې د په ځاي کولو لپاره ګاونډيو ولسواليو ته سفر کوي. د دغو دوو اولادونو معاش اود کرنيزو ځمکو د اجارې له امله د دغي کورنی اقتصادي وضعيت ښه دی. دوی پدې وروستيو کي يو موټر اخيستی. د دغي کورنی غړي د زده کړې کچه نسبتاً ښه ده. د بصير خويندو تر شپږم ټولګي پورې ښوونځی لوستی دی، د بصير کشر ورور د ښونځي په اتم ټولګي کي دی او د کورنی ټول اولادونه ښونځي ته ځي. بصير او اسماعيل دواړه په رسمي توګه ښوونځي ته نه دي تللي خو په کور کي يې زده کړه کړېده او دواړه لوستي دي. د دوی مېرمنو هم ښوونځی نه دی لوستی خو ملکي پدې وروستيو کي د خپلي لور په مرسته په ليکلو او لوستلو پيل کړی دی[٤٣].

کله چي بصيراو پروين واده وکړ، پروين ۹ کلنه او بصير ۱۹ کلن ؤ. دوی له يو بل سره د خپلوي اړيکه درلوده د بصير پلار د پروين د مور ماما دی. سره له دې هم کورنيو يو له بل سره د دوی د واده کولو د پرېکړې په وخت کي دومره پيژند ګلوي نه درلوده. څرنګه چي د بدل واده ؤ نو ځکه د بصير خور يې د پروين ورور ته واده کړه او په همدې وخت کي پروين بصير ته واده کړل شوه. د دغه واده لپاره د پروين مور د بصير کور ته راغلي وه تر څو نومورې ته د واده وړانديز وکړي، بصير هم پرته له دې چي د خپل راتلونکي ژوند ملګرې ووينې ، هوکړه وکړه. بصير وايي په هغه وخت کي مي په دې اړه انديښنه درلوده چي آيا زما ښځه به ښايسته وي او ښه شخصيت به ولري اوکه نه. خو څرنګه چي هغه د نجلۍ د مور (خپله خوابښې) شخصيت او ښکلا کتله، نو دا احساس يې کاوه چي بايد د ژوند د راتلونکي ملګرې په اړه ډاډ ولري. د نومورې خور په هغه وخت کي ۱۵ کاله عمر درلود د خپلي کوژدې څخه خوشحاله نه وه او تر هغه وخته يې چي خپل د ژوند ملګرې يې نه وُليدلی دهغه په اړه ډاډمنه نه وه ، بصير هم خوشال نه ؤ چي خپله خور په هغه وخت کي پرته له بشپړ پيژند ګلوي څخه د خپلي کورنی څخه بلې کورنی ته واده کړي، په داسي حال کي چي د کورنی غړو باور درلود چي نجوني د واده کولو په اړ ه د خپل نظر د څرګند ولو حق لري، سره له دې په دې واده کي ښکاره شوه چي د کوژدې په اړه د بصير د خور مخالفت ته پاملرنه نه ده شوې.

سره له دې چي بصير او پروين وايي چي بصير نور له پروين سره زور زياتی نه کوي خو د واده په لومړيو کلونو کي بصير د خپل ورور او پلار په شان له خپلي ښځي سره زور زياتی کاوه. پروين او بصير دواړه د دغه زور زياتي لامل د بدل دود ګڼي. لاندي وينا دا موضوع داسي څرګندوي :

*زما واده ز ما د مېره د خور په بدل کي شوئ؛ زما د خاوند خور په يوه بل کلي کي ژوند کوي او له هغه کلي څخه خپلي مور ته (زما خوابښې ) بد خبرونه را استوي، هغه له دې موضوع څخه شکايت کوي چي خوابښې يې (زمامور) ټول شيان له هغي څخه ليرې ساتلي او کلپ (قفل) پرې اچوي. ان تر دې چي هغي ته خوراکي توکي هم نه ورکوي او هغي همدا راز ويلي چي مېره يې (زما ورور) هغه وهي او ټکوي. زما خوابښې پر ما تور لګاوه چي ګواکي زه خپل ورور دې ته هڅوم څو د هغي لور ووهي. او له همدې کبله زه هم د خپل خاوند د وهلو او ټکولو سره مخ وم.*

-پروين

*له هغه ځايه چي هغه (پروين ) زما د خور په بدل کي ماته واده شوي هر وخت چي (زما د خور په کور کي ) وضعيت خراب شي دغه وضعيت زموږ په کور هم اغېزه کوي. هر وخت چي هلته زما خور په هردليل وهل کيږي، زما مور زما په ښځه فشار راوړي او هغې ته وايي ته ولي دلته سوکاله ژوند کوې او زما لور هلته د تا د مور او پلار تر فشار لاندي ده؟ زه هم تر فشار لاندي راځم تر دې چي پدې مسئله کي مداخله وکړم او دې ته اړ کيږم چي خپله ښځه په بوټ اويا په هرڅه چي په لاس راځي، ووهم تر څو د خپل روحي فشار څخه خلاص شم، ځکه زه د هغه څه له کبله چي زما په خور تيرېدل احساساتي کيږم. په حقيقت کي زه له خپل ځان څخه پوښتنه کوم چي ولی هغه څه چي زما په خور تيريږي بايد زما په ښځه هم تېر شي په هر حال د روحي فشار څخه د خلاصون په موخه ما خپله مېرمن وهله او ډبوله.*

-د بصير وينا

*هر وخت چي زما د خور بيولو ته د مېره له کور څخه يې څوک راتلل نو هغي ژړل او زاری به يې کولې. د هغې ژړا او زاريو زمونږ د کورنی هر غړی يې ډېر غمجن کاوه او ما د خپلي خور له کبله خپله مېرمن وهله.*

- د بصير وينا

د دغه ويناوو څخه دري ټکي څرګندېږي :

- د بدل په دود کي پر يوه بدل شوې ښځه زور زياتی او يا ناوړه کړه وړه د دې لامل کيږي چي د مقابل لورې په ښځه هم زور زياتی وشي. په پايله کي د تاوتريخوالي او زور زياتي دغه کړی په بدل کي په شريکو ښځو په دايمي توګه پاتي کيږي.
- د سړيو له تاوتريخوالي ډک چلند په اړه معمولاً ښځي پړې ګڼلي کيږي د پر ګڼلي شوی ښځي حال به هماغه وي چي ښايي خپله قرباني ښځه يې ولري او يا څرنګه چي پدې بېلګه کي وکتل شوه، بله ښځه وي[٤٤] . لکه پدې ځای کي چي وليدل شول بصير

٤٣ د زده کړې لپاره د ملکي پرېکړه د اسمېت په کتاب کي څېړل شوېده.

٤٤ دغه موضوع د ډيبرا جي اسميت د افغانستان د څېړني او ارزوني د اداري په راتلونکي

چې د خپلو اعمالو د کنټرول نه ورتیا او همدا رنګه هغه فشارونه چې موراو پلاریې په ځانګړې توګه مور یې پرې راوړي، د تاوتریخوالي ډک خپل چلند لپاره دلیل ګڼي. پروین هم د بصیر د دلیل ملا تړ کوي او د هغه ناوړه کړه وړه د هغه د مور له غوښتنو سره تړلې ګڼي .

داسې ښکاري هغه ښځه چې د بدل د دود له لارې واده شوې، لړ تر لړه د خپل کورني ژوند په لومړیو کې له خپلې کورنۍ سره زیات تړلې وي نه د میړ ه له کورنۍ سره، له دې کبله د مېړه د کورنۍ لپاره د هغې ځورول د هغه څه د غچ اخېستو یوه لاره ده چې د میړه له خور سره یې د هغې کورنۍ کوي. بصیر د داسې وضعیت په اړه اندېښمن ؤ چې خور یې ور سره مخ وه او یواځینی کار یې چې احساس کاوه کولای یې شي، پرخپله مېرمن برید کول وو چې هغه پخپله هم د داډول شرایطو سره مخ وه. د بدل په واده کې د دواړو مېرمنو (ناویانو) سره ورته چلند یواځې د غچ اخیستو له کبله نه کیږي؛ د بېلګې په توګه پدې برخه کې د بصیر مور او پلار هغه ته وړاندیز وکړ چې خپلې ښځې ته طلاق ورکړي تر څو د نومورې خور ته هم دهغه د خاوند له خوا طلاق ورکړل شي.

په داسي حال کې چې نه شي کېدای په دې کورنۍ کې ټول تاوتریخوالی د بدل د واده کولو سره تړلی وګڼو. خو دغه دود وضعیت یې نور هم پیچلی کړی دی او یا لږ تر لږه یې د داسې تاوتریخوالي لپاره بهانې چمتو کړې دي. د بصیر ورور اسماعیل چې د بدل د دود له لارې یې واده نه دی کړي د خپلې مېرمنې سره یې هم زور زیاتی کاوه. د بصیر مور هم د خپل ژوند په اوږدو کې ډیر کلونه د خپل مېړه د بد چلند ځورېدلې وه او داسې ښکاري چې په دې کورنۍ کې د ټولو واده شویو نارینه وو څخه یواځې بصیر دی چې په خپله ښځه د زور زیاتي اشتباه مني او د خپلو کړو وړو څخه پیښمانه دی .

## ۲ - موضوعي څېړنه: د ننګرهار ولایت کلیواله سیمه

ناز بی بی او توریپکۍ (۱۶ مه کورنۍ نخشه) چې نږدې ۳۵ کاله عمر لري.د نوې ځوانۍ په آخري دوران کې د بدل د دود له لارې واده شوې؛ د دوی خاوندان هم په یوه عمر دي. نازبی بی له خپل خاوند منان او دوو زامنو او درې لورګانو (ټول د ۱۱ کلونو څخه ښکته عمر لري) د خاوند له خور او مور سره ژوند کوي. توریپکۍ د خپل خاوند جلیل، دوو زامنو یو څلور کلن او بل دوه کلن ، د خاوند د کونډې خور جهان تاب ، د جهان تاب د دریو ځوانو زامنو، او د جلیل له مور سره ژوند کوي.

د جلیل او توریپکۍ کورنۍ بیوزله ده؛ جلیل ټکسي چلوي او د کرنۍ‌پر کمه ځمکه چې لري، کار کوي. جهان تاب په کور کې خیاطي کوي. داسې ښکاري چې د منان او نازبی بی د کورنۍ اقتصادي وضعیت نسبتاً ښه دی خو اوس هم د کورنۍ داړتیاوو د پوره کولو لپاره د ستونزو سره مخ دي. دوی ۳ جریبه ځمکه لري. او منان چې کله کار ومومي د ساده کار کونکې په توګه کار کوي د نازبی بی د خاوند خور د څه مودې راهیسې په یوه نادولتي سازمان کې په کار بوخته ده ، خو دا دنده پدې وروستیو کې پای ته رسېدلې ده. په کورنۍ کې ټول بالغ کسان نالوستې دي.

د بدل د واده وړاندیز لومړی د جلیل د کورنۍ له خوا شوی ؤ. د منان د کورنۍ یو شمېر غړې له دې کبله چې د منان د پلار لومړنی واده هم په بدل ؤ چې وروسته یې ستونزې راپیدا کړې، د دغه واده سره موافق نه وو. سره له دې د منان مور سیما ګل ځرګندوي چې اقتصادي اړتیاوې ددې لامل شوې چې دوی دغه وړاندیز ومني:

*کله چې ماله خپل خسر اولیوره څخه د موافقت غوښتنه وکړه دوی دواړو زما غوښتنه ومنله، که څه هم چې دوی د بدل له واده سره موافقت نه درلود، خو سره له دې هم پوهېدل چې زه پیسې نه لرم او له دې کبله اړه یم چې په بدل سره واده وکړم.*

د سیماګل په اند په واده کولو کې د بدل دود یو غیر اسلامي دود دی چې کېدای شي له ځان سره زیانونه ولري:

*دغه دود ښه دود نه دی، ملایان وایي دا دود ښه نه دی ما دا موضوع په راډیو کې له یوه مفتي څخه واوریده چې هغه هم ویل دا یو ناوړه کار دی. د لوڼو دواده کولو لپاره ښه لاره د پیسو په وړاندې د هغوي ورکول دي نه د نورو نجونو په بدل کې.*

اوس جلیل او د نازبی بی مور پښیمانه دي چې خپلو اولادونو ته یې په بدل سره ودونه کړي د نازبی بی مور داسې وایي:

*په حقیقت کې د بدل واده ښه نه دی، خو څه وکړو ؟ مونږ مجبوره یو. زه وایم چې کاشکي ما د بدل واده نه وای کړای ځکه چې واده د یوې ورځې لپاره نه دی بلکې د عمر خبره ده، او هېڅوک د دې واده سره خوښ نه دي.*

د توریپکۍ او ناز بی بی دواړو خاوندان له دوی سره تاوتریخوالی کوي او د تاوتریخوالي موضوع د ناز بی بی په اړه ډیره سخته ده. داسې څرګندېږي چې د ناز بی بی خاوند ډیرظالم دی خپل اولادونه ځوروي. د توریپکۍ اوناز بی بی او د دوی د خاوندانو کیسه د بصیر او پروین کیسي ته ورته ده چې دخپلې خور د غچ اخیستلو په موخه له خپلې میرمنې سره یې زور زیاتی کاوه. جهان تاب داسې څرګندونې کوي چې دوی توریپکۍ تر هغه وخته په بند کې ساتي چې ډاډ تر لاسه کړي چې د دوي خور کولای شي د دوی د کورنۍ د لیدو لپاره د پلار کورته راشي:

راپور (په افغانستان کې ننګونکي دودیز رواجونه او د بدلون لپاره د فضا موندل، کورنۍ اړیکې او تاوتریخوالی) په نامه د ډې جي اسمیت په موضوعي څېړنه کې په تفصیل سره تر بحث لاندې نیول شوېده.

موږ هېڅکله توريېکی نه پرېږدو د خپل پلار کورته ولاړه شي ځکه چې دا د بدل واده دی. که چېرې زما مور هغې ته اجازه هم ورکړي چې د پلار کورته ولاړه شي، زه او زما ورور يې نه پرېږدو ځکه که هغه پرېږدو چې د خپل پلار کور ته و لاړه شي، نور نو زما خور نه شي کولای دلته راشي. خو که چېرې موږ توريېکی ته د تللو اجازه ورنکړو د تور پېکی کورنی د يوي وېرې سره مخ کېږي ... دا پريکړه د نازبې بی د خاوند په کورنی پورې اړه لري، که هغوي نازبې بی ته د راتگ اجازه ورکړي مونږ به هم توريېکی ته د خپل پلار کورته د تللو اجازه ورکړو.

جهان تاب او د هغې ورور د ورته والي له تمو څخه د دواړو بدل شوو ښځو په برخه کې کار اخلي څو خپله خور وژغوري. جهان تاب د خپل ورور چلند د خپلې مېرمنې سره بنه گڼي او دا نه مني چې ورور يې د خپلې خور د غچ اخيستلو په موخه له خپلې مېرمنې سره زور زياتی کوي . په خپله جليل د خپلې مېرمنې سره د زور زياتي منلو ته لېواله دی او منان هم په همدې اندازه د خپلې مېرمنې سره زور زياتی مني. دغه دواړه سړي له خپلو ودونو څخه ناخوښه دي او داسي ښکاري چې دوی د هغو ستونزو په وړاندې چې د بدل د واده کولو له کبله منځ ته راغلي، د زغم لاره غوره کړېده :

*د بدل واده کول يوناوړه دود دی په حقيقت کې بدل په اسلام کې ناروا دی ... د بدل بدې پايلې دا دي کله چې زما او زما د ښځې په منځ کې کومه شخړه پيښه شي يا کله چې زه  هغه ووهم او د جليل، مور او خوينډي يې له دې موضوع خبر شي، هغوی همدغه کار زما له خور سره کوي. زه ولې خپله مېرمن ووهم؟ جليل هم زما خور وهي... د بدل له لارې واده کول د غچ اخيستو په مانادی ، نه د واده کولو.*

- منان

*زه د خپلې مېرمنې له لاسه ستړی شوی يم، نه پوهېږم چې دا دود چا رامنځ ته کړئ دی. د بدل دود ډير بد دی؛ دغه دود د وهلو ټکولو، شخړو، او نه درناوي په مانا دی. بدل د عمر تر پايه د جګړو په مانا دی. مرکله چې زه څه وايم يا خپله مېرمن د کوم دليل له کبله وهم ، که چېرې د هغې د پلار کورنی له دې خبرې خبر شي، هغوي هم زماخور وهي. او که هغوی زما خور زمونږ کورته له راتلو څخه منع کړي نو مونږ به هم ورته کار وکړو.*

جليل-

د منان مېرمن نازبې بی هم د خپل ژوند ستونزې د بدل واده سره تړلې ګڼي:

*زه د خپل خاوند د خور په بدل کې واده شوې يم. له همدې امله د زياتو ستونزو سره مخ يم ...ځرنګه چې زما واده په بدل سره شوی دی که چېرې په دغه معامله کښې بدل يو لوری نا آرامه وي نو په هغه بله ښځه هم فشار راوړل کېږي چې په هماغه ډول ستونزې وګالي. پوهېږم چې دا ډير ستونزمن دی خو څه وکړو؟*

د خپلو بدو تجربو پر بنسټ هم منان هم جليل او دهم نورې مېنډپاو پلرونه چې مرکې ورسره شوي، ژمنه کوي چې د خپلو اولادونه واده د بدل له لارې و نه کړي. که څه هم چې د ځينو بهرنيو لاملونو له کبله شايي دا پرېکړې بدلون و مومي. لکه مخکې چې وويل شول ، د منان پلار هم په لومړيو کې دا ډول مفکوره درلوده خو په پاي کې د خپلې مېرمنې له خوا د اقتصادي اړتياوو له کبله د بدل واده کولو ته قانع شو.

دويمه کيسه په داسې حال کې چې دا ځرګندوي چې د بدل ودونه کېدای شي د زور زياتي او ناوړه ګټې اخيستنې د کړی د رامنځته کېدو سريزه وي، په همدې حال کې دا ځرګندوي چې سره لدې چې د کورنی ټول غړي د دا ډول واده سره مخالف دي او هغه زيان اړوونکي او واده ته د هلکانو د اړ ايستلو يو نا اسلامي فشار ګڼي، خو دغه مفکوره چې د اقتصادي ستونزو سره يو ځای ده داسې حالت ته رسېږي چې دوی دا احساس کوي چې خپلو اولادونو ته دبدل د دود له لارې پرته د واده کولو بله لار نه لري .

## ۲,۷ د بدل د واده په وړاندې چال چلند او دليلونه:

د باميانو ولايت او د ننګرهار د کليوالي سيمې څخه پر دغو دوو موضوعي څېړنو برسېره، د دغه څېرنې څېړونکو د هغو کورنيو په منځ کې چې مرکې ورسره شوې دي هم د بدل د واده ډيرې بېلګې وموندې ، چې دا ډول ودونه هم د هغو ښځو په وړاندې چې د بدل له لارې واده شوې دي د تلپاتې تاوتريخوالي او ناوړه ګټې اخيستنې د کړی د جوړېدو لامل کېږي. په حقيقت کې دا يوه داسې موضوع ده چې بېلابېلو مرکه شويو ډلو پرې اعتراف وکړ. (۴ شمېرې چوکاټ ته پاملرنه وکړئ.)

پر يوه نجلی (ناوې) زور زياتی له دې کبله چې د هغې د خاوند خور ددې د پلار په کورنی کې د زور زياتي سره مخ ده، يو عادي کار شمېرل کېږي چې ځينې ښځې دا موضوع د ګواښ په توګه کاروي تر څو ځان له زور زياتي څخه وژغوري. د ننګرهار د کليوالي سيمې يوه ځوانه اوسېدونکې داسې وايي:

هغه وخت ما ډېر و ژړل ځکه ټول بدن مې درد کاوه. ما دخپل خاوند مور ته وويل :« آيا اوس خوشحاله شوې ؟ وګوره، ما وهي، زه هم له خپلې مور ته و وايم چې ستا لور ووهي ،ځکه چې ستا زوی پرته له کوم دليله يې زه ووهلم». د بدل په معامله کې د دواړه ښځو سره يو ډول چلند کېږي. يواځې د ښځې په اړه د زيان اړوونکې کړنې يا د طلاق په موضوع پاي ته نه رسېږي،داسې تمه شته چې که چېرې د يوې ښځې

**۴ چوکاټ : د بدل د واده په اړه نظریات**

زه لا تر اوسه خپلې مېرمنې سره ښې اړیکې نه لرم خلک وایي چې د بدل دود په کورنۍ کې ستونزې رامنځ ته کوي . په رښتیا هم چې بدل ښه څیز نه دی او دا دود په اسلام کې هم ناروا دی ---- زه هیله لرم چې پوره پیسې پیداکړم تر څو وکولای شم خپلو زامنو ته د بدل پرته واده وکړم.

ـ د ننګرهار د کلیوالي سیمې یو ځوان اوسېدونکی

زما مشرې خور په بدل سره واده نه دی کړی له همدې کبله یې په کور کې شخړه اوجګړه نه شته، بدل ناوړه دود دی . ما ډېر کسان لیدلي دي چې په بدل سره یې واده کړی نو کورنۍ کې یې هم شخړې او ستونزې شته اوپه پای کې سړیو خپلو ښځوته طلاق ورکړی دی.

ـ د بامیانو د ولایت د منځنې عمر لرونکی سړی

زه هیڅ کله خپلې لوڼې په بدل نه ورکوم هر وخت چې هغوی خپلې زده کړې پای ته ورسوي زه به هغوی واده کړم. بدل ښه شی نه دی. ما په ځینو هغو کورنیو کې چې نجونې یې په بدل ورکړي، لیدلي دي چې په پای کې ښځه او سړی یوبل پرېږدي.

ـ د هرات ولایت یوه سپین سرې اوسېدونکې

لپاره د هغه د مور د کورنۍ له خوا کومه ډالۍ یا جامې وا خیستل شي، باید په همدغه ډول ډالۍ یا جامې د هغې سره د بدل شوې لپاره هم واخیستل شي.د بدل شویو ښځو د ژوندانه ډېر اړخونه د ژوند تړپایه یو له بل سره تړلي پاتې کېږي.

خو ځینې داسې وایي چې هغه ښځې چې په بدل سره واده شوې دي، د چلند د انډولتیا تمه یې له منځه وړېده. د بامیانو په ولایت کې یوه ښځه پدې توانېدلې وه چې په بریالیتوب سره کله چې ورور یې خپلې ښځې یعنې د نوموړې د خاوند خور ته طلاق ورکړ د خپل له طلاق څخه یې مخنیوی کړی دی.

په دواړو موضوعي څېړنو کې چې په مخکېنۍ فرعي برخه کې پرې بحث وشو. د واده تر ټولو زیات خپور دود د وړونو لپاره د خویندو بدل دی. که څه هم چې د بدل ودونه کېدای شي د کورنۍ د بېلا بېلو غړو لپاره وشي. د بېلګې په توګه پلرونه خپلې لورګانې خپل ځانته د واده کولو لپاره په بدل ورکوي. د هرات ولایت د کلیوالي سیمې په یوه کورنۍ کې د یوه نسل په اوږدو کې زیات ودونه شوي وو. شازیه چې کابو ۴۵ کاله عمر لري او په کورنۍ کې تر ټولو مشره ده څرګنده کړه چې په هغه وخت کې چې ماشومه وه د خپل پلار لپاره بدل شوې وه، خو د څېړونکي بلې لپاره دا شونتیا نه وه چې ددغه کار د کولو لپاره د شازیې د پلار انګېزه او دلیل وڅېړي، ځکه د هغه پلار څه موده مخکې

مړ شوی وو، او شازیه هم په دې نه وه توانېدلې چې د پلار ددې کار د کولو په لامل ځان پوه کړي. دا په داسې حال کې چې د څېړل شویو کورنیو ترمنځ هم دغه شان بدل نه دی لیدل شوی. خو د بدل د ودونو دا ډول پېښې په بله ایزو خبرو اترو کې تر غور کېدې. له همدې کبله کارې ډېله قانع شوه چې دا ډول ودونه ډېر معمول نه دي. هغو کسانو چې پدې اړه یې د څېړنيزې ډلې سره خبرې کړې دي،د بدل دود یې یو نامناسب دود ګڼلی دی.

هغه پلار چې خپله لور د خپل ځان لپاره د واده کولو په موخه په بدل ورکوي، دغه کار کېدای شي چې د نجونو د وخت څخه مخکې واده کولو د دود کېدو لامل شي، په نورو بېلګو کې چې د څېړنې په ترڅ کې لاس ته راغلي، د بدل واده کېدای شي د نجونو او هلکانو په بیړه د واده سبب شي ، ځکه د بدل د دود له لارې په واده کولو کې د مور او پلار له نظره یوواده کېدونکی اولاد کېدای شي د واده کولو عمر ولري، خو بل یې ښایي د واده عمر ونه لري[۴۵]. په ځینو ځایونو کې پدې موضوع توافق کېږي چې کم عمره واده کېدونکی تر هغه صبر وکړي چې د واده مناسب عمر بشپړ کړي، مګر په ځینو ځایونو کې په کم عمره کس فشار راوړل کېږي ترڅو واده کولو ته غاړه کېږدي. که چېرې یوه نجلۍ د بدل په معامله کې واده او بله هغه یې پاتې شي، په دې صورت کې واده کېدونکې کورنۍ نجلۍ د هغه بلې یوې څخه له دې امله چې لور یې ورڅخه وړي او دوی ناوې نه راوړي، د پیسو غوښتنه کوي، دا پیسې به له ولور څخه کمې وي.

دغې څېړنې ثابته کړې چې له دې سره چې خلک د بدل د واده د ناوړو اغیزو په اړه پوهېږي خو بیا هم د واده دغه دود په افغانستان کې پراخ کارول کېږي. د فکر او عمل دغه تناقض کېدای شي د لاملونو د یو ځای کېدو څخه څرګند شي.

## د تاکنو نشتوالی

د کورنیو له نظره د ولور ورکړه یا د بدل واده د خپلو اولادونو لپاره د واده یوا ځینۍ لارې بولي. تر ټولو عام دلیل چې د بدل د واده کولو لپاره ویل کېږي، اقتصادي اړتیاوې دي. له دې سره سره چې دوی ددې څخه په را ولاړېدونکو ستونزو ښه خبر دي، بیا هم د خپلو اولادونو لپاره په بدل کولو سره د واده کولو پریکړه کوي.

باید یادونه وشي چې په کورنیو کې دولور د ورکړې د نه ورتیا احساس د ژوندانه په بنې اود دوی د ټولنیزو ډلو په منځ کې د ولور په غوښتلو پورې تړلی دی. یواځې بیوزله کورنۍ نه دي چې ددوی د اولادونو لپاره د واده کولو په خاطر د بدل له دود څخه کار اخلي. د بېلګې په توګه د بصیر او پروین کورنۍ چې په خپله سیمه کې د شتمنو کورنیو څخه

[۴۵] د دغه شان ترتیباتو له کبله د راپوته شوې جدي شخړې د تفصیلاتو د موندلو لپاره د جي دي اسمیت او اس منالان موضوعي څېړنه چې (( په ځایي ټولنو کې د شخړو حل لارې)) نوم لري، ولولی ( د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره).

ګټل کېږي هم له دې دود څخه يې ګټه اخيستې ده.

## پر اولادونو د واده لپاره فشار

لکه څنګه چې په ٦ مه برخه کې بحث وشو يو لړ بهرني لاملونه ښايي کورنۍ دې ته اړباسي چې خپلو اولادونو ته په داسې وخت کې چې ددوی د اولادونو د هيلو او غوښتنو سره سم نه وي واده وکړي.

## د زامنو واده ته لومړيتوب ورکول

په داسې حال کې چې مور او پلار له دې موضوع څخه په خبرتيا چې د بدل واده د دوی د لونو لپاره د ستونزو او کړاوونو لامل کېدای شي، بيا هم د زامنو ودونو ته ارزښت او لومړيتوب ورکول پر دغو ستونزو د سترګې پټولو لامل کېدای شي. سليمه د ننګرهار د ولايت ښاري اوسېدونکې ده، دا موضوع منې چې د ورور اړتياوې يې دهغې پر غوښتنو لوړې ګڼل شوې وې:

*مونږ بيوزله وو او زما پلار زما د ورور د واده لپاره پيسې نه درلودې، او لکه چې تاسو پوهيږی که يوه کورنی غواړي خپل زوی ته واده وکړي نو هغوی بايد پيسې ولري...... خو زما پلار بيوزله ؤ او زما ورور هم پيسې نه درلودې، خو زما پلار سره له دې چې پوهيده زه وړه يم زه يې ورته بدل کړم. خو څه وکړو؟ زه کومه مشره نه واده شوې خور نه لرم.*

د لونو د اړتياوو تر پېښو لاندې کولو له لارې د زامنو اړتياوو ته لومړيتوب ورکول د دې لامل کېږي چې کورنۍ خپلې لونې د هغه وخت څخه مخکې چې دوی د واده کولو لېوالتيا ولري، واده کړي. څکه ښايي چې د دوی مشر زوي پداسې عمر کې وي چې د واده کولو لپاره يې لېوالتيا زياته وي.

## ۳,۷ مهر يا ولور

*کله چې خلک لور وزيږوي ډير خواشيني وي، خو که زوی وزيږوي ډير خوشاله وي او د خوشحالۍ لپاره مجلسونه جوړوي. خو هغه وخت چې لونې واده کوي مور او پلار يې د خپلې لور د خسر له کورنۍ څخه پيسې اخلي او ډېر خوشحاله کيږي. د پيسو دا اخيستل په ځينو کورنيوکې د شخړو او جنجالونو د پيداکېدو لامل کيږي ... نو په دې وخت کې بيا د نجلۍ کورنۍ د غم او خپګان احساس کوي څکه د دوی لونې په بدو شرايطو کې ژوند کوي.*

- د ننګرهار د کليوالي سيمې يوه ځوانه اوسېدونکې

د بدل د واده لپاره د وګړو د تمايلاتو په اړه ځرګنده شوه چې په عمومي توګه خلک د ناوې د ولور د ورکولو له ناوړو اغيزو څخه خبر دي . ددې سره سره هم دغه يو خپور دود دی. د مهر ورکولو ناوړه پايلې چې د دغه څېړنې مرکه کېدونکو ورته اشاره کړې دا دي: ولور ښايي

پر کورنيو اغېزې وکړي او يا هغوی دې ته وهڅوي چې د اقتصادي اړتياوو د پوره کولو لپاره د خپلو لونو د واده کولو پرېکړې وکړي چې په دې حال کې ښايي د غه پريکړې د نجونو د ژوند د خرابوالي سبب شي؛ هغه اقتصادي ستونزې چې واده کېدونکې سړي او د هغه کورنۍ ته پيداکيږي؛ په پای کې د خاوند او د هغه د کورنۍ له خوا د نجلۍ سره زور زياتی د ولور د اخيستو له کبله کېږي.

د واده دواړه ډولونه بدل او ولور منل شوي دودونه دي او د زيات شمېر کسانو لخوا کارول کېږي، خو دا حال د ټولو د منلو وړ نه دي. د دبېلګې په توګه د ننګرهار د ولايت د کليوالي سيمې يوه ځوانه اوسېدونکې داسې ځرګندونې کوي:

*اسلام د ولور اخيستل حرام کړي دي، اسلام وايي هغه کسان چې ولور ورکوي دوزخ ته به ځي. همدارنګه خدای (ج) او پيغمبر صلي الله عليه وسلم دا کار بد بللی دی خو په خواشينی سره زموږ خلک دغې موضوع ته پاملرنه نه کوي دوی داسي فکر کوي چې دابنه کار دی، خو ډير کم شمير کسان هم شته چې ولور نه اخلي.*

دځينو کسانو لپاره هغه وخت د ولور اخيستل د منلو وړ وي چې پدې پيسو د خپلې لور لپاره د کور سامان واخلي. او بيا يې د خاوند کور ته له ځان سره يوسي څو د خپلې لورژونديه دې پيسو نور هم هوسا کړي :

*زما په باور د ناوې کورنۍ بايد کمې پيسې واخلي او په هغو پيسو د خپلې لور لپاره څه سامان واخلي. زه فکر کوم چې دا د حل ښه لاره ده له دې کبله لکه څرنګه چې تاسي پوهيږئ خلک د اقتصادي ستونزو سره مخ دي .*

- د ننګرهار د ښار يوه ځوانه اوسېدونکې

پدې څېړنه کې کمو کسانو دا څرګنده کړې چې هغوی د ولور پيسې د خپلو لونو لپاره مصرف کړې دي. د بېلګې په توګه د هرات ولايت د کليوالي سيمې يو د منځني عمر لرونکې سړي چې د کورنۍ اقتصادي وضعيت يې ښه دی ، دا کار کړی دی هغه څلور لونې لري چې له هغو څخه يوه يې واده کړې. ياد شوي کس څرګنده کړه چې په څه ډول يې د ولور پيسې د خپلې لور لپاره مصرف کړي دي:

*ما د خپل زوم نه (۱۶۰۰۰۰) افغانی واخيستې، خو دغه ټولې پيسې مې د خپلې لور لپاره مصرف کړې. پدې کلي کې دا دود دی هرکله چې لور واده کوي د ولور پيسې د هغې لپاره مصرفوي. پلار بايد د ژوند ټول وسايل لکه لوښي ، کاسه ، ديګ ، فرش ، جامې ، کمپلې او چاينکې د خپلې لور لپاره واخلي.*

ښايي په دې خبره کې يو څه زياتې شوې وي خو لږ ترلږه دا داسې څه دي چې دغه سړی يې مناسب او د منلو وړ ګڼي. د دغه سړي مېړمن د خپلې لور د واده کولو لپاره د زيات ولور د غوښتنو خبره کوي کله

چې له هغې څخه پوښتنه وشوه چې خاوند یې د کورنۍ ژوند څه رنګه چلوي، په ځواب کې یې وویل چې لا تر اوسه خپل ژوند د هغو پیسو له لارې مخته بیایي چې د لور په ولور کې یې اخیستي دي.

د کورنۍ د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د ولور د پیسو څخه ګټه اخیستنه د نورو کسانو له خوا هم ویل شوې ده. د بېلګې په توګه . بخت بی بی چې د هرات د ولایت په ښاري سیمه کې ژوند کوي او کورنۍ یې تل بېوزله ده ، د داسې سړي سره ژوند کوي چې پر ړوندوالي سر بېره نورې ناتوانۍ هم لري او کار نه شي کولای، د دغې سړي سره د ګډ ژوند په زیاتو کلونو کې بخت بی بی دې ته اړ شوې چې د خپلې کورنۍ د ساتلو لپاره د نورو خلکو په کورونو د کالیو مینځلواو ډوډۍ پخولو په شان کارونه وکړي، هغه وایي درې مشرې لوڼې یې د بدل له لارې واده کړې تر څو له دې لارې وکولای شي خپلو درېو مشرانو زامنو ته واده وکړي له هغه وروسته یې دوې لوڼې په ولور ورکړې چې د هغوی د ولور څخه یې (٥٠٠٠٠٠ څخه تر ٦٠٠٠٠٠ ) افغانیو پورې لاس ته راوړې دي چې د هغې په وینا د کورنۍ اړتیاوې له همدې پیسو څخه پوره کوي. پدې بېلګه کې ، په ولور د لوڼو د واده کولو پرېکړه د کورنۍ د پایښت لپاره د یوې ستراتیژۍ په ډول کارول کېږي.

ځینې نور کسان د کورنۍ څخه د بېوزلۍ د لیرې کولو لپاره د ولور پیسې اخلي. د بېلګې په توګه ، عزیزه (١٧ مه کورنۍ نخشه) د هرات ولایت د کلیوالو سیمو یوه ٢٣ کلنه اوسېدونکې کله چې کوچنۍ وه د یوه بلوخ سړي سره چې په ایران کې یې ژوند کاوه کوژده شوه، د عزیزې په وینا په هغه وخت کې چې دې واده وکړ خاوند یې ٦٠ کلن ؤ. عزیزه او خور یې وایي چې پلار مو په هغه وخت کې ډېر رنځور ؤ او د خپلې درملنې لپاره یې پیسې نه درلودې. بلوخ سړی شتمن ؤ اوکولای یې شول چې ډېر ولور ورکړي، له همدې کبله عزیزې له هغې سره واده وکړ چې له دې لارې د خپل پلار د درملنې لپاره پیسې پیداکړي. عزیزه او مور یې وایي چې د دوی کورنۍ د دې سړي په اړه یې کم مالومات درلودل او همدارنګه پدې هم نه پوهېدل چې بلوچستانې پنځه[46] ښځې لري. د کورنۍ لومړنۍ اندېښنه د ولور د ورکړې په اړه د سړي د ورتیاوې هکله وه، د عزیزې خاوند له هغې څخه ناوړه روحي اوجسمي ګټې واخیستې، د هغې بنې (د مېړه نورې ښځې) هم د ناوړه ګټې اخیستنې سره مخ وې. دعزیزې او د هغې د بنو (د مېړه نورو ښځو) اړیکې په ٨ برخه کې څېړل کېږي.

د ننګرهار له ښاري سیمې جمیلې هم ویلي چې د هغې ورور د دوی دوې خویندې نا پېژندل شویو کسانو ته ورکړې چې د هغوی د ولور

[46] دا یواځینۍ پېښه ده چې د څېړنې ډلې پیدا کړه چې یو سړی ترڅلورو زیاتې ښځې لري، دغه مسئله په افغانستان کې او هم د اسلامي نظره هم روا ندی. څرنګه چې خپله لدې سړي سره او د هغه له کورنۍ سره مرکه و نه شوه، د څلورو څخه د زیاتو ښځو د درلودلو په اړه د دغه سړي دلیل هم څرګند نشو.

**٥ چوکاټ**

له یوه څخه د زیاتو ودونو په هکله نظریات

له یوې څخه دزیاتو ښځودرلودل د خلکو په منځ کې د منلو وړ نه دي، خلک پوښتنه کوي ولې هغه سړی دوې ښځې لري؟ په دې ټولنه کې د یوې څخه د زیاتو ښځو لرل بد کار بلل کېږي.

هغه سړی چې دوې ښځې لري د هغه ژوند ښه نه وي، ځکه په کورنۍ کې یې تل شخړې رواني وي.

یو سړی په دې هیله چېډ کورنۍ وضعیت یې ښه شي دوهمه ښځه کور ته راولي، خو دوې ښځې لرل د کورنۍ ژوند نور هم خرابوي

کله چې یو سړی دوې ښځې ولري خلک دا کار بد بولي او پوښتنه کوي: سره له دې چې دا سړی یوه ښځه لري ولې دوهمه ښځه یې واده کړې؟

ـ د بامیانو د ولایت له کلیوالو سیمو څخه یوه پېغله.

ماد خپلو ښځو حقوق رعایتول، هر کله به چې ما د خپلې مشرې مېرمنې لپاره څه اخیستل هماغه شی به مې خپلې کشرې ښځې لپاره هم اخیستل.

ما په نوبت سره له هغوی سره لیدنه کتنه کوله. مابه تل هڅه کوله ترڅو هغوی خوشاله وساتم، خو زه دا فکر کوم چې ددوهمې ښځې درلودل ښه کار نه دی. او په اولادونو بده اغیزه شیندلای شي.

ـ د هرات له ولایت له کلیوالو سیمو څخه یو سپین ږیری سړی.

ددوه ښځو لرل په اولادونو بده اغیزه کوي، ځکه هغوی د خپلو میندو شخړې ویني او کله چې ماشومان له کور څخه بهر ځي نو د نورو ماشومانو سره په هماغه ډول شخړې کوي او کله چې دغه ماشومان لوی شي نو دا په ټولنه هم ناوړه اغیزې درلودلای شي.

ـ د ننګرهار له ولایت څخه د منځنۍ عمر لرونکې ښځه.

که چیرې یو سړی ددوهم ځل لپاره واده وکړي دا پر کورنۍ ناوړه اغیزه درلودلای شي، ځکه دا کار د ماشومانو تر مینځ ، ددومیرمنو تر مینځ او د هغوی او دمیړه تر مینځ شخړې رامینځ ته کوي. د بېلګې په توګه، که چیرې یومیړه له خپلې دوهمې ښځې سره خبرې وکړي زه باور لرم چې د هغه لومړنۍ ښځه به خواشینې شي او حسادت به کوي او یا دوی به د کو ر په کارونو سره شخړې وکړي.

ـ د ننګرهار د کلیوالو سیمو یوه ځوانه مېرمن

له لارې د دوی دورور د اعتیاد د درملني لپاره پیسې پیداکړي. د هرې کورنۍ کیسې او د دېله ایزو بحثونو په ترڅ کې د راغونډو شویو هراړخیز مالوماتو څخه څرګنده شوه، چې د ولور د پیسو لاس ته راوړل د نجونو ولور د کورنیو د پاینښت لپاره د یوې ستراتیژۍ په توګه ګڼل کېږي، په همدې ډول د ولور د پیسو زیاتوالی د هلکانو په کورنیو هم اغیزه کوي ډېرې ښځې لاس ته راغلې چې په کې کورنۍ دې ته اړې شوي چې خپلې هغه شتمنۍ چې د کورنۍ د اړتیاوو د پوره کولو لپاره ترې کار اخیستل کېده د خپل زوی یا ورور د واده لپاره خرڅ کړي.

زیات نارینه د ولور د پیسو د پوره کولو لپاره پاکستان او یا ایران ته ځي او ډېر کلونه هلته په کار بوخت وي (دغه عادات په ځانګړې توګه د هرات په ولایت کې دود لري) د ولور د پیسو د پوره کولو لپاره سړي د اوږدې مودې لپاره خپله کورنۍ پرېږدي چې د کورنۍ په جوړښت بدې اغېزې کوي. د ځینو مرکه کېدونکو په وینا د هغوی کورنۍ د ولور د پیسو د پوره کولو لپاره پور اخیستی دی[47] .

د ولور د پیسو ورکول په ځانګړې ډول هغه وخت چې ولور ډېر لوړ وي او یا دا چې د کوژدې په دوران کې د ولور پیسې زیاتې کړي، کېدای شي د هلک دکورنۍ چلند د ګډ ژوند له لومړیو ورځود نجلۍ په وړاندې ناوړه او له غوصې ډک شي. په دې بېلګه کې جمیله چې کابو ۳۷ کلنه ده د خپل کاکا د زوی سره یې واده کړی او له دې واده څخه د (۱٦) اولادونو خاونده شوې ده . یواځې (۷) اولادونو یې د ماشومتوب دوره تېره کړې او نور یې د ماشومتوب د دورې له تیرولو مخکې مړه شوي دي. خاوند یې معیوب او بېکاره دی؛ دوی دخپل ژوند د تېرولو لپاره په هغو پیسو چې د خاوند ورور یې ورکوي او په هغه پیسو چې په کور کې د ژوو د ساتلو او ځینې وخت د خیاطۍ د کولو څخه په لاس ورځي ، تکیه کوي. دوی د ننګرهار ولایت په کلیواله سیمه کې په ډېر زاړه او پخواني کور کې ژوند کوي. جمیله وایې خاوندیې رواني رنځور دی او زور زیاتې یې هغه وخت شدت و موند چې د ماین په چاودنه کې یې خپلې دواړې پښې له لاسه ورکړې. هغه همدارنګه څرګندوي چې خاوند یې وایي چې د هغې پر وړاندې زور زیاتی له دې کبله دی چې پلار یې زیات ولور اخیستی دی:

زما د خاوند د کورنۍ ټول غړي زماسره خپه وو. دوی ماته ویل "ستا پلار له مونږه ډېرې پیسې واخیستې، خو هغه پیسې د تا لپاره مصرف نه کړې"، خدایه شکر دی چې دوی زمونږ خپلوان دي، یوه ورځ مې خاوند ته وویل "زه تولو ورځ په کور کې یواځې یم که امکان ولري زما لپاره یو ټیپ واخلې؟" هغه ما ته وویل ، "پلار دې له مونږ څخه زیاتې پیسې اخیستي دي، له هغه وغواړه چې ټیپ در ته واخلي"، کله چې زه د پلار کور ته ولاړم او له هغه مې وغوښتل چې ما ته ټیپ واخلي، پلار مې راته ټیپ واخیست. کله چې بیرته د خاوند کور ته راغلم او ټیپ مې روښانه کړ خاوند مې ډېره ووهلم، معمولاً کله چې به یې زه وهلم ما ته به یې ویل"پلار دې ډېر ظالم دی، هغه ز موږ. ټولې پیسې راځینې واخیستې او له همدې کبله زه ډېر په غوسه یم"، کله کله خو غواړم چې خپل ځان و وژنم، خسر مې لا اوس هم ۲۰۰۰۰ افغانۍ د پلار پوره وړئ دی ...تیره اونۍ مې پلار وویل"زه ۲۰۰۰۰ افغانیو ته اړتیا لرم، آیا دغه پیسې ستا له خسر څخه واخلم؟" ما ورته وویل"نه، هیله کوم ، دا کار مه کوه، که ته داسې وکړې نو کله مې چې مېړه کورته راشي او له دې موضوع څخه خبر شي نو مابه و وهي. "

په خواشینۍ سره د تاوتریخوالي ډکې دغه شان تجربې د ولور د ورکړې سره تړاو لري او له هغه مهاله چې ښځه واده شي دغه تاوتریخوالی د هغې د ژوند په راتلونکو کلونو کې دوام لري، خو دا زور زیاتی د ژوند په لمړیو میاشتو کې زیات وي. پدې اړوند یوه افراطي بېلګه چې یوه کورنۍ یې د خپلې تازه ناوې سره د هغې د پلار لخوا د اخیستل شوې ولور له لیده چلند کوي، د بامیانو ولایت د یوه سپین ږیرې سړي له خوا د دېله ایز بحث په ترڅ کې څرګنده شوه:

*زه داسې کورنۍ پېژنم چې د خپلې لور لپاره یې ۶۰۰۰۰ افغانۍ ولګولې نو د خاوند کورنۍ به یې هغه ته د ۶۰۰۰۰ افغانیو میرمن ویل[48] .*

د ولور د پیسو ورکړه کورنیو ته دا احساس ورکوي چې ګواکې دوی د خپل زوی د ښځې مالکان دي او هر ډول حق پرې لري، لاندې وېناوې دغه موضوع روښانه کوي:

*دلور د خاوند کورنۍ دا فکر کوي څرنګه چې موږ پر خپلې نګور په واده کې ډېرې پیسې لګولې کوو نو پر هغې باندې ډېر حقونه هم لري، خو پلار په لور هېڅ حق هم نه لري.*

-د ننګرهار په ښاري سیمه کې یوه سپین سرې مېرمن

*د خاوند مور خپلې نګور ته وایي ((ما ته په ډېرو پیسو پېرودلې یې، او ددې کار لپاره مې ډېرې پیسې لګولې دي (ولی ناوخته راغلې؟))*

- د بامیانو د ښار د منځنۍ عمر لرونکې اوسېدونکې.

په داسې حال کې چې د ولور ناوړه اغیزې پېژندل شوې دي، بیا هم دغه دود په هیواد کې په پراخه کچه شتون لري . له همدې کبله دغه مهمه پوښتنه را پورته کیږي چې دغه دود ولی ادامه لري؟ یو دلیل دا

[47] د پور او اعتبار په اړه د زیاتو مالوماتو لپاره د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې راپورونه او همدارنګه د (( د پېسو موندل: د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د پولي اعتبار نارسمي لارې )) په نامه د اف- کلیجین او اي پین راپور ( کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸٦ کال) ولولی.

[48] د یادولو وړ ده چې دغه موضوع هغه څه دي چې د راپور په وخت کې په تېرو کلونو کې پېښ شوې وو.

هم کېدای شي چې سره له دې چې په پیسو واده کول د نویو واده شویو نجونو لپاره د ستونزو د لامل په توګه پېژندل کېږي. ددې په هکله چې څه به کېږي، د کورنیو په منځ کې ناهیلي او ویره شته دی.

په هر حال نوې واده شوې نجونې دستونزو سره مخ وي (دا یو طبیعي امردی) د ننګرهار د کلیوالي سیمو څخه یوه ځوانه ښځه دا موضوع داسې څرګندوي؛ مور او پلار یواځې اوسني حال ته ګوري او د خپلو پرېکړو د راتلونکو پایلوپه هکله فکر نه کوي.

په خواشینی سره باید ووایو چې مور او پلار د خپلو لونو راتلونکې ته پام نه کوي. دوې یواځې هغ ه حاضر حال ته ګوري او وایي هره لور د ژوند په پیل کې له ستونزو سره مخ کېږي چې د وخت په تېریدو سره بیا راضي کېږي. خو زه له دې دود سره په ټینګه مخالفه یم.

ددې بل دلیل ښایي دا وي چې په داسې حال کې چې دا د واده څخه وروسته د نګور په وړاندې د ناوړه چال چلند، او همدا راز د هلک د کورنۍ لپاره د اقتصادي درونډ پېټي د رامینځ ته کیدو د مرستندوی لامل په توګه پېژندل کیږي خوله دې سره سره دنجلی د کورنۍ لپاره د پام وړ اقتصادي ګټې لري. په پای کې د ولور د ورکړې په دوران کې یوه کورنۍ څه له لاسه ورکوي او بله کورنۍ تر ې ګټه پورته کوي.

د ټولنې له پراخې موافقې پرته د یوې کورنۍ لپاره به دا ستونزمنه وي چې ددې ناوړه دود په وړاندې مقابله وکړي او لا هم وکړای شي چې خپلو زامنو ته واده وکړي.

## ۴,۷ پایلې

## د بلې ګټورې حل لارې نشتوالی

دغه برخه د زوی د واده لپاره د لو لونو د بدل اود پیسو په بدل کې د لونو د بدل منفي پایلې څېړي.

ددې دود د منفي پایلو په هکله د څېړنې د پلې پوهه تر څېړنې لاندې سیمود ځایي ټولنو له غړو سره ددوی د مرکو او خبرو اترو څخه تر لاسه شوې او له دې کبله دا روښانه ده چې خلک ښځې او نارینه دواړه په دغو ټولنو کې ددې دول ودونو د تر سره کولو په ناوړه پایلو پوره خبر دي. په عین حال کې ، د ددې څېړنې ځواب ویونکو ډېرې کمې ګټه لرونکې نورې حل لارې یا داسې لارې چې امکان ولري د هغه په واسطه د ولور ورکړه او یا د لونو بدل له منځه ولاړشي، وړاندې کړې دي. دې ته ورته ولور د ځینو کورنیو لپاره د اقتصادي بقا د میکانیزم په توګه او د ولور لوړوالی د خپلو زامنو د ودونو د لګښتونو د پوره کولو یوه لاره ګڼل کېږي؛ همدارنګه د بدل د دود له لارې واده د ځینو هغه کورنیو لپاره چې نه شي کولای او یا نه غواړي د خپلو زامنو د واده په خاطر ولور ورکړي، د شته لږو انتخابونو له ډلې څخه د یوه انتخاب په توګه ګڼل کېږي. د سترو بدلونونو د رامینځ ته کولو لپاره له دغو ستونزو سره مقابله د کورنیو لپاره ډېر سخت کار دی. سر بېره پردې د ځایي ټولنو اقتصاد تر هغې کچې د ولور پر پیسو ولاړ دی چې دا کار د ولور د اخیستلو یا ددې دود له مینځه وړل نور هم ستونزمنوي.

دواده ددغه دود د ناوړه پایلو په هکله هغه پوهه چې د ځایي ټولنو غړو له خوا څرګنده شوه دوی ته به دا فرصت برابر کړي څو په آزاده توګه په دې هکله بحث وکړي او ددې ستونزې د له مینځه وړلو لپاره لاره ومومي.

## ۸ . څوګوني ودونه

*زه د د وهمي ښځې په درلودلو راضي نه وم، ځکه چې میرونه دوی ته یې حقونه نه ورکوي. خو کله چې یو نارینه اولاد نه لري نو کولای شي چې دوهمه ښځه ولري، غیر له هغې نه دا ښه کار نه دی چې ښځې په کور کې ټولې کړو. دوی به په کور کې شخړې وکړي، نو دا به ښه وي چې یواځې یو ښځه ولرو. پاک الله فرمایي په هغ صورت کې چې تاسو وکړای شی د خپلو ښځو تر مینځ مساوات وساتی نو کولای شی چې بل واده وکړئ؛ غیر له هغې ښه ده چې یوه ښځه ولرو. البته چې ددوی تر مینځ د مساوات ساتل ستونزمن کار دی نو په دې توګه اسلام هم د یوې ښځې درلودل غوره بولي.*

-د ننګرهار له ښاري سیمي څخه یوه ځوانه میرمن

> له کلتوري نورمونو څخه پیروي او د جنسیت یا د جندر تمه شوی چال چلند کولای شي هغه کورني جوړښت ته د ژوند لپاره د خلکو لاربسوونه وکړي چې وړاندې تر داخلیدو هغوی د هغې د ستونزو په هکله ښه پوهیږي.

له همدې پورتنۍ وینا څخه ځرګندیږي چې تر څیړنې لاندې ټولنې له نظره له یوې ښځې څخه د زیاتو ښځو درلودل د کورنیو اړیکو د مدیریت په لاره کې یوخورا ستونزمن کار بلل کیږي. دغه کار تل د ناوړه کورنیو اړیکو او تاوتریخوالي سره تړلی وي، لکه چې په پورتني بیان کې ورته اشاره وشوه دا یو غیر اسلامي دود دی په خاصه توګه که چیرې په هغه ډول چې اسلام یې سپارښتنه کړې ونه شي. په ۵ چوکاټ کې له خلکو څخه نقل شوي بیانونه د څوګونو ودونو په هکله لازیاتي بیلګي او معلومات وړاندې کوي. او ددې دود د نه منلو یو مهم دلیل هم په کورنیو کې د شخړو او ستونزو را مینځ ته کیدل دي. په زړه پورې خو دا ده چې ځینې ځواب ویونکو په دې هکله چې دلویانو تر مینځ شخړې په ماشومانو هم ناوړه اغیزې درلودلای شي څومره باخبره وو او په دې هکله یې پوره معلومات درلودل. دی ته په پام سره چې په یوه وخت کې له یوې څخه د زیاتو ښځو د درلودلو ناوړه پایلې په پراخه توګه تایید شوې دي، په دې برخه کې راغلي کیسې ځرګندوي چې ځینو ځواب ویونکو د اخلاقي اړخه ددې دود د نه منلو اظهار یې کړی لکه چې دغه د مینځنۍ عمر درلودونکې ښځه یې ځرګندوي چې یوه ځان سرې د نور د هڅونې سره سره یې دوهم واده رد کړ:

*زه به د خپل د یو خپلوان کیسه تاسي ته ووایم هغه ډیر ځوان او ښکلی سړی و، خو د هغه ښځه له هغه څخه مشره او ښایسته هم نه وه.... زمونږ ټولو خپلوانو هغه ته وویل : " ته ښایسته یې او ستا ښځه بدرنګه ده. ولې ته د یوې ځوانې او ښایسته نجلی سره واده نه کوې؟"*

خو هغه وویل،"زه به هیڅکله هم بل واده ونه کړم، ځکه کله چې ما زده کړه کوله او د خوړلو لپاره مې څه نه درلودل هغه له ماسره وه. اوس چې زه شتمن یم ، نو زه به هیڅکه هم بل واده ونه کړم- نه هیڅکله. " خو مونږ په دې پوهیږو چې ډیر لږ نارینه دي چې د خپلو ښځو د حقوقو پ ههکله نه پوهیږي.

دې ته ورته په هغه بیان کې چې د دې برخې په پیل کې راغلی د یوې ځوانې نجلی د پلار له خولې ځرګندوي چې ندهغه نارینه له خوا چې بله ښځه یې هم درلودله دهغه یوې لور ته د واده وړاندیز په وړاندې یې څه ډول مقابله وکړه :

*یوه ورځ زمونږ کورته یوه کورنۍ په مرکه راغلې وه. دوی وویل چې غواړي خپل زوی ته بیا واده وکړي. زما پلار تری نه وپوښتل،" ولي غواړئ چې خپل زوی ته بیا واده وکړئ؟" دوی وویل،"ځکه چې زمونږ نګور هوښیاره او روغه نه ده- هر وخت مریضه وي. " زما پلار هغوی ته وویل،" تاسو زمونږ له کور څخه همدا اوس ولاړ شی، هغه یوه ډاکټر ته بوځی".*

لکه ځرنګه چې څوګونو ودونو ته په ټولنه کې نارینه، ښځې ، ځوانان او سپین ږیري په بده سترګه ګوري، نو پدې برخه کې د څیړنې د ځواب ویونکو له خوا څلور مهم د لیلونه راوړل کیږي چې سړي ولې د دوهم ، دریم او څلورم ځل لپاره واده کوي:

- د سړي د اوسنی میرمنې اولاد نه کیږي او یا هم هغه زوی نه لري.
- کله چې د واده شوی یا کوژده شوی سړي د خپلوانو څخه یونارینه مړ شي، نو دغه شړی دهغه له کونډې سره هم واده وکړي.
- سړي او یا دهغه کورنۍ د لومړۍ ښځې سره ناخوښه وي (په ځانګړې توګه په هغه وخت کې چې سړي دا احساس وکړي چې لومړۍ واده په اجباري توګه شوئ دی).
- د لومړۍ کوژدې په وخت کې یې ستونزې پیدا شوي وي او د واده د تر سره کولو لپاره د پام وړ ځنډ را مینځ ته شوی وي نو دا کار سړي دې ته هڅوي چې دوهم واده وکړي که څه هم چې دبل چا سره یې کوژده هم شوې ده.

د دغې څیړنې مرکه کیدونکو هغه بیلګې نه دي په ګوته کړي چې په کې شتمني د یوه سړي د دویم واده لامل کیدای شي . بلکه د شتمنی مسئله د کمو مرکه کیدونکو ( نارینه وو او ښځو) له لورې د داسې موضوع په توګه بیان شوه چې ښایې سړي ته د خپلو ښځو سره د مساوي چلند د کولو وړتیا ورکړي او د نومړي مالي ځواک د ښځو په مینځ کې د شخړو او ناخوالو مخنیوئ کوي ځکه کیدای شي د هرې ښځې لپاره د او سیدلو جلا جلا ځایونه جوړ کړي خو ځینې کسانو دې موضوع ته اشاره کړې چې زیاتره شتمن د خپلو ښځو سره د مساویانه چلند ډاډ نه ورکوي او ډیره شتمني له یوه څخه د زیاتو ودونو د کولو یواځینۍ دلیل

نه شو بللای. یو شمېر کورنۍ کیسې راوړل شوې دي چې په هغو کې له یوه څخه د زیاتو ودونو د کولو لارې چارې څرګندیږي . پدې برخه کې کورنۍ اړیکې ، په ځانګړې توګه د نګور او خواښې ترمنځ اړیکې بیا نیږي،او هغه پایلې چې ددې برخې څخه لاسته راغلې دي، دادي: سره لدې چې په ډېرو ځایونو کې د مېرمنو تر منځ شخړې جنجالونه او سیالې شته ، په ځینو مواردو کې د نګور او خواښې تر منځ اړیکې کېدای شي د مرستې او ملاتړ مهمه سر چینه وي.

## ۱,۸ د څو ګونو ودونو دلیلونه – شنډوالی یا عقامت

د دغې څېړنې مرکه شوو کسانو له یوه څخه د زیاتو ودونو د موجه او غیر موجه دلایلو په اړه د خبرو اترو په ترڅ کې په دې متفق شول چې که د سړي اوسنۍ ښځه اولاد ونه زیږوي، یا یواځې زامن ونه زیږوي سړي کولای شي دوهم واده وکړي . (٦ چوکاټ ته پاملرنه وکړئ). ځینو مرکه کوونکو ویلي دي د زوی یا لور زیږېدل د الله (ج) کار دی نو له دې کبله دا مسله د منلو وړ نه ده چې که د یوې ښځې نارینه اولاد نه پیداکیږي نو خاوند یې بل واده وکړي، د دغه څېړنې مرکه شوي کسان په دې پوهېدل چې د شنډوالی ستونزه د سړیو له خوا هم رامنځته کېږي ، که څه هم چې سړي داکار په ډېره کمه کچه مني خو په دې اړه یو ګډ نظر نه لري. په دې هکله د بامیانو د ولایت یوه اوسېدونکې داسې وایي:

*سړي خپلې نیمګړتیاوې نه ویني او ټولې نیمګړتیاوې په خپلو ښځو وراچوي. په دې سیمه کې ځینې سړي شته چې شنډ یا عقیم دي مګر دوهم واده یې کړی دئ. اوس دغه سړي له دواړو ښځو هیڅ اولاد نه لري، له همدې کبله یې د دواړو واده شویو ښځو ژوند خراب کړی دی. خو دغه سړي هیڅکله ځان پړ نه ګڼي. زموږ ګاونډۍ دوې مېرمنې لري، له دواړو څخه هیڅ اولاد نه لري. هغه د خپلو دواړو ښځو ژوند یې خراب کړی دی.*

په دې اړه یوه ځانګړې بېلګه موندل شوې چې په هغه کې سړي د دویم واده د کولو څخه مخکې د خپل د عقامت یا شنډوالي په اړه څېړنې کړې دي. په لومړیو کې نه سړي اونه هم د هغه مېرمنې د دوهم واده د کولو لېوالتیا درلوده، خو په پای کې یې دا کار وکړ که څه هم چې د ده په اند دا کار خوشاله کوونکی نه ؤ خو د هغه په وینا د ښځې د نه زیږولو له کبله د دوهم ځل واده کولو موضوع نه مخنیوئ کېدونکې ده. د دغې څېړنې د هغه شمېر ځواب ویونکو له لورې چې پخپله د خپلو خاوندانو لومړنۍ مېرمنې وې، ډېرې داسې بېلګې وړاندې شوې دي چې څرګندوي دوی په خپلو خاوندانو د اولادونو د نه درلودو له کبله فشار راوړی چې دوهم واده وکړي. دغه څېړنه څرګندوي چې په څه ډول یوه ښځه د اولاد نه لرلو په وخت کې د خپل خاوند سره د دوهم واده په کولو کې مرسته کوي، همدارنګه دا څرګندوي چې په کور کې د اولاد لرلو ته اړتیا دومره جدي بلل کیږي چې لومړنۍ مېرمن دې ته چمتو ده ، خاوند یې د بلې ښځې سره واده وکړي تر څو له دې لارې د دوی په کور کې ماشومان پیداشي.

## موضوعي څېړنه : د کابل کلیواله سیمه

عارف ، ماه جانه او زرې جانه د خپلو دو پېغلو لونو سره د کابل ولایت په یوه کلیواله سیمه کې ژوند کوي. دوو مشرو لونو یې واده کړئ او په هماغه کلي کې ژوند کوي . (۱۸ مه کورنۍ نخشه ) عارف وایي زه څه دنده نه لرم ، خو کورنۍ اړتیاوې د هغې لړ کرنیزې ځمکې له حاصل څخه پوره کوم چې زه یې په واک کې لرم. دغه کورنۍ څو غواګانې لري چې له شیدو څخه یې مستې جوړوي او وروسته یې پلوري . عارف په ملي پوځ کې دنده درلوده او اوس هم له دولت څخه د تقاعد تنخواه اخلي هغه څه ناڅه ښوونځی لوستی او باسواده دی، د نوموړي دواړه ښځې نالوستې دي خو لونې یې ښوونځي ته ځي.

عارف او ماه جان (د عارف د ترور لور) نږدې ۳۵ کاله مخکې یو له بل سره واده کړئ دی چې په هغه وخت کې عارف (۲۰) کلن ؤ او ماه جانه د (۱۰) او (۱۵) کلونو په منځ کې یې عمر درلوده . د (٤) برخې بېلګو ته ورته ،د عارف کورنۍ د نوموړې واده له ماه جانې سره له دې امله وکړ چې په کورکې یې د کار لپاره مرستندویې ته اړتیا درلوده. دوی (۷) کاله یو له بل سره یو ځای ژوند وکړ خو هیڅ اولاد یې پیدانه شو او دا هغه وخت ؤ چې عارف پریکړه وکړه چې بل واده وکړي. عارف د دې په ځای چې د نه زیږوني ملامتیا د خپلې مېرمنې په غاړه واچوي ،لکه چې ده خپله څرګنده کړه د دویم ځل واده کولو څخه مخکې د ډاکترانو سره مشورې ته لاړ:

*ما ډېرکلونه اولاد نه درلود، وروسته ډاکتر ته لاړم او فکر مې کاوه که د نه زیږوني ستونزه په ما کې وي، باید دویم ځل واده ونه کړم. زه په څو ډاکترانو وګرځېدم او پایلو وښوده چې د نه زیږوني ستونزه زما د مېرمنې ده، نو له دې کبله ما دویم واده وکړ.*

د ماه جان ترور(د مور خور) د هغو کور ته راغله او د زرې جان په نامه خپله لور یې د عارف لپاره د دویمې مېرمنې په توګه وړاندیز کړه. عارف او ماه جانه پدې باور وو چې د ماه جان د ترور له لور سره د عارف واده د هغه د دوو مېرمنو په منځ کې د شخړو او جنجالونو د رامنځته کېدو لامل نه کېږي، له همدې کبله دوی دواړه په دې خوښ وو. خو زرې جانې نه غوښتل چې له داسې سړي سره واده وکړي چې بله ښځه ولري او دا خو یې هیڅ نه غوښتل چې د خپلې د تروړو له لور سره ګډ یو خاوند ولري:

*ما ډېر وژړل او څو ورځې مې ډوډۍ ونه خوړله خو چا زما خبرې ته غوږ نه ایښوده ... ما نه غوښتل چې د خپلې ترور د لور د خاوند سره واده وکړم او د هغې بن شم.*

**۷ چوکاټ : د خپلې کورنۍ د کونډو سره د واده کولو په اړه د سړیو نظریات**

که چېرې یو ورور مړ کېږي او ښځه یې کونډېږي، بل ورور یې که ښځه هم ولري دې ته اړ کېږي چې د ورور له کونډې سره واده وکړي ځکه زموږ په کلتور کې که چېرې د کورنۍ کوم سړی له دغه شان کونډې سره واده و نه کړي د خجالت خای به وي. یو پښتون دا اجازه نه ورکوي چې د ورور ښځه یې له بل چاسره واده وکړي .

- د ننګرهار د ښاري سیمې د منځني عمر لرونکی اوسېدونکی

په لومړیو کې مې نه غوښتل چې دوې ښځې ولرم. زما یو ورور چې زما سره یې ژوند کاوه مړ شو او ښځه یې پنځه کاله له ماسره همداسې کونډه پاتې شوه د خپلو خپلوانو څخه یې هیڅوک واده کولو ته رانه غلل، له همدې امله ما ورسره واده وکړ . زموږ لپاره ډېر لوی شرم دی چې یو پردی سړی راشي او د موږ د ورور له کونډې سره واده وکړي. او هغه کس به دغه شرم له ځانه سره ګور ته یوسي چې د ورور کونډه یې له یو بل سړي سره واده شي.

- د بامیانو له ښاري سیمې نه د منځني
عمر لرونکی اوسېدونکی

ما نه غوښتل چې بیا واده وکړم ... د یوې ښځې لپاره ډېره سخته ده چې د خاوند د ورور سره واده وکړي، په هغه وخت کې چې خاوند یې ژوندی وي د میره له ورورسره د خپل ورور په شان چلند کوي او هغه وخت چې خاوند یې مړ شي ښځه دې ته اړه کېږي چې له هغه چاسره واده وکړي چې د خپل ورور یې ګڼلو. خو ما د خپلو ماشومانو په خاطر مې له هغه سره واده وکړ. که ماله هغه سره واده نه وای کړی نو خواښې مې زما اولادونه یې له ماڅخه اخیستل او له کور څخه یې بهر ته غورځولم .

- د کابل د کلیوالي سیمې د منځني عمر لرونکي اوسېدونکي

ماه جان او عارف دواړو وویل چې ددوی واده کې تاوتریخوالی نه ؤ. د دوهم ځل واده څخه لږ ورسته عارف له خپلو دواړو مېرمنو سره تاوتریخوالی کاوه عارف له دې کبله ډېر په غوسه ؤ چې څرګنده شوه چې زړي جانه روغه نه ده ښایي په نري رنځ او محرقه دواړو اخته وي، عارف په ماه جان تور لګاوه چې له واده څخه وړاندې ی د خپلې د ترور د لور د ناروغیو په اړه یې هغه ته څه نه دي ویلي.

ماه جان او عارف دواړه له دې امله چې اولاد یې نه درلود، اړ وو چې عارف دویم واده وکړي ډېر پښیمانه وو. عارف وایي زما دواړه ودونه ډېر مایوس کوونکي وو ځکه په دواړو ودونو کې ما ته پوره واک نه ؤ راکړل شوی:

*زه له دواړو ودونو څخه خوښ نه یم دویم ځل واده مې یوه دوکه وه، دویمه مېرمن مې رنځور ده او لومړۍ مېرمن په زور راکړل شوې وه زما عمر ډېر کم ؤ او له دې کبله چې په کور کې مو څوک نه وو، پلار مې پرېکړه وکړه چې ما ته کوژده وکړي او ما هم ورسره ومنله ... زه واده کولو ته چمتو نه وم، خو اړ وم نو ځکه مې ومنله.*

د واده په دریو لومړیو کلونو کې زړي جانه امیدواره (حامله)نه شوه نو د عارف تاوتریخوالی د دواړو ښځو په وړاندې زیات شو، عارف ماه جان ددې موضوع له کبله پړه ګڼله چې زړي جان یې د ترور لور وه نو د هغې په واده کولو کې یې لویه ونډه درلوده:

*کله به چې زما خاوند له ډنډې څخه کور ته راتلو زما خونې ته به راتله مابه ورته ویل (( سلام ،څنګه یې؟)) ده به د ځواب راکولو په ځای په شا په سوک وهلم او ویل به یې: خوله دې پټه کړه، بې عقلې. ستا له لاسه زه اولاد نه لرم ، تا د خپلې ترور لور زما سره کوژده او واده کړه چې هغه هم د تا په شان ده له هغې څخه مې هم اولاد پیدا نشو)) . او په ژړا به یې پیل وکړ، کله به چې ما خپل خاوند د ژړا په حال کې لیده ډېره خواشینې کېدم.*

-ماه جان

ماه جان وایي کله به چې عارف د خلکو بېځایه خبرې واورېدې غوسه به یې نوره هم زیاته شوه.

کله چې به زه له کور څخه راوتلم، خلکو به زما د خاوند په اړه خبرې کولې او ویل به یې: (( تاسو د ده عمر وګورئ، سپین ږیرئ شوی دی او دوې مېرمنې هم لري خو اولاد نه لري ، زه فکر کوم چې عارف د اولاد د نه زیږولو ستونزه لري او د اولاد نه لرل د هغه نیمګړتیاده)) نو کله چې خاوند به مې کور ته راغئ زما په وهلو او ټکولو به یې پیل وکړ.

تر دریو کلونو وروسته د زړي جانې لور پیدا شوه او له هغې وروسته یې بله لور هم وزیږېدله او پدې سره په کور کې تاوتریخوالی کم شو په هماغه وخت کې چې کله د مجاهدینو او پخواني شوروي د ځواکونو تر منځ جګړې سختې شوې د هغوی کورنۍ د عارف د مېرمنې د پلار سره (چې اوس مړ شوی دی ) پاکستان ته ولاړل. عارف په افغانستان کې د روسانو په مقابل کې جهاد لپاره پاتې شو. ماه جان وایي وروسته له هغې یې بېرته غوسه لومړني حال ته راوګرځېده:

موږ پاکستان ته لاړو. وروسته له هغې زما بن د (۸) کلونو په اوږدو کې د اولاد څښتنه نه شوه او زموږ د ژوند حالت بېرته د ژوند لومړني حالت ته راوګرځید. زما مطلب دا دی چې خاوند مو پر موږ دواړو په

غوسه ۋ ځرنګه چي دریم اولاد یي نه درلود، له همدې امله یي موږ وهلو او ټکولو.

له افغانستان څخه د روسانو تر وتلو وروسته، د دوی کورنۍ بېرته افغانستان ته راستنه شوه، د زري جاني دوې نورې لونې هم پیدا شوې او د عارف غوسه کمه شوه. زري جانه وایي که څه هم چي خاوند یې لا اوس هم دواړو مېرمنو ته بد رد وایي، خو فزیکي تاوتریخوالی

**۶ چوکاټ: د شنډوالي له کبله بیا واده کول**

په دې حالت یعني هغه وخت چي لومړنۍ مېرمنه ماشوم نه لري بیا واده کول یو مجبوریت دی.

- د بامیان ولایت د ښاري سیمي یوه ځوانه اوسیدونکې

زما په آند که چیرې یو سړی اولاد ونه لري نو په دې حالت کې ښه به وي چي بیا واده وکړي، نو که چیرې سړی د بل واده لپاره موجه دلیل ونه لري نو دا ښه کار نه دی .

- د ننګرهار د کلیوالي سیمي یوه ځوانه اوسیدونکې

ځینې ښځې ماشوم نه شي پیدا کولای نو په دې حالت کې نارینه مجبوره وي چي د دوهم، دریم یا څلورم ځل لپاره واده وکړي. لکه چي مونږ تول پوهیږو، که چیرې اولاد ونه لري نو راتلونکې ژوند به دې ستونزمن شي..... لوني او زامن باید په زړښت کې خپلو پلرونو او میندو ته پاملرنه او د هغوی پالنه وکړي.

ورسره نه کوي.

ښکاره خبره ده چي ماه جان د زري جاني په پرتله په کورنۍ کې ښه مو قعیت لري. د څېړني دلي ته ځرګنده شوه چي ماه جان د زري جاني په پرتله چي تل بی نظمه وي، ښې جامې اغوندي.

ماه جان د کور د کارونو په اړه مهم رول درلود: دا د کورنۍ د شتو مسوولیت لري او کولای شي په آزاده توګه په ځایي تولنه کې تګ راتګ وکړي. نومورې د دې کار دلیل په اړه وایي چي د همدې کلي ده او هر څوک یې پیژني خو زري جانه له بل کلي را واده شوې ده.

د دغه دوؤ ښځو اړیکي او خپلوي د ترور د لورګانو په توګه ځرګنده ده او ماه جان د زري جان سره د کشرۍ خور په توګه چلند کوي نه د بنې ( د خاوند د بلي ښځې) په توګه . ماه جان زري جانې ته وایي چي له عارف سره ځرنګه چلند وکړي او لکه چي پدې بیلګه کې ځرګندېږي

ماه جان هڅه کوي زري جانه د عارف له تاوتریخوالي څخه وژغوري:

*یوه شپه مې بنې دسترخوان راوړ او په ډېره غوسه یې زما، او زما د خاوند او دهغه د تره د زوی چې زموږ کورته ډېر راتله، په مخ کې وغورځاوه، په هغه وخت کې مې خاوند ورته څه و نه ویل خو کله چې د کورنۍ غړي تول ویده شول، عارف پاڅېده او یو غټ لرګئ یې راواخیست زري جانه یې بلې کوټې ته بوتله او په وهلو او ټکولو یې پرې پیل وکړ او ورته ویل یې (( ته زما د تره د زوی په مخ کې دا کارونه کوې او حال داچې وروسته له څو کلونو امیدواره (حامله) کیږې هم نه؟ زه ستا له کبله د شرم سره مخ یم)). کله چې ما د زري جانې ژړا غږ واورېد هغې خونې ته ورغلم ډېره هڅه مې وکړه چې د خاوند د وهلو او ټکولو مخنیوی وکړم او ورته مې وویل (( بس دی او کنه نو زري جانه به مړه شي))! کله چې خاوند زه ولیدم زري جانه یې پرېښوده او پرما یې دسختو وهلو او ټکولو پیل وکړ او ما ته یې وویل ((ستا له لاسه زه داسې ښځه لرم)).*

-ماه جان

ماه جان په دې باور ده چي زري جانه د هغې کم ملاتړ کوي او دعارف د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره هیڅ هڅه نه کوي . هغه تر یوې اندازې زري جانه د زور زیاتي لامل بولي، ځکه د عارف زور زیاتی هغه وخت پیل شوی چي له زري جاني سره یې واده وکړ. خو په خواشینی سره چي د څېړني ډله نه ده توانېدلي له زري جاني سره په داسي وخت کي خبرې وکړي چي ماه جان نه وي، تر څو د هغې له خولې دا خبره په ا ثبات ورسیږي. دغه حقیقت چي د څېړني ډله نه ده توانېدلې چي د زري جاني سره مرکه وکړي ددې ځرګندوی دی چي ماه جان د زري جاني په پرتله لوړ موقف لري. د زري جان او ماه جان په منځ کي د دغه نا برابرۍ سره سره د دوی تر منځ کي کمه شخړه او جنجال شتون لري او عارف هم دا موضوع تصدیقوي چي دده د مېرمنو په منځ کي رابطه د بنو په شان نه ده:

*دوي د نورو بنو په شان نه دي. لکه ځرنګه چي پوهېږئ بنې یو د بل دښمنانې وي.*

پدې بیلګه کې ښایي له یوه څخه زیات ودونه د تاوتریخوالي د یوې بیلګې په توګه وګورو، دغه بیلګه د زري جاني په واده کولو پیل کیږي عارف، ماه جانه او زري جانه تول په دې خوښ نه ؤ چي عارف دغه واده وکړي، عارف او ماه جانه له دې امله چي هیڅ اولاد یې نه لرلو د عارف لپاره د دویمي ښځې د پیداکولو په اړه مجبوره وو. د زري جاني رول په کورنۍ کې یوازې د اولاد پیداکول دي او د عارف موخه له دویم ځل واده کولو څخه همداوه. کله چي زري جانه تر یوې مودې حامله نه شوه، عارف له دې حالت څخه نهیلئ شو چي په دواړو ښځو د زور زیاتي لامل و ګرځید. د زري جاني رول د دوو نورو لاڕو هم تایید کېدای شي: لومړی دا چي عارف مني چي هغه د زري جان په

پرتله له ماه جان سره زیاته مینه لري او دویم دا چې په کورنۍ کې اولادونه یواځې د عارف او زري جاني اولادونه نه بلل کېږي، بلکه ماه جان یې هم د مالکیت ا حساس کوي. په حقیقت کې ماه جان دغه اولادونه خپل اولادونه بولي او وایي چې له دغو اولادونو سره تر زري جان زیاته مینه لري .

## ۸,۲ د څو ودونو د کولو دلیلونه- د واده کولو له لارې د کونډې (( ساتنه))

د سرېو لپاره له یوه ښځه د زیاتو ودونو د کولو ډېر لوی دلیل د کورنۍ د هغو کونډو ساتل دي چې خاوند یې مړ شوی وي. په زیاتو دغه شان بېلګو کې ښځو خپل خاوندان په جګړو کې په نېغه یا نامستقیمه توګه له لاسه ورکړې دي. د کونډو شمېر د بامیانو په ولایت کې زیات ؤ . لکه څرنګه چې موضوعي څېړنه څرګندوي دا د اولاد د نه زیږونې دلیل ته ورته په کورنۍ کې د یوې کونډې سره واده هم د مخنیوي وړ نه دی. د (۷) چوکاټ ویناوې څرګندوي چې تر څېړنې لاندې څلورو ولایتونو کې د کورنۍ څخه بهر کس سره د یوې کونډې واده کول د شرم کار بلل کېږي، دوی ددې کار لپاره ډېرې کمې تاکنې لري، ځکه که چېرې د خپلې کورنۍ له کوم غړې سره واده ونه کړي ښایي د خپلو اولادونو د سرپرستۍ ځواک له لاسه ورکړي.

د خاوند د ورور سره د بی بی مهریې (چې کورني یې په (٤) برخه او ۱۱ مه کورنۍ نخشه کې در وپېژندل شوه)د واده موضوع څرګندوي، ځینې وختونه سړي بله لاره نه لري پرته له دې چې د خپل مړ ورور له ښځې سره واده وکړي، په هماغه ډول چې په (٥) برخه کې بیان شول څرګندوي چې دا ډول ودونه (اجباري ودونه) ښایي په کورنیو کې د تاوتریخوالي لامل شي، دغه برخه همدارنګه څرګندوي هغه چاپېریال چې په کې له یوه ښځه زیات ودونه شوي،کېدای شي نه یواځې د خاوند او مېرمنې بلکه د بنو ترمنځ هم په اړیکو بده اغېزه وکړي. هغه وخت چې بی بی مهریې د ریاض سره واده وکړ هېڅ یوه ښځه هم پدې خوښه نه وي چې د یوه څخه د زیات ودونو لرونکې سړي سره واده وکړي، د دي سره سره ټولو اړوندو کسانو دا احساس کاوه چې د غوره کولو بله لاره نشته. بی بی مهریې چې نږدې (۳٥) کاله عمر لري ، لومړی یې له جلیل سره په کم عمر کې واده وشو، یو کال وروسته یې یوه لور پیداشوه او له هغه (۳) کاله وروسته یې زوی پیداشو. وروسته جلیل چې په ملي پوځ کې یې دنده درلوده ووژل شو. بی بی مهریه وایي د جلیل سره په واده کولو ډېره خوشحاله وم وروسته له هغې چې خاوند یې ووژل شو بی بی مهریه درې کاله کونډه وه تر دې چې پلار یې په دې موضوع ټینګار کاوه چې د خاوند له ورونو څخه له یو کس سره واده وکړي. پرېکړه پر دې وشوه چې د خاوند ورور ریاض ورسره واده وکړي. ریاض دې واده ته لېواله نه ؤ. نوموړی پدې اړه داسې وایي:

*زه ډېر خپه وم، ځکه چې ما داسې فکر نه کولو چې زما وریندار هبه زما مېرمنه وي. له بلې خوا مونږ یوې کونډې ته نه شو ویلای چې له کوره ځه. او مونږ خپله کونډه نه پرېږدو چې له بل چاسره واده وکړي. زه د خپلو کلتوري دودونو له کبله اړ وم چې باید له هغې سره واده وکړم.*

د مهریې سره د ریاض واده له دې کبله هم له ناخوښۍ سره یوځای ؤ ځکه چې هغه مخکې د شریفې سره چې( د ترور یا کاکا/ماما) لور یې وه کوژده یې کړې وه او له هغې سره یې غوښتل چې واده وکړي. شریفه هم د دې خبرې په اورېدو چې د هغه راتلونکی خاوند به له دې څخه مخکې د بلې ښځې سره واده وکړي ډېره ورنځېده لکه چې هغه په خپله وایي:

*ما ډېر وژړل، حال مې ډېر خراب ؤ ځکه ما دا فکر نه کاوه چې ریاض به د خپل ورور له مېرمنې سره واده وکړي. په دغه ټول وخت کې ما پدې فکر کاوه" چې زما او زما د اولادونو راتلونکیبه څه ډول وي؟"، ځکه له بلې ښځې سره ژوند تېرول ډېر ستونزمن دي. باید ووایم چې یوه ښځه کولای شي خپل ټول شیان له بلې ښځې سره شریک کړي یا یې هغې ته ورکړي، خو خاوند له بلې ښځې سره نه شي شریکولای. ما د خپل ځان د وژلو په هکله مې فکر کاوه.*

د شریفې پلار او ورونه هم خفه وو او د دواړو کورنیو په منځ کې جنجالونه را پیدا شول. د شریفې کورنۍ غوښتل چې کوژده فسخه کړي خو شریفې د هغوي مخنیوئ وکړ او ورته ویې ویل:

ریاض زما لومړنی او وروستنی خاوند دی او زه یوه افغانه یم؛ ما ته شرم دی چې خپله کوژده فسخه کړم.

د بی بی مهریې له واده کولو وروسته د ډاکټر نجیب دولت ړنګ شو او کورنۍ یې د وضعې د خرابوالي له امله پاکستان ته ولاړه او تر ۱۳۸۲ کال پورې یې هلته ژوند وکړ. د مهریې له واده کولو څخه څلور کاله وروسته د ریاض او شریفې د واده کولو پرېکړه وشوه.

د شریفې او ریاض د واده ۱۱ کاله کېږي. ریاض د دواړو مېرمنو، ورونو او مور سره په یوه لوی کور کې په ګډه ژوند کوي. بی بی مهریه او د هغې اووه اولادونه چې له ریاض سره تر واده وروسته پیدا شوې دي او یوه لور یې چې د لومړني خاوند څخه یې پیدا شوې ده، ځانګړې خونه لري، ریاض او شریفه له خپلو پنځو اولادونو سره په بله خونه کې ژوند کوي .

د ریاض مور یو ورور او د ورور ښځه یې او همدارنګه د بی بی مهریې زوی چې د اول خاوند څخه یې پیدا شوی دی هم په همدې کور کې ژوند کوي خو د ژوند تیرولو لپاره ځانته ځای لري. په جلال اباد کې د ډېرو بیوزله کورنیو په شان دوی هم بیوزله دي. ریاض د شپې د ساتونکې په توګه کار کوي او د ورځې له پلوه که ورته کار پیداشي

د یوه روزمزده کارګر په توګه کار کوي. یو وړور یې په ملي پوځ کې کار کوي. د بی بی مهریې مشر زوی د خیاط د شاګرد په توګه په کار بوخت دی. بی بی مهریه د بړستنو د ګنډلو له لارې پیسې لاس ته راوړي.

ریاض ادعا کوي چې هڅه کوي دواړو ښځو ته په مساوی توګه پیسې ورکړي خو د ریاض ددغې ادعا سره سره مهریه وایي چې خاوند یې شریفه خپله ربښتیني مېرمن ګڼي او د اړتیا له امله یې له مهریې سره واده کړی دی. پداسې حال کې چې مهریه د ریاض سره خپل واده بیانوي د خپل اول خاوند عکس یې د خېرني ډلې ته ورښکاروي او وایي چې د خاوند له مړیني سره سم د هغې ستونزې پیل شوې، او دغه ستونزې به د مرګ تر وخته دوام ومومي. د شریفې او مهریې په منځ کې اړیکي ښې نه دي، که څه هم چې په یوه کورکې ژوند کوي، بیا هم یو له بل سره خبرې نه کوي او شریفه په دې باور ده چې مهریې د هغې لومړنی ماشوم زوی یې وژلی دی. او پدې ډول یې کیسه وکړه: یوه ورځ زه د لوښو د مینځلو لپاره تللې وم او زوی مې په خونه کې یواځې پرېښود کله چې خونې ته ولاړم ومې لیدل چې د هلک له خولې او غوږونو څخه وینې بهیږي د ماشوم کورنی هغه ډاکټر ته یوړ ډاکتر ورته وویل: کوم چا د هلک په ګیډه او غاړه فشار راوړی او وژلی یې دی. شریفه وایي مهریې زما دزوي وژل یې منلي دي او په دې کار پښیمانه هم نه ده او دا ادعا کوي چې دا کار یې له دې امله کړی چې شریفې له دې څخه مخکې زوی زیږولی دی، شریفه همدارنګه وایي چې له همدې امله ریاض له مهریې سره زوړ زیاتی کوي. نوموړې هغه کیسه بیانوي چې پکې د مهریې د وهلو ټکولو په اړه د هغې احساس څرګندېږي:

*یوه ورځ مې خاوند له مهریې سره په جګړه شو او ورته یې وویل (( ولې دې داکار وکړ؟ زوی مې ډیر کوچنی ؤ او تا هغه وواژه ښایي ته زما د ښځې سره دښمني ولرې، خو زما زوی تاته بده خبره هم نه وه کړې. هغه پر مهریې ډیر په غوسه ؤ او یو لوی لرګی یې راواخیست او په خونه کې یې پرې د وهلو پیل وکړ ، په لرګیو یې په پښو او شا ووهله چې وروسته یې مور د هغه مخه ونیوله. زه ډیر نرم زړه لرم کله چې مې خاوند د هغه په وهلو پیل وکړ زه په خپله خونه کې وم د ژړا او زاریو غږ مې یې اورید ډیره خپه شوم له همدې امله چې هغه یوه مور ده او په دې وخت کې یې اولادونو هم ژړا کوله، ما پرېکړه وکړه چې لاړه شم او مهریه ورڅخه خلاصه کړم خو د خاوند مور مې له ما څخه مخکې هلته ور رسېدلې وه او د هغه مخه یې نیولې وه.*

د محرمیت د ساتلو له کبله دخېرني ډله په دې ونه توانیدله چې دهغې کیسې په هکله چې شریفې دخپل د زوی د مړیني په اړه وکړه دکورنی د نورو غړو تایید تر لاسه کړي؛ په هر صورت ددوو ښځو تر مینځ سیالي او بخیلي خورا پیاوړې ده آن تر دې چې یوې د بلې ماشوم زوی وژلی او یا داچې دوهمه ښځه غواړي چې لومړنی د ماشوم د وژلو په تور تورنه کړي ؛ که څه هم چې ریاض دا یې څرګنده کړه چې که ښځې یې دده خبرې ونه مني او یا که هغوی هڅه وکړي چې ده ته و وایي چې څه باید وکړي نو هغوی وهي او ټکوي، خو د ښځو تر مینځ د ستونزو په اړه یې خبرې ونه کړې.

یوه خبره څرګنده ده چې نه ریاض، نه مهرې او نه شریفه له یوه څخه د زیاتو ښځو درلودونکي ژوندانه کې له ښکیلیدو څخه خوښ نه وو خو داسې احساسیده چې دا کار د خپرو کلتوري نورمونو تر فشار لاندې تر سره شوی دی. له پیله دوی ټول په دې پوهیدل چې د ریاض واده له مهرې سره به د یو ستونزمن کورني چاپیریال په رامینځ ته کولو کې مرسته وکړي. که څه هم چې ځینې وختونه شریفه د مهرې لپاره د زړه سوي احساس کوي خو برعکس د ماه جان او زري جان ، مهرې او شریفې مثالونه د یو بل لپاره دملاتړ سرچینه نه ده.

په نورو حالاتو کې نارینه د خپلو وریندارګانو سره له واده څخه د ریاض په پرتله خوشحاله وي؛ د بیلګې په توګه نوروز بای( دریمه کورنی نخشه) چې کورنی یې په څلورمه برخه کې معرفي شوې، له خپلې وریندارې مسعودې سره له واده نه له دې کبله خوشحاله ؤ چې د ماشومانو شمیر به په کورنی کې زیات شي ( لومړنی ښځې یې یواځې یو زوی زیږولی ؤ). مسعودې ویل چې له هغې سره یې واده وکړ چې له خپل پلار څخه ددې او د دې د ماشومانو میرات تر لاسه کړي. که څه هم چې مسعودې نه غوښتل له هغه سره واده وکړي، خو هغې له دې ویرې چې ماشومان به یې ددې د میره د کورنی سر پرستي له لاسه ورکړي دې کار ته مجبوره وه.

هغه کونډه چې د خاوند له وړور سره واده کوي او پدې ډول د یوه څخه زیاتو ښځو درلودونکي ژوند ته ورداخلیږي په کورنی کې په ډیره لږه کچه له هغه موقعیت څخه برخمنه کیږي چېله لومړي خاوند څخه له واده څخه یې تر لاسه کړی ؤ . په ډیره لږ شمیر پیښو کې دا هم ویل شوي چې د مړ شوي سړي د کورنی غړي خپله غوسه او د غم فشار په کونډه ور اچوي . په لاندې ویناوو کې دا موضوع څرګندیږي :

*زه خپله دوهمه ښځه نه وهم خو لومړۍ ښځه مې چې د وړور کونډه وه وهم . هغه وخت چې وړور مې مړ شو ما یې له ښځې سره واده وکړ. او کله مې چې وړور مړ شو زه ژوبل شوم او په مزار کې د طالبانو له لوري ونیول شوم . کله چې کورته راشم نو وړور مې را ته یادیږي نو هغه وهم.*

-د بامیانو په ښاري سیمه کې د منځني عمر لرونکی سړی.

زما نګورله هغه سره یې له دې کبله واده وکړ چې نه یې غوښتل چې خپل زوی د یوه یتیم په شان وروزي. ما خپل زوي ته وویل" پرېږده هر ځای ته چې غواړي ولاړه شي" خو هغې ومنله چې زما له بل زوی سره یواځې د خپل زوی په خاطر واده وکړي.... . زه چې هر وخت

هغه وینم نو هغه مړ شوی زوی مې را یادیږي او غم مې زیاتیږي او په هغه پسې خفه کیږم . خو زما نګور خپل زوی نه پریښوده .... هر وخت چې زه دغه ښځه وینم د خپل کشر زوي غم مې تازه کیږي.

ـ د بامیانو په ولایت کې سپین سري ښځه.

تولې کونډې ښځې د خپل خاوند له هغه ورور سره چې بله ښځه ولري واده نه کوي ، او نه هم تول سړي وروسته له هغې چې د ورور له ښځې سره واده وکړي له بلې ښځې سره واده کوي .سر بیره پر دې د پام وړ خو کم شمیر کونډې ښځې چې د ځیړنې په ترڅ کې ورسره مرکه شوې توانیدلي دي چې د خپل خاوند د کورنۍ د بل سړي سره له واده کولو څخه ځان وساتي . د بیلګې په توګه لطیفه چې د بامیانو د ولایت په یوه ښاري سیمه کې ژوندکوي ، وروسته له هغې چې دوهم ځل کونډه شوه او د ډیرې بیوزلۍ په حال کې چې ډیره ځوانه هم وه په دې وتوانیده چې د مور او پلار د کور تر څنګ ځانته کور جوړ کړي او د خپلو دریو او لادونو سره هلته ژوند وکړي ، په داسې حال کې چې د دې ښځې درې نور اولادونه په یوه نږدې یتیم خانه کې ژوند کوي[۴۹] .

## ۳,۸ د څو ښځو درلودلو دلیلونه – سړي د یوه بل ډول واده لپاره واده کوي

ډیر کم داسې بیلګې موندل شوې چې په هغه کې یو سړي یواځې په دې دلیل چې دغه سړي او یاد ده کورنۍ له لومړۍ ښځې څخه راضي نه وو، د دوهمې ښځې سره د واده کولو پریکړه کړې وه .اوله بیلګه یې د ننګرهار ولایت په کلیوالو سیمو کې ده . نعیم دوې ښځې لري او د پلار او اولادونو سره ژوند کوي (۱۲ مې کورنۍ نخشې ته پاملرنه وکړی)[۵۰] هغه وایي چې عایدات مې د کلي د نورو خلکو په نسبت په منځني ډول دي. هغه ۹ جریبه ځمکه لري او په ښوونځي کې د ښوونکي په توګه کار کوي. هغه یو ملا هم دی او د دویم واده کولو دلایل یې دا ډول بیان کړل:

*لومړی،هر کله چې به زما میرمن د پلار کورته ولاړه او هلته به څو شپې پاتې شوه، موږ به تول وږی تللو ځکه چې د خوړلو ډوډی مو په کورکې نه وه مور مې هم ډیره زړه وه چې مونږ ته پخلی وکړي. دوهم دا چې مور او ښځې مې په خپل منځ کې شخړه او جګړه کوله ،لومړی ښځې مې نه غوښتل زما له مور سره یو ځای ژوند وکړي له همدې امله مې مور راته وویل چې د دویمې ښځې سره واده وکړه ما هم ورسره موافقه وکړه.*

د نعیم د دوهم واده یو دلیل د کور د کورنۍ کارونو لپاره د بلې ښځې موندول وو، د ماه جان او عارف د بیلګې په خلاف ، نعیم د خپل دوهم واده په هکله یې له خپلې لومړۍ ښځې سره مشوره نه ده کړې. او لومړۍ ښځه یې په دې هکله هغه خت خبره شوه چې هغه دوهمه ښځه کورته راوړه . د مهري او ریاض په شان د نعیم د ښځو په منځ کې هم زیاتې شخړې او جنجالونه ؤ خو د دغه دوو ښځو په منځ کې ستونزې دومره زیاتې شوې چې نعیم په دې وروستیو کې مجبور شو د خپل حویلۍ په منځ کې دیوال جوړ کړي تر څوپه دې توګه هره ښځه ځانته کورنۍ ولري . نعیم وایي زه خپل وخت په مساوي ډول د دغو دوو کورنیو په منځ کې ویشم . په همدغه کورنۍ کې شفیق (د نعیم د ناسکه خور زوی) چې په ۵ برخه کې پیژندل شوی ، غواړي دوهم ځل واده وکړي خو د نوموړي دا واده له دې امله نه دي چې اوله ښځه یې خوښه نه ده ، بلکه غواړي یو عاشقانه واده ولري چې په دې واده کې نجلۍ یې ددې پر ځای چې مور او پلار یې ووته خوښه کړې ده په خپله خوښه کړې ده:

*اوس هغه خپلې مور ته وایي (" زه په یوه نجلۍ مین یم او غواړم له هغې سره واده وکړم .ما ته مو ولې هغه وخت واده کاوه چې زه ډیر کوچنی وم؟"*

دشفیق مور ددغه پریکړي سخته مخالفه ده .ځکه اول داچې دشفیق مور د هغه له لومړنۍ ښځې سره ډیره جوړه ده او نه غواړي چې هغې ته کومه ستونزه پیدا شي . او دوهم داچې د شفیق مور د ناسکه ورور نعیم هغه تولې ستونزې چې د دوو ښځو د درلودلو له کبله را مینځ ته شوې وې لیدلې دي.

د ځیړنې ډله د کابل ولایت په کلیوالو سیمو کې دې ته ورته بیلګې سره مخامخ شوه. فرزانه او لقمان په خپل منځ کې د تره زوی او لور دي ( کاکا) او په یوه کور کې لوی شوې دي او هغه وخت چې عمرونه یې ډېر کم وو، له یو بل سره واده شوې وو. (۱۹ مه کورنۍ نخشه وګورئ ) د فرزانې ناسکه مور چې اوس یې د خاوند مورده د لفرزانې خوابنې ده . لقمان او فرزانه دواړه څرګندوي چې ددوی واده یو اجباري واده و. دوی ۵ اولادونه لري چې د ٦ کلونو څخه نیولې تر ١٦ کلونو پورې عمرونه لري . د لقمان مور، د فرزانې او لقمان ناسکه ورونو او د ورنو دوو کونډو ښځو او د دوی له دریو اولادونو سره یو ځا ی ژوند کوي . کورنۍ یې بیوزله نه ده ، هغه د خپل ځان د اړتیاوو د پوره کولو لپاره په پوره اندازه کرنیزه ځمکه لري او د ځمکې یو څه برخه بزګرانو ته په اجاره ورکوي . او محصولات یې د کابل په بازار کې پلوري . لقمان همدارنګه یو موټر هم لري چې له کلي څخه د کابل ښار ته د خلکو د وړلو او راوړلو لپاره ترې ګټه اخلي . هغه تر ٦ تولګې پورې لوست کړی . او د هغه ورور اسدالله د لیسې دوره هم بشپړه کړې ده . د کور ښځې یې یوه هم ښوونځي ته نه ده تللې او د کورلوڼي یې یواځې هغه وخت چې کوچنۍ وي ښوونځي ته تلای شي .فرزانې د ځیړنې ډلې ته د هغه څه په اړه چې پلار یې غوښتل د خپل زوی سره یې کوژده

[۴۹] دغه بیلګې د سمیت په ځیړنیز راپور ((ننګونکې کیسې)) کې تر ځیړنې لاندې نیول کیږي

[۵۰] د یادولو وړ ده چې نعیم د اصلي کورنیو په منځ کې چې اړونده ځیړنې هلته شوې دي شامل نه ؤ له همدې امله د نوموړي له میرمنېسره مرکه نه ده شوې او د هغوی لیدلوري هم نه دي بیان شوي خو نوروښځو د دو له قوم څخه د نعیم د ورونو په اړه خبرې کولې

کړي داسي ووېل :

*ما نه غوښتل چي له لقمان سره واده وکړم، ځکه هغه زما د کاکا زوی ؤ او لدې سره سره له ماشومتوب راهیسې په یوه کور کي ژوند کړی ؤ. زه نه غوارم له هغه چاسره واده وکړم چي زما سره یو ځای لوی شوی وي.*

د فرزاني بل دلیل چي نه یي غوښتل له لقمان سره واده وکړي دا ؤ چي د لقمان مور د نوموړې ناسکه مور وه چي د لقمان سره په واده کولو یې خوابښی کیږي. دې ښځي په ماشومتوب کي یې له فرزاني سره ډیر بدل چلند کړی وو سلوک کاوه، او فرزاني دا هیله درلوده چي واده به هغې ته له دغو بدو کړو وړو څخه د تېښتي لاره برابره کړي . فرزانه وايي چي په څه ناوړه ډول یې واده شوی او خاوند یې له بلې ښځي څرنګه غوښتنه کړې وه:

*اړیکي مي له خاوند سره ښې نه دي. ځکه موږ یوه هم نه غوښتل چي یو له بله سره واده وکړو تر دې چي دوه کاله مخکې چي خاوند مي د ناروغی مخکي غوښتل چي دویم واده وکړي، خپله ورینداره یې دمرکي لپاره ولیږله ... خاوند مي چي کله کور ته راغی ما ورسره شخړه پیل کړه او ورڅخه مي وپوښتل چي ولي غواړي له دویمي ښځي سره واده وکړي؟ خاوند مي په ځواب کي ووېل: " زما واده زما په خوښه نه ؤ او بل دا چي زه ډیر له عمره کم وم او د خپل واده له مراسمو او ګډ ژوند څخه مي خوند وا نه خیست، د جګړو له امله زه ونه توانیدم چي د یوه ښه واده مراسم ولرم. له همدې امله زه غوارم چي ددوهم ځل لپاره واده وکړم او له دې شیانو څخه خوند واخلم."*

فرزانه وايي چي په څه ډول له خپل خاوند څخه غچ اخلي او هغه ته وايي چي ما هم د واده په اړه ورته دریځ درلود، ما ورته ووېل:

*" ما هم د تا په څېر مي له واده څخه خوند وانه خیست. زه د واده په لومړیو کي تکاوی ته ولاړم ۵۱ . ما هم د واده او کوژدې کوم محفل نه دی لیدلی او د کورنی له لوري مي هیڅ ډالی ونه لیده،اوس چي زه له دې شیانو شکایت نه کوم ته ولي غواړې دوهم ځل واده وکړې؟ "*

دا ډول بیلګي څرګندوي چي په څه ډول په ځینو حالاتو کي د اوسنی ښځي د میره او یا د هغه د کورنی نا رضایتي ددوهم واده لامل کیږي. په لومړی بیلګه کي نعیم او دده مور د هغو شخړو له کبله چي لومړنی ښځي یې له مور سره درلودل د نوموړي له لومړني واده څخه خوښ نه وو، او همدا راز هرکله به چي هغه د پلار کور ته تلله نو د کور د کارونو لپاره په کور کي به هیڅوک هم نه وو. دوې

نوري بیلګي لکه چي په ۵مه برخه کي وسپړل شول، په نیغه د زامنو د اجباري واده په بدو اغیزو پوري اړه لري په د غه دواړو بیلګو کي سړي دا احساس کوي چي ددوی د خوښي په خلاف مجبور شوي او واده یي کړی، او ددې وخت یي نه دی پیدا کړی چي د خپلي خوښي سره سم واده وکړي. له همدې امله هغوی دواړه غواړي دوهم ځل واده وکړي تر څو هغه له لاسه ورکړی فرصت تجربه کړي.

## ۴,۸ له یوه څخه د زیاتوښځو د درلودلو دلیلونه- په لومړي واده کي د ځنډ پیښېدل

که څه هم چي د لومړي واده ځنډېدل له یوه څخه د زیاتو ودونو د کولو دوډیز دلیل نه دی خو سره له دې هم د بحث او خبرو اترو وړ دی، ځکه دغه ځیرنه څرګندوي چي هغه کسان سره له دې چي پوهیږي چي ښایي دغه ډول کورنی جوړښت به هغوی ته ستونزې زیږونکی وي خو دا څرګندوي چي څه ډول له کلتوري نورمونو او د جنسیت له تمه شوي چال چلند څخه د پیروی په اړه دمکلفیت احساس کوي.

عبدالصبور ( ۱٤مه کورنی نخشه) چي په پنځمه برخه کي وپیژندل شو، له خپلي سپین سرې مور،دوو ښځو چي رحیمه او صبرینه نومیږي او اوه لوڼي او څلورو زامنو سره د ننګرهار په ولایت کي اوسي او د شوروي دولت سره د مجاهدینو د جهاد پرمهال د دوو ټپونو له امله معیوب شوی وو او کورنی یې هم بیوزله وه . هغه کورچي دوی په کي اوسي یواځي دوي کوټي لري او له دوو ښځو څخه هره یوه د خپل اولادو سره په یوه کوټه کي ژوند کوي. هغه مهال چي عبدالصبور کوچنی ؤ پلار یي دویم واده وکړ. او نوموړی یي دمور، ورونو او خویندو سره پریښود، تر څو خپل ژوند په خپله په مخ یوسي. عبدالصبور او وروڼه یي په داسي حال کي چي کوچني وو د کار د موندلو لپاره له کوره ووتل. خو له دې سره سره دوی وکولای شول ښوونځي ته ولاړ شي او لوست وکړي . عبدالصبور خپلي ټولي ستونزې چي نوموړی ورسره مخ دی د خپل پلار له دوهم واده سره اړوند بولي. نوموړی چي له دې برخلیک سره مخ شو ډیر ناهیلی دی او داسي وايي:

*نه شم کولای هغه شرایط چي زموږ په کورنی کي شتون درلود له یاده وباسم.ما سوګند کړی ؤ چي هېڅکله به دویم واده نه کوم ځکه ما په خپل کورکي ټولي شخړې لیدلي وې او پوهېدم چي د ددو ښځو درلودل څومره ناوړه کار دی، خو په خواشینی سره چي زه خپله هم له دې ستونزې سره مخ شوم. ما نه غوښتل چي دوې ښځي ولرم ، زما لپاره ډیره سخته ده چي د دوی لپاره خواړه برابر کړم. لکه څنګه چي پوهیږئ چي زه ډیر بیوزله او معیوب یم.*

صبرینه د عبدالصبور دویمه ښځه د هغه د ماما لور ده، هغه مهال چي دواړه ډیر کوچني وو پریکړه شوې وه چي صبرینه د عبدالصبور سره په داسي ډول واده وکړي چي د عبدالصبور خور د صبریني د ورور سره واده وکړي. د عبدالصبور د خور واده ډیر په بیړه و شو،

[51] فرزانه او لقمان له دې امله چي د بمباریو او حملو څخه و ژغورل شي د خپل واده په شپه په تکاوی کي پټ شوه ددغي حملو په پای کي د لقمان خور ووژل شوه

خو په دې دليل چې صبرينه او عبداصبور ډېر کوچني وو، ددوی واده له ځنډ سره مخ شوهغه مهال چې د واده کولو عمر ته ورسيدل د مجاهدينو جګړې پيل شوې اود صبريني کورنۍ پاکستان ته کډه شوه. پلار يې په عبدالصبور له دې کبله چې په پوليسو کې يې دنده لرله په ده يې د کفر تور ولګاوه او ويې ويل چې هغه کمونيست دی له همدې امله د عبدالصبور د مور له خوا د يو په بل پسې غوښتنو سره سره د صبريني کورنۍ د ١٤ کلونو په موده کې اجازه ورنکړه چې ددوی واده وشي. عبدالصبور نه غوښتل چې د بل چا سره واده وکړي تر هغه چې د نوموړې د مور خور هغه ته وړانديز وکړ چې خپله لور رحيمه د عبدالصبور د خور په بدل کې خپل زوی ته واده کړي

د عبدالصبور کورنۍ ددغه وړانديز سره موافقه وکړه او په دې ډول رحيمه د عبدالصبور ښځه شوه. په همدې مهال صبريني د بل چا سره د واده کولو ډېره کوله ځکه هغې د عبدالصبور سره کوژده کړې وه، کله چې روسانو په افغانستان کې ماته وخوړه د صبريني کورنۍ بيرته افغانستان ته راغله او په دې وخت کې د صبريني پلار پريکړه وکړه چې د عبدالصبور سره دخپل دلور واده وکړي . په دې مهال عبدالصبور د صبريني سره په واده کولو خوښ نه ؤ ځکه نوموړې بله ښځه درلوده، خو د صبريني د ورونو او کورنۍ له لورې په عبدالصبور ډير فشار راوړل شو تر څو د صبريني سره واده وکړي. د عبدالصبور لومړۍ ښځه رحيمه هم له دې کبله ډيره اندېښمنه وه. خو نوموړې دا احساس کاوه چې ددې موضوع د حل لپاره پرته له منلو بله لاره نشته. عبدالصبور د ا حالت داسي بيانوي:

*رحيمې هيڅ هم نه ويل خو په حقيقت کې ډيره خپه وه. ما هغې ته وويل چې اړ يم له صبريني سره واده وکړم او له هغې وروسته يې راته وويل چې له صبريني سره واده وکړه.*

عبدالصبور او د هغه مېرمنې ١٦ کاله کېږي چې يو له بل سره يو ځای ژوند کوي، او د کورنۍ ټول غړي وايي چې عبدالصبور له خپلو ښځو سره يو ډول سلوک کوي خو سره له دې هم د نوموړې په کور کې زيات جنجالونه وو. دغه شخړې يواځې هغه شخړې نه وې چې د بنو په منځ کې وي.بلکه د عبدالصبور له تاوتريخوالي ډک چلند له خپلو دواړو ميرمنو سره يا هغه وخت چې دغه دواړه ښځې د خپلو اولادونو سره بدچلند کوي هم د دغه کورنۍ تر مينځ په جنجالونو کې شامليږي[٥٢] صبرينه او رحيمه دواړه له دې چې له يوه سړي سره يې واده کړی ډيرې خواشيني دي چې دغه خواشيني د هغوی له هغو هيلو څخه جوتيږي چې د خپلو لونو د واده په هکله يې لري:

*ما د خپل خداي سره ژمنه کړې که زما د ژوند په بيه هم تماميږي زه به هېڅکله خپله لور د بنې په توګه واده نه کړم زه پوهېږم چې ببوزلي هم د خداي له لورې ده، زه په ډيره ډاډمنه توګه خپله لور*

*د يوه ببوزله سړي سره کوژده کوم چې بله ښځه ونه لري ،که چېرې داسې وشي چې د داسې سړي سره يې کوژده کړم چې بله ښځه ولري نو زه دا ښه بولم مخکې له واده کولو خپله لور ووژنم.*

-رحيمه

*که يوڅوک يوه ښځه ولري دا ښه دی. او که يو سړی دوه ښځې ولري نو د ډېرو کسانو ژوند خرابيږي..... کله چې ما له خپل خاوند سره واده وکړ، نو ريمې ډير ژړل، لکه چې ما ژړلي وو..... زه غواړم خپله لور يوه مجرد سړي ته واده کړم؛ هغه بايد بله ښځه ونه لري.*

-صبرينه

ټول هغه کسان چې په دغه واده کې ښکيل وو نه يې غوښتل چې پداسې واده کې ښکيل وي خو په دې شرايطو کې د داخليدو لپاره يې د مجبوريت احساس کاوه. صبريني دا احساس درلود چې مجبوره ده له هغه سړي سره واده وکړي چې کوژده يې ورسره کړې ده که څه هم چې خاوند يې بل واده کړی دی. عبدالصبور هم هغه وخت چې سپين ږيرې او د صبريني ورونه د هغه د قناعت ورکولو لپاره راغلل ونشوکړای چې خپله هغه ښځه چې اول ځل يې ورسره کوژده کړېقبوله نه کړي رحيمې هم د مخالفت توان نه درلود او دايې ومنله چې خاوند يې له صبريني سره هم واده وکړي او صبور هم له دې کاره پرته يې بله لاره نه درلوده .

## ٥,٨ د ښو تر منځ اړيکې

د يوې ښځې څخه د زياتو ښځو سره د واده کولو ډيره بده پايله چې مرکه کونکو ورته اشاره کړې او په همدې حال کې د دغه دود د نه منلو ډير دوديز دليل هم پيژندل شوی دی د دوو هغو ښځو په منځ کې شخړې او جنجالونه وي چې يو خاوند ولري د څيرنې په اوږدو کې لاس ته راغلو بيلګو کې د دغو بيلګو په شمول چې وړاندې يې يادونه وشوه ښکاره شخړې سيالي او بد چلند د بنو په منځ کې ليدل شوی دی د دغه موضوع سره سره نورې بيلګې لکه د ماه جانې او زرې جانې په شان لاس ته راغلې چې دواړه که څه هم چې يو خاوند لري خو له دې سره هم يو د بل ملاتړ کوي د وخت په تيريدلو نورو ښځو هم داسې لارې پيداکړې چې د هغو په مرسته وکولای شي د ژوندانه په چارو کې يو د بل ملاتړ وکړي . دغه وضعيت په هغه وخت کې چې دوی د عمر په منځ کې د پام وړ توپير وي بدلون مومي . ګل جانه ، دولت بی بی او مرغلره چې هره يوه يې په ترتيب سره د حاجې اوله ، دوهمه او دريمه ښځه ده چې هره يوه يې په ترتيب سره ٦٠ کلنه ، ٤٨ کلنه او ٤٠ کلنه ده حاجي خرم په دې دليل چې د ګل جانې زوی نه پيداکيدو د دوهمې ښځې سره يې واده وکړ د دولت بی بی هم اولاد نه پيداکيده نو له دې کبله يې له مرغلرې سره يې واده وکړ چې د دغه واده په پايله کې يې ځلور زامن او ځلور لونې پيداشوې په همدې حال کې د دغو بنو په منځ

[٥٢] د اولادونو په وړاندې د عبدالصبور تاوتريخوالی او بدني تنبيه په اسميت، مينه؛ وبره او روزنه کې په تفصيل سره څېړل شوی دی.

کې ځینې ستونزې شته دي ، خو د دوی د خپلې وینا په بنسټ دوی یو په بل څه کار نه لري چې دا کار تر یوه حده کیدای شي د دوی د عمر په منځ کې تفاوت ته منسوب شي ګل جانه په کورنۍ کې د مشرې ښځې په توګه رول لوبوي . او په جلا ډول ژوند کوي او د خپل خاوند سره جنسي اړیکې نه لري . دولت بی بی په داسې حال کې چې اولاد یې نه درلود او د مرغلرې په راتلو په کور کې له ځینو ستونزو سره مخ شوې ده اوس د مرغلرې له اولادونو سره ډیره خوشحاله او په تربیه او ساتنه کې یې له هغې سره مرسته کوي خپلې کورنۍ اړتیاوې له یوه لوی دوکان، کرنیزه ځمکه ، او څاروبو څخه پوره کوي او دا فرصت یې برابر کړی چې هره یوه ښځه په کور کې جلا کوټې ولري چې دا کار تول د دوی تر مینځ د همکارۍ لپاره یو اغیزمن لامل بلل کیدای شي. ګل جانه دا واضح کوي چې په څه ډول شرایط برابر شوي چې په کور کې شخړې کمې شي:

*هغه دوې شپې له ما سره او دوې شپې له دولت بی بی سره تیروي خو کله یې چې له مرغلرې سره واده وکړ ما خپل حق چې دوې شپې ؤ، مرغلرې ته ورکړ تر څو پدې ترتیب مرغلره حامله شي، د مرغلرې سره په واده کولو په لومړیوکې مونږ یو څه ستونزې پیداکړې. خو اوس موږ یو له بل سره ښې اړیکې لرو ..... په ځانګړې توګه هر یو اوس زوړ شوی ... هغه وخت چې له مرغلرې سره یې واده وکړ دولت بی بی په کور کې په شخړو جوړولو پیل وکړ. د بېلګې په توګه هغې ویل زه له مرغلرې مشره یم ولې حاجي صاحب هغې ته پیسې ورکوي ، او ولې مرغلره د مشرانو په توګه ز موږ احترام نه کوي.*

د ماه جانې په شان چې زرې جانه د دوی د خاوند له تاوتریخوالي څخه ډک چلند نه ژغورې .د یوه بلوچ سره (چې خلک هغو ته د بلوچ غږ کوي) د مېرمنې په توګه د عزیزې واده د بنو یوه بله بېلګه ده چې یو د بل ملاتړ او د خاوند د بد چلند څخه یو بل ژغوري (۱۷ مې کورنی نخشه) د عزیزې د واده موضوع په اوومه برخه کې د پیغلې ښځې په عنوان چې د ولور لپاره واده ته اړ شوې وه ، وپیژندل شوه . بلوچ په ځانګړې ډول یو دسیسه جوړونکی انسان ؤ چې هڅه یې کوله د خپلو ښځو په منځ کې شخړه رامنځ ته کړي . او همدارنګه له هغوی سره یې د تاوتریخوالي ډک چلند کاوه یو ه ورځ بلوچ خپلې ښځې د چلم په څکولو ولیدې او د دې کار په جزا کې یې دوی مجبوره کړې چې د یوه ساعت لپاره پر یوه پښه ودریږي . کله چې عزیزې خپله پښه په ځمکه کېښوده بلوچ په څیره ووهله او د عزیزې طرف ته یې چاقو ورواچاوه او څو ځله یې په کمر بند ووهله . خو په کور کې د دې ناهیلي کوونکي حالت او د بلوخ د هڅو سره سره چې غوښتل یې د خپلو ښځو په منځ کې دښمني را پیداکړي ، عزیزه وایي چې د بلوخ نورو ښځو (د لومړي ښځې په استثنا) تل هڅه کوله تر څو له هغې مرسته او ملاتړ وکړي . عزیزه په ځانګړې توګه له خپلې یوې بنې سره ښې اړیکې لري دغه ښځه له عزیزې سره مرسته کوي چې د اولاد د زیږونې څخه د مخنیوي مرکز ته ځان ورسوي او تل یې داهڅه کوله چې بلوخ له دې موضوع څخه خبر نه شي ، عزیزه دا موضوع داسې څرګندوي:

بن مې په دې پوهیدله چې زه څه کوم زما موخه د اولاد د زیږونې مخنیوی ؤ هغې پخپله هم دا کار کاوه . هغې هم نه غوښتل چې له دې خاوند څخه اولاد ولري . هغه ډیره هوښیاره وه او زما سره یې مرسته کوله چې د اولاد د زیږونې مخنیوی وکړم. موږ دواړو دوا استعمالوله. هغه باسواده وه او په ډیره ځوانۍ کې یې کورنۍ زمایه شان په زور سره واده کړې وه. زموږ خاوند موږ ډاکټر ته بوتلو هغه وخت چې نوموړې د ډاکټر له خونې ووت ما ډاکټر ته وویل((هیله کوم، د خدای په خاطر هغه ته څه ونه وایې، موږ له هغه څخه خوښې نه یو او نه غواړو چې له هغې څخه اولاد ولرو ، ډاکټر وویل زه له تاسې سره مرسته کوم، هرکله چې مو خاوند بیرته خونې ته راغی ډاکټر ورته وویل د تا یوه ښځه ډیره ځوانه ده او له همدې کبله نشي کولای اولاد وزیږوي ، او د تا بله ښځه هم اولاد زیږونکې نه ده او په هیڅ ډول نه شي کیدای هغه حامله شي.

اوس عزیزې خپل خاوند پریښی دی او دمور او ماما ګانو په مرسته هڅه کوي چې خاوند یې طلاق ورکړي خو سره له دې عزیزه ډیره په ویره کې ده چې خاوند یې بیرته پیدا نه کړي .

## ۶,۸ پایلې

دغې برخې څرګنده کړې چې له دویمې، دریمې ،او څلورمې ښځې سره د سړیو واده کول داسې حالت نه دی چې دوی هغې ته په ډیره لیوالتیا داخلیږي. په همدې توګه هغه ښځې چې سړي له هغوی سره واده کوي دغه حالت ته د داخلیدو لیوالتیا نه لري خو ددې ډول ودونو څخه ځان ساتنه هم اسانه نه ده. له یوه څخه زیات ودونه داسې چاره ده چې د ځانګړیو شرایطو له امله ډیر کسان د هغوی د کولو لپاره اړتیا احساسوي تر څو له دې لارې د ټولنیزو دودونو پیروي وکړي او په کورنۍ کې د نارینه او ښځینه غړو تمې پوره کړي. د دغه څېړنې د مرکه کېدونکو ښځو او سړیو له لیدلورې له یوه څخه زیات ودونه د ژوند لپاره یوه ناسم کورنی جوړښت دی. په داسې حال کې چې له یوه څخه زیات ودونه په اسلام کې روا دي په دې اړه ایز بحث او انفرادي خبرو اترو کې د دا ډول ودونو لپاره یو الزامي شرط د بنو په منځ کې په مساوي توګه چلند بلل شوی او پر دې ټینګار هم شوی دی . که څه هم چې د دا ډول ودونو څخه په راپیداکېدونکو ستونزو هم ټولو باور درلوده. د موضوعي څېړنو څخه په ګټه اخیستنه ، ډیرې داسې بېلګې وموندل شوې، هغه شرایط چې تر هغو لاندې سړي او ښځې د له یوه څخه زیات ودونو پراو ته ننوځي، څرګند وي. د دلایلو څخه لومړي دلیل یعنې نه زیږونه او د کونډو ښځو واده له هغه سړي سره چې د خپل خاوند د کورنۍ څخه وي. دغه دواړه په بشپړ ډول نامناسب دي او په عین حال کې نه مخنیوی کېدونکي هم دي. اولاد درلودل په دې دلیل چې هغوی د مور او پلار د زوړ والي په وخت کې د دوی پالنه او ساتنه وکړي ډېر اړین بلل کیږي او همدارنګه د خاوند د کورنۍ څخه

بهر د یوې کونډې ښځې واده کول هم ډیر شرم بلل کیږي، برسېره پردې په کورنی کې د ننه د کونډې ښځې واده کول د مړه شوې خاوند څخه د پاتې شویو اولادونو د ساتني او ملاتړ لپاره ښه لاره بلل کیږي. کونډه ښځه اړه ده داسې واده ته غاړه کیږدي څکه که دا کار ونه کړي ښايي د اولادونو سرپرستي ورڅخه واخیستل شي او د خاوند کورنی ته ورکړل شي . له یوه څخه د زیاتو ودونو د کولو دریم دلیل له مېرمنو څخه د خاوندانو ناخوښي ده، چې دا دلیل کم پراخوالی لري او د منلو وړ نه دي. لکه چې په ۵ برخه کې وڅېړل شول، د دویمې ښځې سره د واده کولو د دلیل او د زامنو لپاره د اجباري واده کولو په منځ کې اړیکې وپیژندل شوې. د یوه څخه د زیاتو ودونو د کولو څلورم دلیل دا دی چې د لومړني واده په کولو کې څه ځنډ راوستل شي او سړي مجبور شي له بلې ښځې سره واده وکړي خو لا تر دې وخته هم د هغې ښځې سره د واده کولو په اړه چې اول ځل یې ورسره کوژده کړې د مکلفیت احساس کوي . په داسې حال کې چې دا یو نادر حالت وپیژندل شو، سره له دې هم لکه چې څرګنده شوه چې څرنګه د ښځو او نارینه وو تمه کېدونکی چلند کېدای شي له یوه څخه د زیاتو ودونو لامل شي، د دغه حالت یوه بله بېلګه ده چې تر بحث لاندې ونیول شوه. لومړی لامل چې فکر کېږي له یوه څخه په زیاتو ودونو کې د کورني جوړښت لپاره زیان اړونکی وي، هغه ناخوالي دي چې دا ډول ودونه یې په کورنی کې رامنځ ته کوي، چې دغه ناخوالي او شخړې نه یواځې د کورنی په بالغو کسانو بلکه د کورنی په ټولو اولادونو بده اغېزه کوي، سره له دې چې موضوعي څېړنو څرګنده کړې چې د بنو په منځ کې په اغلب ډول سختې شخړې او جنجالونه وي خو استثنايي حالتونه هم شته، چې په هغو کې بنې په ځانګړې ډول د دوی د خاوند د بد چلند په مخنیوي کې یو د بل سره ملاتړ او مرسته کوي. معلوم فکټورونه کله د نوې واده کولو لپاره په پریکړه کې د لومړۍ ښځې شریکول ، د یوه څخه زیاتو ودونو په کولو کې د بنو تر منځ قومي اړیکې، د بنو ترمنځ د سن تفاوت او ښه اقتصادي و ضعیت (چې د خپلو ښځو لپاره د جلا جلا ژوند کولو امکانات برابروي ) دا داسې لاملونه دي، چې کولای شي د احتمالي شخړو او جنجالونو کچه چې له یوه څخه زیاتو ودونو له کبله را پیداکیږي، راټیټه کړي او په عین حال کې د بنو تر منځ د ملاتړ کچه لوړه کړي

## ۹- پايلې او وړانديزونه

دغه څېړنيز رپوټ د افغاني کورنيو په منځ کې د واده د دودونو او د واده په اړه پرېکړې تر بحث لاندې نيسي. د دغه بحث موندنې په شپږو اصلي برخو ويشل کيږي:

- په هغو بهيرونوکې د توپير شتون چې د واده کولو د پريکړو لپاره ترې کټه اخيستل کيږي او د واده د تر سره کولو څرنګوالى؛
- د واده د پرېکړې په وخت کې د واک ورکونې او اړ ايستنې کچه؛
- پر ودونو او د ودونو پر پرېکړو د فرهنګي دودونو د پيروى اغيزې؛
- د فرهنګي نورمونو په اړه د باور او د فردي غوښتنو ترمنځ د توپير شتون؛
- په کورنۍ کې دتاوتريخوالي او د واده د دود تر منځ اړيکې؛
- په ځايي ټولنو کې د ودونو د ځانګړو دودونو د منفي پايلو په اړه پوهاوى او د ودونو هغه دود چې د واده دواړه لوري ( يعني خاوند او ښځه ) په پريکړو کې نه شريکوي.

د دغه بحث په اوږدو کې د يوې کورنۍ په پرتله د بلې کورنۍ د افرادو لپاره د واده د پرېکړو په کولو کې او همدارنګه د خويندو او د ورونو لپاره د واده په پرېکړو کې د پام وړ توپير څرګندېږي. د دغو لاملونو د شتون سره سره چې د واده کولو په پرېکړو اغېزه کوي، د دغه پريکړو بدې پايلې پټې نه دي. په کورني جوړښت کې دغه يواځينى نسلي او جنسيتي اړيکې نه دي چې څرګندوي څوک بايد د واده د پريکړو په پروسه کې شامل وي. بلکه فردي خصوصيات او تجربې هم د ټاکونکو لاملونو په توګه ګڼل کيږي. د کورنۍ څخه بهر هم يو لړ لاملونه لکه سياسي او اقتصادي شرايط هم پيژندل شوي چې د پريکړو په پروسه اغېزه اچوونکي دي. په دغه بحث کې همدارنګه څرګنده شوه هغه کسان چې د ورته وګرنيز شاليد لرونکي وي، د واده د پرېکړو په کولو او د واده د کولو د څرنګوالي په اړه توپير لرونکي ليدلورى لري. د بېلابېلو فکتورونو په پام کې نيولو سره چې په کورنۍ کې د وګړو او کورنۍ له لورې د واده کولو لپاره د پريکړو لامل کيږي، ترلې وګڼو. يواځې ټولنيز خصوصيات لکه د اوسيدو ځاى ( له ښاري او کليوالو څخه عام) ، زده کړه او د ښوزلۍ کچه په لويه اندازه ددې لامل نه شي کيداى له هغه څه سره چې وګړې د واده په اړه په کورنيو کې ځانګړې پريکړې وکړي، ترلې وګڼو. د دې پرځاى که وغواړو د پرېکړو له زيانْ اوړونکي اړخ څخه خبر شو او پر دودونو د بطلان کربنه راکش کړو، نو ژور او توپير لرونکي درک ته اړتيا ده.

د څېړنې په ترڅ کې د انتخاب او اجباري مفهومونه په ښه ډول څرګند شول. لکه څرنګه چې په ٤ مه برخه کې پرې بحث وشو هغه دودونه چې پکې وګړې واده کولو ته داخليږي د انتخاب او اجباري محدوديتونو په يوه لړۍ کې پراته دي او عمل کوي : په داسي حال کې چې يو شمير ودونه په افراطي ډول د دغه محدودي پاي ته (انتخاب او يا اجبار ) رسيږي.زياتره ودونه د ټاکنې او اړ ايستنې دواړه اړخونه لري. ځينې اولادونه ښايي آن که د واده کول ورته د منلو وړ نه وي، د مور او پلار د نه خپه کولو په خاطر که چيرې د کوم ناروا فشار لاندې نه وي موافقت کوي.

په نوروځايونو کې ښايي دخپلو اولادونو دواده کولو په اړه دهغوي دخوښې غوښتونکي نه شي او همدارنګه دا هم ممکنه ده چې کورنى پدې اړه چې آيا اولادونه يې له دې واده کولوڅخه خوښ دي او که نه، څرګنده غبرګون تر لاسه نه کړي. د باخبره اوآزادانه رضايت ورکولو لپاره ديوه کس عمر ديوه مهم معلومونکي لامل په توګه ګڼل کيږي . نو له دې کبله په هماغه ډول چې د واده په ربښتيني عمر باندې تمرکز کول د ډير ارزښت لرونکى دى. د دې په پام کې نيولو سره چې واده يا کوژده به په کوم عمر کې کيږي هم ډير ارزښت لري. کلتوري او ټولنيزې تمې او غوښتنې د دې لامل کيږي چې د وا ده په کولو کې ځينې کسان د زور احساس وکړي او يا دغه احساس هغوى ته لاس ورکوي چې د دوى انتخاب د يوه واده په اړه محدود شوى دى . ۸ برخه دغه موضوع تر څېړنې لاندې نيسي چې په څه ډول ټولنيزې غوښتنې او خاص کلتور او نور دليلونه کيداى شي ددې لامل شي چې افراد پر داسې واده کولو لاس پورې کړي چې د واک او اختيار د لرلو په وخت کې يې د داسې واده له کولو مخنيوى کاوه. د بېلګې په توګه يو سړى په داسې وخت کې چې لومړى ښځه يې نه زيږونکې وي د دې په هيله چې د اولادونو څښتن شي له يوې څخه زياتو ښځو سره واده کولو ته اړ کيږي، پدې حالت کې د ځان لپاره دويمه يا دريمه ښځه غوره کوي . او يوه کونده ښځه د خپلو زامنو د پالنې ، ساتنې او مشرۍ له لاسه ورکولو د مخنيوي په موخه اړه کيږي چې د خپل خاوند له ورور سره واده وکړي او يا دا چې سړى مجبور شي تر څو د خپل ورور له ښځې او يا په کورنۍ کې له بلې کونډې ښځې سره واده وکړي.

په هماغه ډول چې د ۸ برخې بېلګو څرګنده کړه د ټولنيزو غوښتنو او نورمونو پيروي ددې لامل کيږي چې وګړي داسې واده کولو ته اړ کړي چې په خپله د هغه دود په ستونزو خبر وي. له دې کبله څرګنده شوه چې ټولنيز نورمونه، او د جنسيتي چلند غوښتنې د نه انعطاف وړ نه دي او بې ځوابه نه پاتې کيږي ، نو څرګنده ده چې د وګړو فردي غوښتنې د هغو تفسيرونو سره په ټکر کې دي چې دوى يې د شته کلتوري نورمونو له ماهيت څخه د ودونو د ترتيب لپاره لري. دځايي ټولنو په منځ کې د متفاوتو مفکورو طريقه په دې اړه چې په ربښتيا د شته نورمونو ماهيت څه شئ دى لاس ته راغلې دي .پداسې حال کې چې له يوه پلوه دټولنيز و نورمونو څخه انحراف منل شوى دى او شخصي تمايلات ښايي ددې کار بيانونکي وي چې د کلتوري نورمونو بدلون ډير ستونزمن کار دى، له بل لوري دا ثابتوي هغه رواجونه چې د وګړو او ځايي ټو لنو لخوا کارول کيږي دخبرو اترو لپاره يې لار خلاصه پريښودلې ده او دځايي ټولنو يو شمير غړو لخوا دبدلون لپاره

لېوالتيا هم شته. په ځانګړې توګه دژوند د راتلونکي ملګري دټاکلو په اړه د اولادونو دنظر غوښتنې په برخه کې. دوروستيو کلونوپه اوږدو کې دبدلون لپاره دپاملرنې وړ شواهد لاسته راغلي.

د فردي غوښتنو او کلتوري نورمونو تر منځ د واټن پيدا کېدو اصلي لامل د هغو ودونو د پرېکړو په اړه د ورځ تر ورځې زياتېدونکې پوهې کچه ده چې پکې دوړاه واده کېدونکي کسان شريک نه وي. ددغه رپوټ مرکه کېدونکو همدارنګه د ودونو ځينې دودونو او روښونو نا اسلامي ماهيت ته اشاره کړېده. پدې موضوع په ځانګړې توګه په پنځمه او اوومه برخه کې ټينګار شوی دی. په دې برخه کې په واده پورې تړلو پرېکړو کې د اولادونو د نظر غوښتلو او د بدل او ولور د دودونو په اړه د افرادو نظرونه تر بحث لاندې ونيول شول. د واده د شته دودونو په اړه د پوهاوي سره سره بيا هم د ناوړه دودونو د له منځه وړلو، او د ولور د راکړې ورکړې د کړی د شلولو لپاره د حل لارې شتون ډېر کم ؤ.

په شپږمه برخه کې څرګنده شوه چې د اولادونو لپاره د واده کولو لپاره پر مور او پلار د فشار د احساس په اړه زيات دلايل شته چې له هغو اميدونو او هيلو سره چې د خپلو اولادونو د واده کولو لپاره يې درلودل، په ټکر کې دي.

په ۴، ۵، ۶، ۷، ۸ برخو کې د واده د پرېکړو د کولو او ګټه اخيستل شو ځانګړو دودونو تر منځ اړيکې او په کورنيو کې په هغه پسې پيوسته تاوتريخوالی تر څېړنې او بحث لاندې نيول شوې دي. د هلکانو لپاره د اجباري واده کولو او د دوی د مېرمنو په وړاندې دتاوتريخوالي د ډېر چلند تر منځ هم اړيکې وموندل شوې. همدې ته ورته د بدل د ودونو او د زور زياتي تل پاتې کړی په منځ کې اړيکې د هغو ښځو لپاره چې په دې واده کې رد او بدل شوې، و پېژندل شوې. بايد يادونه وشي چې د واده ښکاره دودونه لکه د ښځو بدل، د ولور واده، او د کونډو ښځو واده د خاوند د کورنۍ له غړيو سره په خپله په ټولنه کې د مشهورو جنسيتي نورمونو نښې او په افغاني ټولنه کې د ښځو د ډېر ټيټ موقف بيانونکي دي.دغه نورمونه د يوه خرابوونکي سيستم د يوې برخې په توګه دي، چې هڅه کوي په تلپاتې توګه د زياتو ښځو موقف د کورنيو او لويو ټولنو په منځ کې په ټيټه کچه وساتي. د ودونو د دودونو او په کورنيو کې د تاوتريخوالي د ډېر چلند په منځ کې د اړيکو سره سره ددغه مسالې ياد ساتل يو مهم امر دی چې د تاوتريخوالي د زېږونکي لاملونو ريښې راوسپړو او ويې مومو.

د ښځو او نارينه وو په منځ کې ځينې په غلطه منل شوې باورونه لکه ((افغانه) زيانمنونکي کونډه)) د ننګونو سره مخ شوېده: معلومه شوه چې ځينې ځواکمنې او نفوذ لرونکې ښځې په کورنيو کې سپين سرې کونې ښځې وي.د ډېری پيغلو منل شوې باورونه چې په زور سره واده کولو ته اړ کېږي، دغه خيالي باور چې يواځې پيغلې نجونې د اجباري واده قرباني کيږي، تل پاتې کيږي. په داسې حال کې چې هلکان، سړي او

آن د لوړ عمر لرونکې ښځې هم ددوی د واده په اړه د فشار احساس کوي، سر بېره پر دې چې دغه ټوليز باور، چې يواځې شتمن سړي له يوه څخه زيات ودونه کوي، دا هم د اعتبار له کړی وځي. په اغلب ګمان سړي په بېلابېلو کچو کې د خپلې شتمنۍ څخه په ګټه اخيستلو کولای شي له يوه څخه د زياتو ودونو په اړه د کورنيو او ټولنيزو دودونو د فشار له امله د مکلفيت او اجبار احساس وکړي.

## ۱٫۹ مهمې موندنې

- نسل، جنسيت، کورنۍ جوړښت او موقف ټول د نفوذ او صلاحيت په کچه چې يو کس يې په کورنۍ کې د ننه د پرېکړو کولو لپاره کولای شي ولري، اغېزه کوي.

- د پرېکړو د کولو دودونه چې د واده په اړه د توافق سبب او د واده کولو لپاره يو ځانګړی دود ګرځي، دواړه د بد چلند په کچه چې کورنۍ ته د خاوند او ښځې د داخليدو وروسته زياتېږي، اغېزه لري.

— دا چې کوم ودونه په اجباري او يا نا اجباري ماهيت يادېږي، د ودونو د کولو د څرنګوالي يو ساده توصيف دی. دواړه عنصرونه اجبار او ټاکنه د ودونو د پرېکړو په دودونو کې شته.

- د اجبار او ټاکنې د مسالې په اړ ه- په ځانګړې توګه د باخبره ټاکنې د مسالې په اړه په واده کولو پورې اړوندو پرېکړو کې، هغه عمر ته پاملرنه چې د اولادونو د کوژدې يا واده کولو په اړه پرېکړه او توافق کېږي، په هماغه کچه چې په کې واده په رښتيني توګه سر ته رسي، د ارزښت وړ وي.

-په ټولنه کې د شته جنسيتي نورمونو څخه نه يواځې ښځې ځورېږي،بلکه سړي هم په دې ځورونه کې ورګډ دي، په داسې حال کې چې د هغو ښځو ځورېدنه چې د خپلو خاوندانو د تاوتريخوالي ډېر چلند قرباني شوې دي، نه شي کېدای چې دروغ وبولو، هغه سړي چې اړ شوي په داسې عمر يا وخت کې چې ددوي خوښه نه وي يا د واده کولو لېوالتيا و نه لري، واده وکړي، د دا ډول ودونو پايله يواځې ځورېدنه او ځپګان وي. په کورنيو د تاوتريخوالي ډېر چلند د مخنيوي په هکله د ودونو د پرېکړو په وخت کې پر هغه واک او اړ ايستنه تمرکز شوی چې دوی ته ورکړل شوی ؤ، خورا ارزښت لري.

- په تر څېړنې لاندې ټولنو کې زيات کسان د اولادونو د ودونو په پرېکړو کې د هغوی د نه شمول له بدو پايلو ، او همدارنګه د لونو او زامنو له پاره په زور د دوی د خوښې په خلاف واده کولو له بدو پايلو خبر دي. هغوی همدارنګه د بدل د واده، د ولور د پيسو اخيستلو او له يوه څخه د زياتو ودونو د کولو د زيانونو په اړه هم بشپړه خبرتيا لري.

- د پام وړ شمېر کسان پدې پوهېږي چې ددوی ډېر کلتوري دودونه

لکه د خپلو ودونو په پرېکړو کې د زامنو او لوڼو نه شریکول ، له یوه ځخه د زیاتو ودونو کول او د ناوې د ولور غوښتل د اسلامي اصولو سره مخالف دي.

- په دغه څېړنه کې زیاتره فردي غوښتنې او نظریات د کلتوري نورمونو سره په ټکر کې وو. ښځې او نارینه پدې باور وو چې شخصي نظریات په ځایي ټولنو کې د شته نورمونو او دودونو په پرتله د ژوندانه د رغوونکو، پرمختیا پال، او د نارینه وو او ښځو د حقوقو د انډول پلوي دي.

- د ټولنیزو نورمونو او شخصي نظریاتو په منځ کې توپیر او په نارینه اوښځو باندې د واده د معلومو نورمونو په بدو اغیزو د ځایي ټولنو خبرتیا،دواړه په افغانستان کې د واده په دودونو کې د بدلون د راوستلو لپاره په چمتو والي دلالت کوي. واقعاً په هېواد کې د نسبي ثبات په پایله کې پدې ورستیو کلونو کې ( لږ تر لږه په هغو ولایتونو کې چې دا څېړنه هلته شوېده) ویل کیږي چې د واده لپاره په پرېکړو کې ځینې بدلونونه څرګند شوي دي، چې د هغې پر بنسټ د واده کولو لپاره د پرېکړو بهیر له اړیستنې څخه ټاکنې ته د نږدې کېدو په حال کې ده. پدې صورت کې په کورنیو کې د تاوتریخوالي د ډېر چلند کچه را ټیټوي.

## ۲,۹ مخ ته پرتې لارې

دا ډیره اړینه ده چې د ښځو پروګرامونه، سیاستونه او راپورونه یو له بل څخه جلا شي او په کورنیو کې د ښځو په فردي موقفونو کې دزیات توپیر شته والی په رسمیت وپیژندل شي.د ښځو په منځ کې د ناسمو باورونو له منځه وړل د هغوی له ډلې د کونډو ښځو په اړه، خورا ارزښت لري، او دا موضوع باید ومنل شي چې سرې هم ډول ډول وي.

د پوهې د کچې د لوړوالي لپاره فعالیتونه باید په داسې توګه وشي چې یکې د هغو مسائلو له تکرار څخه چې خلک له هغې څخه خبر لري ځان وژغوري او پر ځای یې د نورو موجودو دودونو په اړه د ودونو کولو او پرېکړو لپاره د هغو محدود یتونو په پام کې نیولو سره چې کورنۍ او خلک ورسره مخ دي، پوهه ورکړل شي. هغه سازمانونه چې په کورنیو کې د تاوتریخوالي ډېک چلند او د واده د زیان اړونکو دودونو سره مبارزه کوي باید د ځایي ټولنو سره د واده د کولو لپاره د منلو وړ عملي او اقتصادي لارو په پیداکولو او د ښځو او نارینه وو د جسمي او روحي زیانونو په کمولو کې مرسته وکړي.

لکه څرنګه چې د بامیانو د ولایت د یوه اوسېدونکي وینا څرګندوي چې په ټولنه کې بدلون راوستل یواځې پخپله د خلکو او ځایي ټولنو له لارې شوني دي.

ځینې دودونه ټولنه له ګواښ سره مخ کوي . اجباري واده د اسلام د احکامو مخالف دي او دغه دود باید له منځه یوړل شي . خلک باید پخپله د دغه ناروا دود په اړه تبلیغات وکړي . د بشر د حقوقو د کمسیون او ولسمشر تبلیغات د دغه دودونو په خلاف اغیزه نه لري او کافي نه دي.

دغې څېړنې وموندله چې خلک د ودونو د دودونو د بدو پایلو او په واده پورې د تړلو پرېکړو په اړه خبرو اترو ته چمتودي. هغه سازمانه چې په دې اړه فعالیت کوي باید ښځو او نارینه وو ته فرصت ورکړي تر څو د دغه مسائلو په اړه بحث وکړي. دغه لاره ځایي ټولنې ته دا فرصت ورکوي چې هغوی پخپله داسې لارې چې د خلکو دغوښتنو او شخصي تمایلاتو په اړه لري، د نورمونو او کلتوري تمه کېدونکو شیانو په ځای چې د دې لامل شوي چې د دوی له امله زیات خلک د واده له ستونزو څخه خبر وي،پیداکړي.

سازمانونه چې په کورنیو کې د ښځو په وړاندې د زور زیاتي څخه ډېک چلند سره د مبارزې په اړه فعالیت لري باید لږ ترلږه په هماغه نږدې برخو کې چې له نارینه وو سره کار کوي، دښځو سره هم کار وکړي.

هغوعمرونو ته چې یکې د افرادو د کوژدې کولو پرېکړې کېږي، او هغو عمرونو ته چې یکې د دوی ودونه د عمل جامې اغوندي باید په یوه ډول پاملرنه وشي.

او په پای کې، په تر څېړنه لاندې ټولنو کې نوي بدلونونه څرګند شوي دي، چې کېدای شي دغه مثبت بدلونونه په هېواد کې له نسبي امن او ټیکاو سره تړلی وګڼو. ترټولو مهمه لار چې دغه بدلونونه روان وساتي، د اقتصادي او سیاسي شرایطو ښه والی دی، او باید د ځایي ټولنو لپاره داسې فضا رامنځته شي چې هغه مطلوبې لارې چې دوی د ودونو په کولو کې غوره کړي، د قانون په ښه راوړې او پدې اړه خپل کار پیل کړي.

**د دغې خپرونې نسخې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له دفتر څخه په وړيا توګه تر لاسه کولاي شئ:**


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د ګل پلورلو سړک (د واټ څنګ) نوی ښار

کابل، افغانستان

ټليفون: +۹۳ (۰) ۷۹۹ ۶۰۸ ۵۴۸

برېښناليک: areu@areu.org.af برېښنا پاڼه: www.areu.org.af

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د ګل پلورلو سړک (د واټ څنګ) نوی ښار

کابل، افغانستان
رښنا پاڼه: www.areu.org.af برېښناليک: areu@areu.org.af ټليفون: ۰۷۹۹۲۰۸۵۸۴ (۰) ۹۳+